# راځئ قران او لمونځ زده کړو

## اسانه لاره

ژباړه: عبدالباقي




بسم الله الرحمن الرحیم

# نیو لیک


| لوست | قرآن او حدیث | قواعد | مخ |
|---|---|---|---|
| | اړینې لارښوونې | | ۱ |
| | د قران د زده کړې د اکاډمۍ ( Understanding Al-Quran Academy) په هکله | | ۳ |
| | سریزه | | ٦ |
| .1 | د پروګرام (کورس) موخې | هُوَ، هُمْ، ... | ۸ |
| .2 | سورة الفاتحه ، آیات: ۱-۳ | هُوَ مُسْلِم، هُمْ مُسْلِمُون، ... | ۱۱ |
| .3 | سورة الفاتحه ، آیات: ٤-٥ | رَبُّهُ،رَبُّهُم، ... | ۱۷ |
| .4 | سورة الفاتحه ، آیات: ٦-۷ | دِينُهُ، ...، كِتَابُهُ،...، هِيَ، رَبُّهَا... | ۱۹ |
| .5 | د قرآن د نزول موخه | لِ، مِنْ، عَنْ، مَعَ | ۲۸ |
| .6 | د قرآن زده کړه اسانه ده | بِ، فِي، عَلَى، إِلَى | ۳٤ |
| .7 | قرآن کریم څرنګه زده کړو؟ | هٰذَا، هٰؤلاء، ذٰلِكَ، أولٰئِكَ | ٤۰ |
| .8 | سورة العصر | مَاضِي: فَعَلَ، فَعَلُوا، فَعَلْتَ، فَعَلْتُمْ، فَعَلْتُ، فَعَلْنَا | ٤٦ |
| .9 | سورة النصر | مُضَارِع: يَفْعَلُ، يَفْعَلُونَ، تَفْعَلُ، تَفْعَلُونَ، أَفْعَلُ، نَفْعَلُ | ٥٤ |
| .10 | سورة الاخلاص | اِفْعَلْ، إِفْعَلُوا، لاَ تَفْعَلْ، لاَ تَفْعَلُوا | ٦۲ |
| .11 | سورة الفلق | فَاعِل، مَفْعُول، فِعْل | ٦۸ |
| .12 | سورة الناس | فَتَحَ، جَعَلَ | ۷٦ |
| .13 | سورة الکافرون | نَصَرَ، خَلَقَ، رَزَقَ، ذَكَرَ | ۸٤ |
| .14 | آذان او اودس | عَبَدَ، دَخَلَ، كَفَرَ | ۹٥ |

| | | | |
|---|---|---|---|
| .15 | ثناء، رکوع او سجده | ضَرَبَ، ظَلَمَ، صَبَرَ، غَفَرَ | ۱۰٦ |
| .16 | تشهّد | سَمِعَ، عَلِمَ، عَمِلَ، رَحِمَ | ۱۱۷ |
| .17 | درود | وَعَدَ، وَجَدَ، وَلَدَ | ۱۲٦ |
| .18 | دعا مخکې له سلام څخه | قَالَ، قَامَ | ۱۳٦ |
| .19 | دعا وروسته له سلام څخه | كَانَ، تَابَ | ۱٤۳ |

# اړینې لارښوونې

**دا درسره یادداښت کړئ:**

- تاسو باید وکولای شی چې د قرآنکریم عربي متن ولوستلای شی تر څو وکولای شی له دې دورې (کورس) څخه ګټه واخلئ.
- دا دوره په بشپړه توګه انفعالي (محاوره اي) ده، نو له همدې کبله هر څه چې اورى يا يې لولى تمرين کړئ.
- که تاسو تيروتنه کوی دا کومه ستونزه نه ده. هيڅوک بې له تيروتنو زده کړه نشي کولاي. د پوره زده کړې لپاره تمرين وکړئ. **دا زرينه او طلايي قاعده په ياد ولرئ:**

**ورته غوږ شوم، هير مې شول. و مې ليدل، په ياد مې شول. تمرين مې وکړ، زده مې کړل. تدريس مې وکړ، پکې ماهر شوم**

**I listen, I forget. I see, I remember. I practice, I learn. I teach, I master.**

- د زده کړې درى پړاونه:
  - بې له توجه کولو څخه غوږ نيول. تاسې يوازې غالمغال اورى.
  - بې له دقت څخه يا له شک سره غوږ نيول. شيطان به تاسو ته دا شک زيږوي چې آيا تاسو کولاى شى زده کړى!
  - په انفعالي توګه غوږ نيول؛ غوږ نيول د زړه له حضور سره (د زړه په غوږونو اوريدل)؛ ژر تر ژره هر ټکي او پوښتني ته ځواب ويل.
- هر لوست په پاى کې پښويه (ګرامر) لري. د ګرامر محتويات نيغ په نيغه له اصلي لوست سره اړيکه نه لري ځکه چې دا چاره کورس پيچلى کوي او د دې اړتيا را منځ ته کوي چې مخکې د سورتونو له مطالعې څخه بايد ګرامر په جلا توګه تدريس شي. د ګرامر برخه تاسو ته د عربي ژبې ګرامر د لوست د لغاتو سره په موازي توګه در زده کوي. د څو درسونو څخه وروسته به تاسو د ګرامر د زده کړې ګټه ووينئ کله چې تاسو سورتونه او اذکار لولئ.

**د لاندې اوو (۷) کورنيو دندوتر سره کول مو هير نه شي.**

**دوې د تلاوت اړوند:**

1. لږ تر لږه د پنځو دقيقو لپاره له مصحف څخه د قرآنکريم تلاوت.
2. لږ تر لږه د پنځو دقيقو لپاره قرآنکريم له يادو لوستل د ګرځيدلو، پخلي.. نورو چارو پر مهال.

**دوې د مطالعې اړوند:**

3. لږ تر لږه د پنځو دقيقو لپاره د دې کتاب مطالعه، د نويو او لومړنيو (زده کونکو) لپاره.
4. د ديرشو ( ۳۰ ) ثانيو لپاره د لغتونو د کتابګوټي يا پاڼې لوستل، غوره ده د هر لمانځه څخه مخکې يا وروسته او يا په بل هر مناسب وخت کې. له الله سره ژمنه او تعهد وکړئ چې د کورس تر پايه به د لغتونو کتابګوټى له ځان سره ګرځوئ.

**دوې نورو ته د غوږ نيولو او له نورو سره د خبرې کولو اړوند:**

5. یو mp3 فایل یا ټیپ اوریدل چې په هغه کې دا تلاوتونه او د هغوي ټکی په ټکی (لفظ پر لفظ) ژباړه شته وي. تاسو کولای شی چې په موټر کې د موټر چلولو پر مهال او په کور کې د کورنیو چارو د تر سره کولو پر مهال ورته غوږ شئ. همدارنګه تاسې کولاي شي د دې دورې محتوپات په خپل ثبت (record) کړئ او بیا-بیا یې واوري.
6. د خپلې کورنی د غړیو، ملګرو یا ټولګیوالو سره لږ تر لږه یوه دقیقه د هغه درس په اړه چې تاسو زده کړی دی خبرې وکړئ.

**او وروستی هغه یې د استعمال اړوند:**

7. په ورځنیو سنتو او نفل لمونځونو کې د لسو ورستیو سورتونو لوستل په دوره اي او تناوبي توګه. دا د دې لپاره چې یو شورة په څو لمونځونو کې په بیا- بیا ډول قرائت نه شي.

د دوو نورو اضافي کورنیو کارونو سپارښتنه هم کیږي. دا یوازې دعاګانې دي.

(i) د تاسو د خپل ځان لپاره**رَبِّ زِدْنِي عِلْمًا** او؛
(ii) د تاسو د ملګرو لپاره، "الله د زمونږ او هغوی سره مرسته وکړئ چې قرآنکریم زده کړو."

د زده کړې تر ټولو غوره لاره درس ورکول دي، او یو چا ته د درس ورکولو غوره لاره دا ده چې له هغه څخه ښوونکی جوړ کړئ.

# د سپيڅلي قرآن د زده کړې د اکاډمۍ (Understanding Al-Quran Academy) په هکله

د اکاډمۍ لنډه پيژنده په لاندې ډول ده.

**د اکاډمۍ ليدلوری**

- مسلمانان بيرته قرآن ته راګرځول او د يو داسې قرآني نسل روزل چې قرآن کريم تلاوت کړي، پرې پوه شي، عمل پرې وکړي او نورو ته يې ورسوي. موخه دا نه ده چې د قرآنکريم پوهان او علماء ورزوي. الحمدالله، ډيرې بنسټونه لا له پخوا څخه دا چاره تر سره کوي. د اکاډمۍ هدف دا دی چې عام خلک د قرآنکريم په بنسټيز او اساسي پيغام وپوهيږي. انشاء الله، مبارک احاديث به هم په دې لړۍ کې تدريس شي.
- موږ هڅه کوو چې د تدريس د نويو لارو او تخنيکونو په کارولو سره د زده کړې پروسه لا ساده او اسانه کړو.
- قرآنکريم معرفي او پيژندنه د تر ټولو په زړه پورې، د ورځنيو چارو او فعاليتونو سره تر ټولو زيات اړوند او مربوط کتاب او د دنيا او آخرت د بريا لپاره د ترټولو غوره کتاب په توګه.

**د اکاډمۍ ماموريت**

- د عربي ژبې تدريس تر څو په تر ټولو ممکنه اسانه لار په قرآن وپوهيږو. موږ دريو مختلفو ميتودونو ته پرمختګ ورکړی د لاندې دريو مختلفو ډلو لپاره: (۱) ماشومان؛ (۲) ځوانان؛ او (۳) لويان.
- د زده کړې د چاپيريال د رامنځ ته کولو لپاره د اسبابو او سرچينو برابرول.

**د دې کار لاملونه**

- کابو ۹۰ سلنه عجم (غير عرب) مسلمانان حتی د قرآنکريم په يوه پاڼه هم نه پوهيږي. که څه هم دوی په يو څو مشخصو کليمو پوهيږي، خو هغوی په جملو نه پوهيږي. په داسې حال کې چې دا کتاب په نړۍ کې تر ټولو زيات لوستل کيږي خو يو له هغو کتابونو څخه دی چې تر ټولو کم خلک پرې پوهيږي!
- د لاندينيو دوو عاملونو او فکتورونو له امله دا اړينه او الزامي ده چې اوسني نسل ته قرآن او مفهوم يې تدريس کړو:
  1. د رسنيوله لارې د مادې پرستۍ او قباحت[بې شرمۍ] (obscenity)حملې.
  2. په اسلام، قرآنکريم او پيغمبر صلي الله عليه والسلم باندې ګذارونه او حملې.
- موږ قرآن د احاديثو او سورتونو سره تدريسو، زموږ نسل به انشاء الله وکولای شي: (۱) د تيروتنو او اشتباهاتو مخ نيوی وکړي، خپل ژوندونه اصلاح او سم کړي او انشاء الله د دوی بنه عادات او کړه وړه به د ټول بشريت لپاره يوه مثبته بيلګه او نمونه وي؛ او (۲) په اغيزناکه توګه د اسلام په اړه ناسم پوهاوی له منځه يوسي او د قرآني لاربښوونو پيروي وکړي ترڅو وکولاي شي "د خپل رب لارې ته ټول په حکمت او موعظه حسنه (په نيکه توګه وعظ) سره راوبولئ."

**د اکاډمۍ پلان**

په اوږد مهال کې زموږ هدف دا دی چې ۱،۳ بیلیون عجم (غیر عرب) مسلمانانو ته ورسیږو او وروسته هغوی د قرآن کریم پیغام ټول بشریت ته ورسوي. د اوس مهال پلان دا دی چې د اسلامي نړۍ لسو ډیرو مهمو ژبو ته د "قرآن کریم زده کړئ" کورسونه وژباړو.

**د تدریس سبک**

نورو ته د هر ډول علم رسولو دوه مهم اړخونه شته دي، انګیزه او میتودولوجي. قرآني آیتونه، احادیث، کیسې، مثالونه او نورو ټکو(لارښوونو - Tips) څخه ګټه اخیستل کیږي تر څو زده کوونکو ته انګیزه ورکړل شي او تحریک شي. د قرآن کریم پیغام د هغوی د عربي ګرامر سره په یوه اغیزناکه او نوښتي (ابتکاري) طریقه، د پاورپوینټ سلایډونو څخه په ګټې اخیستنې سره تدریس کیږي او د لوست د کتابونو (Textbooks)، دتمرین د کتابونو(Workbooks)، پوسټرونو، لوبو (ګیمونو) او د لغتونو له پاڼو څخه ګټه اخیستنه او د هغوی کارونه هم اسانه او ساده ده. همدارنګه په دې کړنلاره کې د نویو طریقو لکه NLP څخه هم ګټه اخیستل کیږي.

**د قرآن پوهنې لپاره د دوو قدمونو کړنلاره**

موږ د قرآن پوهنې لپاره د دوو قدمونو د کړنلارې وړاندیز کوو:

- **لومړۍ دوره (کورس):** تاسو به کابو ۱۲۵ نوې کلیمې زده کړی چې په قرآنکریم کې له ۴۰۰۰۰ ځلو څخه زیات راغلي دي.
- **دوهمه دوره (کورس):** تاسو به ۱۲۵ اضافي کلیمې زده کړی چې په قرآنکریم کې د ۱۵۰۰۰ ځلو څخه زیات راغلي دي.

هره دوره به په لسو ساعتونو کې تدریس شي. په همدې بنسټ ۷۰ سلنه قرآني کلیمې به یوازې د شلو ساعتونو په تدریس کې زده کړل شي! له دې وروسته به د قرآنکریم پوهیدنه په ستره پیمانه اسانه شي. د قرآنکریم په یوه کرښه کې به تاسو یوازې د دوو یا دریو نویو لغتونو زده کړې ته اړ یاست.

تاریخي شالید

په ۱۹۹۰ م کې دې پروژې په کار پیل وکړ او ځینې مهمې مرحلې یې په لاندې توګه یادوو.

۱۹۹۶م د قرآنکریم اسانه قاموس (Easy Dictionary of the Qur’an) کتاب خپرول (له اردو څخه ژباړه).

۱۹۹۸م- د www.understandquran.com ویب پاڼې پرانیستل.

۲۰۰۰م- 80% of Qur’anic words کتابګوټی خپرول.

د A Few Selected Verbs Used in the Qur’an کتابګوټی خپرول.

۲۰۰٤م- د Understand Qur’an – The Easy Way (Level-I) کتاب خپرول.

۲۰۰۵م- د لومړۍ او دوهمې دورې (کورس) د درسونو پیلول.

**غوښتنه**

رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمایلي:" بلّغوا عنّي وَلَو آیة: زما له لوري (زما څخه یې) ولیږدوی که څه هم یوه آیة وي." موږ له تاسو څخه غواړو چې په دې شریف او مبارک ماموریت او دنده کې په هره ممکنه وسیله برخه واخلئ. راځئ چې یوه غښتلې ډله او ټیم جوړ کړو، تر څو دغه مبارک کار سرته ورسو.

د الله څخه غواړو چې زموږ دا کوچنۍ هڅې په خپل دربار کې قبولې کړي او موږ د ریا، لویې او هرډول ګناهنو څخه وژغوري.

ربّنا تقبل منّا إنّك أنت السمیع العلیم، وتُب علینا إنّك أنت التّواب الرّحیم، واغفر لنا، إنّك أنت الغفور الرّحیم.




# سريزه

الحمدُ لله والصّلوة والسّلامُ على الرسول الله وعلى آله وصحبه أجمعيۡن.

رسول الله صلى االله عليه وسلم فرمايلي دي: «خيركم من تعلّم القرآن وعلّمه: غوره ستاسو هغه دی چې قرآنکريم زده کړي او نورو ته يې وښايي». د پيغمبر صلي الله عليه وسلم د دې هڅوني سره سره، د غير عربو مسلمانانو نني حالت داسې دی؛ چې کابو ۹۰ سلنه يې حتی د قرآنکريم په يوه پاڼه هم نه پوهيږي. انشاء الله دا کورس به له هغوی سره مرسته وکړي چې لمونځ او د عربي ژبې بنسټيز ګرامر زده کړي او دا به په قرآن پوهنه کې ستره مرسته وي.

د دې کورس يوه ځانګړنه دا ده چې د دې پرځای چې د تلاوت لپاره هغه برخه غوره کړي چې په ورځنی ژوند کې په ندرت سره استعماليږي، په هغه برخه تکيه کوي چې عامه وي. بلکې طبيعي دا ده چې د هغوی څخه دعربي په تدريس کې استفاده وشي. دا کړنلاره څو ګټې لري:

- يو مسلمان تقريباً له ۱۵۰ څخه تر ۲۰۰ پورې عربي کليمې يا د ۵۰ جملو په حدودو کې په ورځنيو لمونځونو کې په تکرار او بيا ځلي توګه لولي. د دغو جملو په پوهيدلو سره به هغه وتوانيږي چې بې له کومې ځانګړې هڅې څخه خپل ځان د عربي ژبې له بنسټيز او اساسي جوړښت سره بلد کړي.
- هغه به يو طلايي موکه او فرصت ولري چې دا (څه يې چې زده کړي يې دي) له الله سره هره ورځ په خبرو کولو سره تمرين کړي!
- هغه به په خپله د لومړی لوست څخه د دې ګټې درک کړي.
- هغه به ډير ژر دلمانځه په جريان کې په توجه، تمرکز او له الله سره په اړيکه کې پرمختګ په خپله احساس کړي.

د دې کورس بله مهمه ځانګړنه د عربي ګرامر د تدريس طريقه ده. څرنګه چې د دې کورس موخه دا ده چې هغوی په قرآنکريم سره له ژباړې وپوهيږي، زياته پاملرنه په دې کورس کې صرف ته کيږي. د TPI (Total Physical Interaction)له يو ساده خو قوي تکنيک او مهارت څخه د فعلونو، نومونو او ضميرونو د مختلفو بڼو د تدريس لپاره ګټه اخيستل کيږي. په ياد ولرئ چې دا يو مقدماتي کورس دی او تاسو به په راتلونکی کې وکولای شی چې د عربي ګرامر پرمختللي کتابونه ولولی.

د دې کورس په پای ته رسولو سره به تاسو ۱۲۵ کليمې زده کړی چې په قرآن کريم کې له ۴۰۰۰۰ ځلو څخه زيات راغلي دي (کابو د ۷۸۰۰۰ کليمو له جملې څخه). په بله اصطلاح، تاسو به تقريباً په ۵۰ سلنه قرآني کليمو وپوهيږی. دا په دې مانا نه دي چې تاسو به په ۵۰ سلنه قرآنکريم پوهيږی، ځکه چې تاسوبه ممکن په هر آيت کې له يوې نوې کليمې سره مخ شی. که څه هم تاسو به د دې کورس په پای کې په قرآنکريم پوهه تر ډيره اسانه شي.

ډاکټر عبدالعزيز دا کورس په لاندې هيوادونو کې تدريس کړی دی:

- هندوستان: د هندوستان په لويو ښارونو کې د حيدر آباد، مدارس، ممبيي، بنګلور، ډهلي، پونا، اورنګ آباد، اعظم ګرهـ، بريلي، بيدر او داسې نورو په شمول.
- سعودي عربستان: په مکه مکرمه (دوه ځله)، جده، رياض، ، دمام، خبر، خفجي او أبها کې.
- خليج هيوادونه: څو ځله په بحرين، دُبئ او کويټ کې.
- انګلستان: په لندن، ريډنګ، مانچسټر، برمنګهم او ايډنبرګ کې.

- سویلي افریقا: شیخ احمد دیدات په ښار، دربن او پریتوریا کې.

همدارنګه دا کورس په نورو هېوادونو کې د هغو خلکو له خوا تدریس شوی دی چې د ډاکټر عبدالعزیز عبدالرحمن څخه يي لوستی دی او یا یي په خپله زده کړی دی. لکه؛ متحده آیالات، کاناډا، بریتانیا، پاکستان، سیوډن، دعاج ساحل، مالیزیا، اندونیزیا، جرمني، فرانسه او داسي نور.

**د کورس ژباړه:** دا کورس په اردو، بنګالي، ترکي، فرنسوي، هسپانوي، اندونیزیايي، چینایي، پرتقالي،هندي، ملیالم، تامل او تلګو ژبو ژباړل شوی دی.

**په ټلوېزیون:** دا کورس په پیس **(Peace)** نړیواله ټلوېزیوني شبکه او د **ETV** نړیوال ټلویزیون په اردو چینل خپور شوی دی. د حیدرآباد په سیمیزو ټلویزیوني شبکو لکه ٤ چینل او نورو هم د رمضان په میاشت کې خپور شوی دی.

**په انټرنټ (www.understandquran.com):** د متحده ایالاتو، کاناډا، بریتانیي، ترکیي، مالیزیا، اندونیزیا، بنګلدیش او سویلي افریقا په زرګونو اوسیدونکي او په نورو هیوادونو کې په سلګونو کسان د بریښنالیک له لارې د لومړنی کورس څخه مستفید شوي دي.ویب سایټ، هره میاشت په لسګونو زره کتونکي لري. کله چې تاسو د **"Learn Qur`an"**، **" Understand Qur`an "** او یا **"Qur`anic Arabic"** په شان کلیمي په ګوګل کې ولټوئ، تاسو به دا ویب سایټ به د لست په پورتنیو او کله کله هم لومړی ویب سایټ وي. په مختلفو هیوادونو لکه متحده آیالاتو، کاناډا، بریتانیا... کې خلک له پخوا څخه په ټولیو او اجتماع ګانو کې دا ویب سایټ وړاندیز کوي. او داسي معلومیږي چې په نړیواله سطحه د قرآنکریم د زده کړې په ډګر کې یو له خورا مشهور ویب پاڼو څخه ده.

انشاء الله د زده کړې پر مهال به تاسو ته جوته شي چې دا یو اسانه، په زړه پورې او اغیزمن کورس دی. الله د زمونږ دا کوچني کوښښونه قبول کړي. له تاسو څخه غوښتنه کوو چې دا کورس په هر مسجد، ښوونځي، مدرسه، سازمان، ځای او کورنۍ چې تاسو یې پیژنئ، ورته معرفي کړئ، په دې سره به امت ته داسي یو روند ورپیژندل شوی وي چې په ترڅ کې به یې لومنځ او قرآنکریم په ښه توګه زده کړي.

په یاد ولرئ، په ژباړه کې په کوچنیو قوسونو "( )" کې لیکل شوي اضافي لغات د لا ښې پوهیدنې لپاره دي. په متوسطو قوسونو"[ ]" کې هغه کلیمي لیکل شوي دي چې په عربي دي او نه دي ژباړل شوي او د دې لپاره هم استعمال شوي دي چې له قرآنکریم او احادیثو څخه ماخذ وښیي.

الله دې مونږ ته د تیروتنو ښنه وکړي. او د تیروتنو د لیدلو په صورت کې خبر راکړئ، تر څو په راتلونکیو چاپونو کې یې سم او اصلاح کړو.

عبدالعزیز عبدالرحمن (abdulazeez@understandquran.com)

نومبر ٢٤، ٢٠١٠ م




د دې درس په پای ته رسولو سره،

تاسو به ٦ **نوي** لغتونه زده کړی، چې **١٢٩٥** ځله په قرآنکريم کې راغلي دي.

# لومړی لوست: سريزه

**د کورس موخې:**

- په قرآنکريم پوهه اسانه کول.
- په اغيزناکه توګه لمونځ کول او په خپلو ژوندونو کې يې اغيزې ليدل.
- تاسې هڅول چې قرآن په بيا- بيا په داسې توګه تلاوت کړئ چې پرې وپوهيږئ.
- له قرآن سره انفعال، د بيلګې په توګه څرنګه په خپل ژوند کې قرآنکريم عملي کړو؟
- د ډليز کار روحيه را منځ ته کول چې نيکې چارې سرته ورسوي.

**د قران پوهه او که د عربي ژبې زده کړه؟**

زمونږ په کړنلاره کې دري ستر توپيرونه شته:

١: موږ يې له لمانځه څخه پيلوو، ځکه چې موږ هره ورځ تقريباً يو ساعت د پنځو لمونځونو په اداء کولو تيرو.

٢: موږ په غوږنيولو او لوستلو تمرکز کوو، ځکه موږ هره ورځ قرآن تلاوت کوو او غوږ ورته نيسو.

٣: زموږ زيات تمرکز په لغتونو دی، ځکه دا يوه طبيعي کړنلاره ده لکه څرنګه چې دا هماغه طريقه ده چې ماشوم پرې زده کړه کوي.

**<u>پيښويه (ګرامر):</u>**

په دې لوست کې موږ شپږ کليمې زده کوو: هُوَ ، هُمْ، أَنْتَ، أَنْتُمْ، أَنَا، نَحْنُ . دا شپږ کليمې **<u>١٢٩٥ ځله</u>** په قرآنکريم کې راغلي دي! د TPI تي پي آی (Total Physical Interaction)په کارولو سره دا زده کړئ، خپل ټول حسونه په کار واچوئ. تاسو دا اوری، وينی يې، فکر پرې کوی، وايي يې او ښيي يې. ډاډ تر لاسه کړئ چې تاسو غفلت نه په کې کوی او په پوره توجه او مينه سره د هغه تمرين کوی.

1. کله چې تاسو **هُوَ** (هغه) وايئ، د ښي لاس د شهادت په ګوته ښي لوري ته داسې اشاره وکړئ لکه خپل څنګ ته مو چې کوم کس ناست وي. کله چې **هُمْ** (هغوی) وايئ، د ښي لاس په څلورو ګوته ښي لوري ته اشاره وکړئ. په يوه ټولګی، زده کوونکی او ښوونکی دواړه په ګډه سره دا چاره سرته رسوي.
2. کله چې تاسو **أَنْتَ** (ته، تاسو- مفرد)وايئ، د ښي لاس د شهادت په ګوته مخامخ ته داسې اشاره وکړئ لکه تاسو ته چې مخامخ کوم کس ناست وي. کله چې تاسو **أَنْتُمْ** (تاسو ټول- جمع) وايئ، د ښي لاس په څلورو ګوته مخامخ لوري ته اشاره وکړئ. په ټولګي کې ښوونکی بايد د زده کوونکو لور ته او زده کوونکي بايد د ښوونکی لور ته اشاره وکړي.

**<u>د تمرين لپاره لارښووني:</u>** د لومړيو دريو مرتبو لپاره دا شپږ کليمې د ژباړې سره تمرين کړئ، لکه: تنها وښيئ او وواېئ **هُو** هغه، **هُمْ**هغوی،**أَنْتَ** ته،**أَنْتُمْ** تاسو، **أَنَا** زه ، **نَحْنُ** موږ. په داسې حال کې چې تاسو بايد په لاس سره وښيئ چې ستاسو مطلب څه دی، تاسو اړ نه ياست چې له دريمې دورې وروسته هغه وژباړئ. يوازې په عربي يې وواېئ،

| شخصي ضميرونه | | شمير | شخص |
|---|---|---|---|
| هفه | **هُوَ** 481 | مفرد | دريم شخص (غايب) |
| هغوی | **هُمْ** 444 | جمع | |

لکه، **هُوَ**، **هُمْ**، **اَنتَ**، **اَنتَمْ**، **اَنا**، **نحْنَ.** دا د **TPI** له ګټو څخه يوه بيړنۍ ګټه ده.

پورتنيو مرحلو ته ادامه ورکړئ، بې له دې چې هغه لغتونه وژباړئ. د **TPI** څخه په استفاده د پنځو دقيقو تمرين به تاسو د دې شپږو کليمو زده کړه ډيره اسانه کړي!!!

په دې مهال کې د ترمينالوجۍ (لومړی شخص، دوهم شخص، دريم شخص....) د زده کړې په اړه سوچ مه کوئ، يوازې دغو شپږو کليمو او د هغوی مانا ته پام کوئ.

| | | | |
|---|---|---|---|
| ته | **أَنْتَ**[81] | مفرد | دوهم شخص (حاضر) |
| تاسو | **أَنْتُمْ**[135] | جمع | |
| زه | **أَنَا**[68] | مفرد | لومړی شخص (متکلم) |
| موږ | **نَحْنُ**[86] | دوه جمع | |

3. کله چې تاسو **أَنَا**(زه) وايئ، د ښي لاس د شهادت په ګوته خپل ځان ته اشاره وکړئ. کله چې **نَحْنُ**(موږ) وايئ، د ښي لاس په څلورو ګوته خپلو ځانونو ته اشاره وکړئ. په يوه ټولګی، زده کوونکی او ښوونکی دواړه په ګډه سره دا چاره سرته رسوي.




## لومړی لوست: سريزه

۱ پوښتنه: په قرآنکريم کې څومره لغتونه او ريښې شته؟

ځواب:

۲ پوښتنه: د دې کورس اهداف څه دي؟

ځواب:

۳ پوښتنه: د دې کورس (د لمانځه سره) په پيلولو سره تاسو کومې ګټې ترلاسه کوئ؟

ځواب:

٤ پوښتنه: په دې کورس کې د ګرامر پر ځای پر لغتونو زيات ټينګار او تاکيد شوی، ولې؟

ځواب:

۵ پوښتنه: په دې کورس کې د عربي ژبې په لوستلو او ورته غوږ نيولو يا په ليکلو او پرې خبرې کولو زيات تېينګار شوی، ولې؟

ځواب:

## د لومړي لوست اړوند د ګرامر پوښتنې

۱ پوښتنه: لاندې خالي ځايونه په هُوَ، هُمْ، أَنْتَ، أَنْتُم، أَنَا، نَحْن کليمو سره ډک کړئ، لږ تر لږه هر کليمه درې ځله استعمال کړئ.

| شخص | عدد | ژباړه | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| دريم | - مفردواحد | هغه | | | |
| غائب | جمع | هغوی | | | |
| دوهم | - مفردواحد | ته | | | |
| حاضر | جمع | تاسو | | | |
| اول | - مفردواحد | زه | | | |
| متکلّم | جمع او دوه | موږ | | | |

۲پوښتنه: لاندېعربيلغتونهپهاجزاووويشئاومانايېوليکئ. (وَ = او، فَ= همدارنګه)

| | |
|---|---|
| **فَهُوَ =فَ+ هُوَ** | همدارنګه هغه |
| **فَأَنْتَ** | |

۳ پوښتنه: لاندې عبارات عربي ته وژباړئ.

| | |
|---|---|
| همدارنګه هغوی | |
| او تاسو (ټول) | |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ځکه نو موږ | | وَهُمْ | |
| او هغه | | فَأَنَا | |
| ځکه نو ته | | وَنَحْنُ | |




د دوهم درس په پای ته رسولو سره،
تاسو به ١٤ **نوي** لغتونه زده کړی، چې **٤٥١١** ځله په قرآنکریم کې راغلي دي.

## ۲. سورة الفاتحه (۱-۳ آیتونه)

د لاندې جدول په لومړي کرښه (ردیف) کې، عربي متن درکړل شوی دی. په دوهمه کرښه کې ټکی په ټکی ژباړه لیکل شوې ده. په دریمه کرښه کې دغو لغتونه ته توضیحات ورکړل شوي دي او په څلورمه کرښه کې د عربي متن ژباړه ده. لومړی عربي متن په بشپړه توګه ولولئ، وروسته بیا هره کلیمه د مانا سره ولولئ، په پای کې د ټول عربي متن بشپړه ژباړه ولولئ.

کله چې موږ قرآنکریم تلاوا کوو، لومړی باید دا ووایو:

| أَعُوذُ | بِاللهِ (2702) | | مِنَ (88) الشَّيْطَانِ | الرَّجِيمِ . |
|---|---|---|---|---|
| پناه غواړم | په الله | | له شيطان، | رټل شوی. |
| **خوندیتوب؛ ساتنه؛ او حمایت تر لاسه کول** | **بِ** | **الله** | **مِنْ: له**<br>**له ۳۰۰۰ ځله ځخه زیات په قرآن کریم کې شته.** | **آیا تاسو فکر کوی چې شیطان د الله له رحم څخه برخمن دی؟ هغه شړل شوی؛ رټل شوی؛ د الله له رحمت ځخه محروم شوی دی.** |
| | په | الله | | |
| **ژباړه:** الله ته پناه وروړم له رټل شوي شیطان څخه. | | | | |

- لومړی د هغه بې اطمیناني، تزلزلزل او ناخوندیتوب په اړه سوچ وکړئ چې د شیطان د تیریو او حملو په پایله کې رامنځ ته کیږي. هغه په پرله پسې او دوامداره توګه کار او هڅې کوي، په زړونو کې وسوسې اچوي تر څو موږ د الله نافرماني وکړو.
- کله چې د الله نوم یادېږي د خوښی، هیلې او ویړې احساس وکړئ.
- که څه هم الله پاس په اسمانونو کې دی، خو موږ ته ډېر نږدې دی. هغه حتی په دې هم پوهیږي چې موږ د څه شي په اړه فکر کوو.
- د شیطان او دوو پرښتو د حضور احساس وکړئ چې تل له موږ سره دي.
- موږ شیطان نه شو وهلای، نه یې وژلی شو او نه یې قانع کولای شو چې سم شي. هغه تل هڅه کوي چې موږ د الله له لارې څخه وباسي. یوازینی حل د اعوذ بالله.... ویل دي.
- ولې د رجیم کلیمه یاده شوه؟ ځکه موږ همیشه د هغه حالت په خپل ذهن کې ژوندی ساتو، دغه رجیم غواړي چې موږ د هغه پیروي وکړو او د هغه په شان شو.

اوس راځئ چې سورة الفاتحه پیل کړو.

| 39 | | | 57 | 182 |
|---|---|---|---|---|
| بِسْمِ | | اللهِ | الرَّحْمٰنِ | الرَّحِيْمِ ٪(1٪) |
| په نامه | | (د) الله، | ډېر مهربان، | خورا رحم لرونکی. |
| بِ | اِسْمِ | زموږ د خالق (پیداکوونکي) نوم الله دی. نور نومونه لکه رحمن، رب... د ستاینې او صفت لپاره دي. | دا ډول لغتونه شدت، سختي او زیاتوالی ښیي. ډېرتږی.**عطشان** ډېر په قهر.**غضبان** ډېر وږی.**جوعان** ډېر مهربان.**رحمن** | په دا ډول کلیمو کې تسلسل ښودل کیږي. ښایسته**جمیل** نیک اخلاق.**کریم** همیشنی رحم کوونکی.الرَّحِيْمِ |
| په | نامه | | | |
| ژباړه: د الله په نامه چې ډېر مهربان او خورا رحم لرونکی دی. | | | | |

- د الله نومونه مبارک دي. یوازې د هغه (الله) په یادولو سره هغه موږ یادوي. کله چې هغه موږ یاد کړي بیا د خپلو کارونو د پایلو په اړه د کومې اندېښنې خبره نشته.
- له خپل ځان سره د الله د مرستې، نعمتونو، پیرزوینو، مینې او مهربانۍ تصور وکړئ.
- د الله د همیشني رحم احساس وکړي، حتی که تاسو وېده هم یاست.
- د هر کار په پیل کې چې بسم الله وایی، د پوره ډاډ او هیله مندۍ احساس ولرئ؛ داسې احساس وکړئ چې زیات رحم او مهرباني له تاسو سره دی.

| 43 | | | | 73 |
|---|---|---|---|---|
| اَلْحَمْدُ | لِلهِ | | رَبِّ | الْعٰلَمِيْنَ ٪(2٪)ۙ |
| ټوله ثنا او ستاینه | الله لره دي | | چې پالونکی دی | د عالمیانو |
| د **حمْدُ**ماناگانې<br>ستاینې، صفتونه او شکر | لِ | الله | زموږ پالنه کوي او مرسته راسره کوي چې لوی شو. د بیلیونونو حجرو ښخه د هرې یوې پالنه کوي. | **عَالَم** عالم<br>**عَالَمِین** عالمونه |
| | لپاره | الله | | |
| | الله لره (لپاره) دي. | | | |
| **ژباړه:**ټوله ثنا ستاینه یوازې الله ته ده چې د ټولو مخلوقاتو پالونکي دی. | | | | |

- په زړه سره د الله حمد ووایئ، چې هغه ډېر لوی، زیات مهربان... دی.
- د هغه د نعمتونو او پیرزوینو شکر اداء کړئ. د ځینو څیزونو په اړه فکر وکړئ. هغه ستاسو ساتنه کوي، هغه تاسو ته روزي درکوي، هغه تاسو ته دا موکه درکوي چې تاسو هغه ته دعا او عبادت وکړئ، او داسې نور.
- د هغه د ستروالی تصور او احساس کړئ. هغه د انسانانو، ملایکو، جنیاتو، کهکشانونو او نورو ټولو هغه عالمونو رب دی چې الله ته معلوم دي.
- ارزونه وکړئ چې څو ځله زه د دنیا تر اغیز لاندې راغلی یم او دا مې هیر کړي چې ووایم " ټولې ستاینې یوازې الله لره ښایي"؟ څومره مې هغه په یاد وي او د هغه شکر اداء کوم؟

| الرَّحْمٰنِ | الرَّحِيْمِ٪(3٪)ۙ |
|---|---|
| ډېر مهربان | خورا رحم لرونکی |
| **ژباړه:** چې ډېر مهربان او خورا رحم لرونکی دی. | |

- دا لغتونه مخکې په بسم الله کې تشریح شول.
- الله ډېر مهربان دي، او په هم مهالي توګه د هغه رحم مداوم هم دی.
- په تاسو باندې د الله د رحم په اړه فکر وکړي او د هغه د دوامداره پیرزوینو او نعمتونو پداسې حال کې چې ځینې زموږ څخه د هغه سرغړونه هم کوو.
- له خپلې کورنۍ، ملګرو، ګاونډیانو او همکارانو سره په مهربانۍ چلیږئ. همدا نن او هره ورځ چې تاسو دا آیة اورئ او یا یې تلاوت کوئ دا چاره ترسره کړئ. پیغمبر صلي الله علیه وسلم فرمایي:" هغه کس چې په نورو رحم ونه کړي، الله به په هغه رحم و نه کړي." [بخاري].

**ګرامر:** په عربي ژبه کې هره کلیمه له د دریو ډولونو څخه یوه ده.

1. اسْم (نوم): نوم (مثلاً: كِتَاب، مَكَّة) یا یو ستاینوم (مثلاً: مُسْلِم، مُؤْمِن)
2. فِعْل عمل ښیي (مثلاً: فَتَحَ، نَصَرُوا)
3. حَرْف اسمونه یا فعلونه سره نښلوي (مثلاً: بِ، لِ، مِنْ، فِي، إن).

راځئ چې ځینې نومونه زده کړو او دا زده کړو چې څرنګه اسمونه جمع کیږي. هره ژبه د جمع کولو ځانګړې طریقه لري. په انګلیسي کې اسمونه د S په زیاتولو سره جمع کیږي. په عربي کې اسمونه د هغوی په پای کې د "ون" او "ین" په زیاتولو سره جمع کیږي. د جمع کولو لپاره ځینې نور قوانین هم شته چې وروسته به یې انشاء الله زده کړو.

راځئ تمرین وکړو په لوړ آوز لږ تر لږه د دریو ځلو لپاره.

| مفرد | | جمع |
|---|---|---|
| **مُسْلِمْ** | ← | مُسْلِمُون، مُسْلِمِين |
| **مُؤْمِن** | ← | مُؤْمِنُون، مُؤْمِنِين |

| مفرد | | جمع |
|---|---|---|
| **كَافِر** | ← | كَافِرُون ،كَافِرِين |
| **مُشْرِك** | ← | مُشْرِكُون، مُشْرِكِين |

| | | |
|---|---|---|
| **صَالِح** | ← | صَالِحُون ، صَالِحِين |

| | | |
|---|---|---|
| **مُنَافِق** [32] | ← | مُنَافِقُون، مُنَافِقِين |

راحئ چې هغه قوانين چې په تير لوست کې مو زده کړل، عملي يې کړو، لکه، هُوَ، هُمْ، أَنْتَ، أَنْتُمْ، أَنَا، نَحْن.

| شخص | شمير | ضميرونه په مثالونو کې. | |
|---|---|---|---|
| دريم شخص | مفرد | **هُوَ مُسْلِم** | هغه مسلمان دی. |
| | جمع | **هُمْ مُسْلِمُونَ** | هغوی مسلمانان دي. |
| دوهم شخص | مفرد | **أَنْتَ مُسْلِم** | ته مسلمان يې. |
| | جمع | **أَنْتُمْ مُسْلِمُونَ** | تاسو مسلمانان ياست. |
| لومړی شخص | مفرد | **أَنَا مُسْلِم** | زه مسلمان يم. |
| | جمع دوه | **نَحْنُ مُسْلِمُونَ** | موږ مسلمانان يو. |

د لومړيو دريو مرتبو لپاره دا شپږ کليمې د ژباړې سره تمرين کړئ، لکه: تنها وښيئ او ووايئ **هُوَ مُسْلِم** هغه يو مسلمان دی، **ه هُمْ مُسْلِمُون** هغوی مسلمانان دي او داسې نور. تاسو اړ نه ياست چې له دريمې دورې وروسته هغه وژباړئ، ځکه تاسو په لاسونو سره ښايې چې مطلب مو څه دی. يوازې ووايئ، **هُوَ مُسْلِم، هُمْ مُسْلِمُون** او داسې نور.دا د **TPI** له کتو څخه يوه بيړنۍ کتنه ده.

پورتنيو مرحلو ته ادامه ورکړئ، بې له دې چې هغه لغتونه وژباړئ. د **TPI** څخه په استفاده د پنځو دقيقو تمرين به تاسو د دې شپږو جملو او نورو څيزونو زده کړه ډيره اسانه کړي!!!

په دې مهال کې د ټرمينالوجۍ د زده کړې په اړه سوچ مه کوئ، يوازې دغو شپږو جملو او د هغوی مانا ته پام کوئ.




## دوهم لوست: سورة الفاتحه

۱ ښوونه: لاندې عبارات وژباړئ.

أَعُوذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ .

| | | | |
|---|---|---|---|

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ٪(1٪)

| | | | |
|---|---|---|---|

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ٪(2٪)ۙ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ٪(3٪)ۙ

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|

٢ پوښتنه: کله چې موږ تعوذ وایو باید څه ډول احساس ولرو؟

ځواب:

٣ پوښتنه: تاسو د الله ستاینه څه ډول کوی، (بې د الحمدالله له ویلو څخه) مثالونه ورکړئ.

ځواب:

٤ پوښتنه: د الرحمن او الرحیم د مانا تر منځ توپیر واضیح کړئ.

ځواب:

٥ پوښتنه: الله د عالمونو پالونکی دی. دری مختلف عالمونه وښایاست.

ځواب:

# د دوهم لوست اړوند د ګرامر پوښتنې

۱ پوښتنه: لاندې مثالونه د مُسلِم لپاره حل شوي، په جدول کې د دوو نورو کلیمو لپاره خالي ځایونه ډک کړئ.

| شخص | شمیر | مُسلِم | مُؤْمِنْ | صَالِحْ |
|---|---|---|---|---|
| دریم غائب | واحد - مفرد | هُوَ مُسْلِم | | |
| | جمع | هُمْ مُسْلِمُون | | |
| دوهم حاضر | واحد - مفرد | أَنْتَ مُسْلِم | | |
| | جمع | أَنْتُمْ مُسْلِمُون | | |
| لومړی متکلّم | واحد - مفرد | أَنَا مُسْلِم | | |
| | جمع دوه | نَحْنُ مُسْلِمُون | | |

۲ پ:
لاندېعربيلغتونهپهاجزاووويشئاومانايېوليکئ.
(وَ = او، فَ= همدارنګه)

| | |
|---|---|
| مِنَ اللهِ= مِنَ +اللهِ | د الله له لوري |
| **هُوَ رَبٌّ** | |
| **فَهُوَ مُؤْمِنٌ** | |
| **فَاللهُ** | |
| **فَلِلّٰهِ** | |

۳ پ: لاندې عبارات عربي ته وژباړئ.

| | |
|---|---|
| همدارنګه هغوی ټول مسلمانان دي. | |
| او موږ مؤمنان یو. | |
| او زه پناه اخلم. | |
| تاسو ټول ښه خلک یاست. | |
| هغه له الله سره شریکان نیسي. | |




د دريم درس په پای ته رسولو سره،
تاسو به ۱۸ **نوي** لغتونه زده کړی، چې
۵۹۹۰ ځله په قرآنکريم کې راغلي دي.

# ۳. سورة الفاتحه (٤-٥آيتونه)

﴿أعوذ بالله من الشيطان الرجيم﴾﴿بسم الله الرحمن الرحيم﴾

| 92<br>الدِّيْنِ٪(4٪)ط | 393*<br>يَوْمِ | مٰلِكِ |
|---|---|---|
| **(د) سزا.** | **(د) ورځې** | **څښتن** |
| دين دوې ماناګانې لرې.<br>1. د ژوند تيرولو لاره.<br>2. قضاوت يا سزا | يَوْمُ الْجُمُعَةِ، يَوْمُ الْقِيَامَةِ<br>د يَوْم جمع أَيَّام دی. | مٰلِك: څښتن<br>مَلَك (مَلاَئِكَة [جمع]):پرښتنه<br>مَلِك: پاچا |
| **ژباړه:** د سزا د ورځې څښتن دی. | | |

- الله د هر څه څښتن دی، حتی د نن ورځې هم، خو هغه په دې نړۍ کې موږ ته هم ځيني اختيارات راکړي دي. په هغه ورځ به هيڅوک څه واک ونلري.
- الله جل جلاله په عبس سورة کې فرمايي چې په هغه ورځ به هر سړی له خپل ورور، مور، پلار او زوی څخه تښتي. دا ورځ به د ګنهګارانو لپاره ډيره سخته ورځ وي.
- د سزا ورځ زموږ په ژوند کې يوه له تر ټولو مهمه ورځو څخه ده. لکه څرنګه چې په ښوونيز کال کې په ښوونځي کې د پايلو د اعلان ورځ يو زده کوونکی ته تر نورو ورځو څخه زيات اهميت لري.
- الله جل جلاله د خپل رحم پر اساس موږ مسلمانان کړو، بې له دې چې له موږ څخه وپوښتي. اوس موږ له هغه څخه د جنت غوښتنه کوو. او موږ هيله من يو چې الله به جنت هم زموږ نصيب کړي. موږ بايد د دې آيت په اوريدلو سره د خوښۍ احساس وکړو.
- په دې وخت کې، زموږ ګناهونه بايد موږ وويروي او له دې لمانځه څخه وروسته موږ په ژوند کې بدلون ته اړ کړي.

| نَسْتَعِيْنُ٪(5٪)ط | | | وَاِيَّاكَ | نَعْبُدُ | *24<br>اِيَّاكَ | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| **څخه مرسته غواړو.** | **او يوازې ستا** | | | **عبادت کوو** | **يوازې ستا** | |
| په عبادت او د بلې هرې چارې په سرته رسولو کې موږ د الله د مرستې | كَ | اِيَّا | وَ | عِبَادَة: عبادت<br>عَابِد: عبادت کوونکی | كَ | اِيَّا |
| | سنا | يوازې | او | | سنا | يوازې |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | | مَعبود: هغه څوک چې عبادت یې کیږي، د عبادت وړ. | | | | اړ يو. |
| **ژباړه:** یوازې **ستا** عبادت کوو او یوازې **ستا** څخه مرسته غواړو. | | | | | | |

- دا د یو مسلمان دنده ده! د ژوند موخه د الله تعالی عبادت دی. الله تعالی فرمایي: او ما پیریان او انسانان نه دي پیدا کړي مګر د خپل عبادت لپاره. (٥١:٥٦)
- عبادت څه شی دی؟ لمونځ، روژه، زکات، حج، اسلام ته بلنه (دعوت)، په نیکیو امر، له بدیو او منکراتو څخه منع او داسې نور. حتی مطالعه، زده کړه، کار او مزدوري، نورو ته خدمت کول .... هم عبادت دی که یوازې د الله د رضا لپاره تر سره شي.
- په عبادت کې، لمونځ اول ځای لري. که یو څوک لمونځ پرېږدي (ترک کوي یې)، خپل دین خرابوي.
- موږ ډېر ناتوانه، اړ او محتاج یو؛ تر دې چې بې د الله له مرستې څخه خپله تنده هم نه شو رفع کولی، نو بې د هغه له مرستې څخه به دهغه عبادت څه ډول تر سره کړو؟
- اې الله! زه ستا مرستې ته اړ یم تر څو ستا عبادت وکړم په دې لمانځه او نورو ټولو هغو چارو کې چې زه یې تر بل لمانځه سرته رسوم، لکه؛ مطالعه، کار، پیر او پلور او داسې نور.
- د خپل زړه له تل څخه الله یاد کړئ: " اې الله! له ماسره مرسته وکړه تر څو په ښه توګه ستا عبادت وکړم." دا دعا به د دې کتاب په وروستی لوست کې ولوستل شي.

ګرامر: په تیر لوست کې، تاسو د (هغه، هغوی، ته، تاسو، زه او موږ) لپاره کلیمې زده کړې. په دې لوست کې به موږ ( د هغه، د هغوی، ستا، ستاسو، زما او زموږ) کلیمې زده کړو. په حقیقت کې دا په عربي کې کلیمې نه دي، بلکې هغوی د اسمونو، فعلونو او اضافي توکو لپاره وروستاړي دي. په دې بنسټ موږ د رَبّ(خدای، پالونکی او روزونکی) اسم سره د هغوی د تړاو (یوځایوالی) بڼې لولو.

په یاد ولرئ چې دا تړاونه (یوځایوالي) په قرآنکریم کې تقریباً ١٠٠٠٠ ځلې راغلي دي! دا (کلیمې) ډېرې اړینې دي. ډاډه اوسئ چې تاسې به یې تر پایه په بشپړه توګه تمرین کوئ. د رَبّ کلیمه ٩٧٠ ځله په قرآنکریم کې راغلې ده.

| شخص | عدد | متصله/ ملکي ضمیرونه | | رَبّ + ... | |
|---|---|---|---|---|---|
| دریم شخص | مفرد | ـهٗ ـهِ | د هغه | رَبُّهٗ رَبِّهٖ | د هغه رب |
| | جمع | ـهُمْ ـهِم | د هغوی | رَبُّهُمْ رَبِّهِمْ | د هغوی رب |
| دوهم شخص | مفرد | ـكَ | ستا | رَبُّكَ | ستا رب |
| | جمع | ـكُمْ | ستاسو | رَبُّكُمْ | ستاسو رب |
| لومړی شخص | مفرد | ـِي | زما | رَبِّي | زما رب |
| | جمع دوه | ـنَا | زموږ | رَبُّنَا | زموږ رب |

یادښت: د ګرامر لوست د لوستل شوي سورة سره نیغ په نیغه اړیکه نه لري. دا به ډېره ستونزمه وي چې د سورة اړوند ګرامر مخکې د ګرامري قواعدو له زده کړې، تحلیل کړئ. موږ به په هر لوست کې، د سورتونو د لغتونو تر څنګ ساده ګرامري اصول هم زده کړو. کله چې تاسو پر مختګ وکړ تاسو به په عربي متن او لیکنو کې د دې ګرامري اصولو کارونه هم ووینئ.




## دریم لوست: سورة الفاتحه (٤-٥آیتونه)

١ پوښتنه: لاندې عبارات وژباړئ.

مٰلِكِ　　　يَوْمِ　　　الدِّيْنِ٪(٪4٪)ط

| | | |
|---|---|---|
| | | |

اِيَّاكَ　　　نَعْبُدُ　　　وَاِيَّاكَ　　　نَسْتَعِيْنُ٪(٪5٪)ط

| | | | |
|---|---|---|---|
| | | | |

٢ پوښتنه: د سزا ورځې ته موږ باید څه ډول تیاری ونیسو؟

ځواب:

٣ پوښتنه: دین څه مانا؟

ځواب:

٤ پوښتنه: زموږ د ژوند څخه موخه څه ده؟

ځواب:

٥پ: د الله مرسته د څه لپاره غواړو؟

ځواب:

# د دریم لوست اړوند د ګرامر پوښتنې

ا پوښتنه: لاندې مثالونه د رَبّ لپاره حل شوي، په جدول کې د دریو نورو کلیمو لپاره خالي ځایونه ډک کړئ.

| شخص | شمیر | رَبّ | کتاب | دین | آیات |
|---|---|---|---|---|---|
| دریم غائب | واحد- مفرد | ـهٗ ، رَبُّهٗ | | | |
| | جمع | ـهُمْ ، رَبُّهُمْ | | | |
| دوهم حاضر | واحد- مفرد | ـكَ،رَبُّك | | | |
| | جمع | ـكُمْ،رَبُّكُمْ | | | |
| لومړی متکلّم | واحد- مفرد | ـِي،رَبِّي | | | |
| | جمع دوه | ـنَا،رَبُّنَا | | | |

۲پوښتنه:
لاندیعربیلغتونهپهاجزاووویشئاوماناییولیکئ. (وَ = او، فَ= همدارنګه)

| | |
|---|---|
| اِسْمُهٗ | |
| اللهُ رَبُّنَا وَرَبُّكُمْ | |
| يَوْمُهُمْ | |
| **فَرَبُّكَ** | |
| مِنْ رَّبِّهِمْ | |

۳ پوښتنه: لاندې عبارات عربي ته وژباړئ.

| | |
|---|---|
| او د هغوی دین | |
| او هغه زموږ خدای دی | |
| ته زما رب یې. | |
| ستا خدای مهربان دی. | |
| موږ مرسته غواړو. | |




د څلورم درس په پای ته رسولو سره،
تاسو به **۲٤ نوي** لغتونه زده کړی، چې
**۹۱۱۸** ځله په قرآنکریم کې راغلي دي.

# ٤. سورة الفاتحه (٦-٧ آيتونه)

﴿أعوذ بالله من الشيطان الرجيم﴾ ﴿بسم الله الرحمن الرحيم﴾

| اهْدِنَا | | الصِّرَاطَ 46 | الْمُسْتَقِيْمَ ٪(6٪)ۙ 37 |
|---|---|---|---|
| **لارښوونه وکړې زموږ** | | **په لاره** | **مستقيمه.** |
| اِهْدِ | نَا | لار، یا مسیر؛ (سړک نه) | مستقيم، نيغ |
| لارښوونه، هدايت | زموږ | | |
| **ژباړه:** موږ ته نيغه (مستقيمه) لار وښايئ. | | | |

- که مسلماني او هدايت يو شی وي (مسلمان هدايت شوی وي)، بيا نو دا دعا د کفارو لپاره ده! مسلمانيدل د لارښووني او رهنمائی لومړنی مرحله او ګام دی. اوس نو موږ دې دعا ته اړ يو چې د ژوند په هره مرحله او برخه کې د اسلام پيروي وکړو.
- د هدايت منبع او سرچينه قرآن او نبوي احاديث دي. که چيرې موږ هغه (قرآن او سنت) ونه لولو، نو آيا موږ په خپلو لمونځونو کې رښتيني او صادق يو؟ هر لمونځ زموږ لپاره يوه خبرتيا ده چې په قرآن پوهيدل نه يوازې چې ضروري بلکې حتمي دي! د الفاتحې سورة څخه وروسته تاسو او يا امام سمدلاسه د قرآنکريم څو آيتونه تلاوت کوي چې دا د الله له لوري په همغه شيبه کې يوه اندازه لارښوونه ده.
- اې الله! ما ته لارښوونه وکړئ چې لمونځ په غوره توګه اداء کړم.
- اې الله! ما ته په هر هغه څه کې چې زه يې په ژوند کې روان کال، همدا مياشت، اونۍ او نن تر سره کوم لارښوونه وکړئ.
- اې الله! ما ته لارښوونه وکړئ په هغه چارو کې چې زه يې له دې لمانځه وروسته په کور، دفتر، بازار او بل هر ځای کې سر ته رسوم.

| صِرَاط | الَّذِينَ 1080 | أَنْعَمْتَ | عَلَيْهِمْ ٪لا | |
|---|---|---|---|---|
| **لاره** | **د هغو کسانو** | **چې تا پيرزوينه کړېده** | **په هغوی؛** | |
| **الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيم** مستقيمه لاره | الَّذِينَ: ۱۰۸۰ ځله په قرآن کريم کې راغلی. | **إِنْعَام:** پيرزوينه، نعمت | عَلَى | هِمْ |
| | | | په | هغوی |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | | | | |
| **ژباړه:** د هغو کسانو لار چې تا پرې پيرزوينه کړې. | | | | |

- الله په چا پيرزوينه کړې؟ په پيغمبرانو، صديقينو، شهداءو او په صالحانو. ولې؟ ځکه هغوی په نيغه لار غوره او پرې روان شوي وو.
- د هغوی لاره کومه وه؟ هغه له لاندې برخو څخه جوړه شوې ده:
  1. اعمال: د زړه عملونه لکه عقيده، اخلاص، د الله مينه او په يوازيتوب کې د هغه وېره. فزيکي عملونه لکه لمونځ، روژه، صدقه، زکات، حج.
  2. اسلام ته دعوت او بلنه.
  3. تزکيه؛ د فردي او ټولنيزو منظمو هڅو په ترڅ کې د خپلو روحونو، جسمونو، کورنيو او ټولنو د پاکۍ هڅې. او
  4. په ټولنه کې اسلام ته عملي بڼه ورکول، په نيکيو امر او له بديو څخه منع.
- که چيرې نن يو صالح او نيک کس ژوندی وی، ما به هم له دې لمانځه څخه وروسته د هغه په شان اعمال سرته رسول، نو اې الله! ما ته هم توفيق راکړې چې د هغه په څېر نيک اعمال او د خير چارې تر سره کړم.
- **ارزونه وکړئ:** موږ په کومه لار روان يو؟
- **اراده وکړئ** چې نور به په پورتنيو ټولو ممکنو برخو کې سمه لار غوره کوئ.

| 147 | | | | 1732 | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| غَيْرِ | الْمَغْضُوبِ | عَلَيْهِمْ | | وَلاَ | | الضَّآلِّيْنَ ٪(٪7)ۓ |
| **نه** | **د هغو چې (ستا) غضب (نازل) شوی** | **په هغوی** | | **او نه د** | | **گمراهانو.** |
| نه؛ بې له | مَظْلُوم : چې تيری پرې شوی وي. مَغْضُوب: چې قهر او غضب پرې شوی وي. | عَلی | هِمْ | وَ | لاَ | ضَالّ : گمراه، بې لارې ضَالُّون،ضَالِّينيې‌جمعده. د (ون ,ين) په زياتو سره مو جمع حالت منځ ته راوړ. |
| | | په | هغوې | او | نه | |
| **ژباړه:** نه د هغو کسانو چې (ستا) غضب پر هغوی شوی او نه د گمراهانو. | | | | | | |

لومړي ډله (چې غضب پرې شوی):

- هغوی چې پوهيږي خو عمل نه کوي. يوازې په دنيا او آخرت کې د هغوی د خطرناک پای تصور وکړئ.
- د ننيو فتنو د ډولونو، اتلانو او رهبرانوته نظر وکړئ. په مخلصانه اوربنتيني توگه له الله څخه سوال وکړه چې موږ د هغوی له حالت څخه وژغوري او د هغو په شان نه شو.

دوهمه ډله ( هغوی چې لار يې ورکه کړې او گمراه شوي دي)

- ➢ د هغو خلکو په اړه فکر وکړئ چې لار ورکي  او ګمراه شوي دي او په اخلاص الله ته  دعا وکړه چې موږ له داسې حالت (ګمراهۍ) څخه وژغوري.
- ➢ داسې نه چې موږ د هغو له ډلې څخه وشمیرل شو چې ګمراه شوي په داسې حال کې چې له موږ سره قرآن شته خو موږ نه دی لو ستی او یا موږ وخت نه لرو! (له دې کربنې موخه هغه مسلمانان دي چې په ناسمه لار روان دي. ژباړن)
- ➢ آیا موږ له دې امله له قرآن څخه لرې پاتې شوي یو چې په عربي نه پوهیږو؟ راځئ چې نن دا هوډ وکړو چې دا د قرآني عربي درسونه به نه پرېږدو.

**دعا:** اې الله! زموږ سره مرسته وکړه چې په سمه لار لاړ شو که موږ ته معلومه وي، او که موږ ته معلومه نه وي موږ ته يې وښايه او پوهه يې را ته په برخه کړه.

هڅه وکړئ چې هر کله سورة الفاتحه تلاوت کوی دا قدسي حدیث را په یاد کړئ. پیغمبر صلي الله علیه وسلم فرمایلي چې الله جل جلاله وفرمایل: ما لمونځ د ځان او د بنده تر منځ ویشلی دی. نیم زما لپاره دی او نیم د هغه لپاره او زه هغه ته هغه څه ورکوم  چې غوښتنه یې کوي.

- کله چې بنده **الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ**ووایي، ورپسې الله وایي: "**حمدني عبدي**" چې مانا يې ده: زما بنده زما حمد (ستاینه) وکړه، او
- کله چې هغه **الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ** ووایي، ورپسې الله وايي:" **مجّدني عبدي**"چې مانا يې ده: زما بنده زما ثناء بیان کړه، او
- کله چې هغه **مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ**ووایي، ورپسې الله وایي: " **مجّدني عبدي**"  چې مانا يې ده: زما بنده زما تمجید وکړ، او
- کله چې هغه **إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ** ووایي، ورپسې الله وایي: چې دا زما  او زما د بنده تر منځ دی او هغه چې هر څه وغواړي، ور به يې  کړم، او
- کله چې بنده **صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلا الضَّالِّينَ** ووایي، ورپسې الله وایي:  دا زما د بنده لپاره دی او د هغه لپاره دي هر هغه څه چې هغه يې غواړي.

[صحیح مسلم له ابو هريرة رضي الله عنه څخه روایت کړی دی. د حدیث شمیره: ۵۹۸]

**<u>ګرامر:</u>** راځئ هغه قواعد چې په تیرو درسونو کې مو زده کړل، په دوو نورو نومونو دین او کتاب یې هم عملي کړو.

| شخص | شمير | متصله/ ملکي | دِين + | | كِتَاب + | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| دريم غائب | واحد- مفرد | ـهٗ ـهٖ د هغه | دِينُهٗ | د هغه دين | كِتَابُهٗ | د هغه كتاب |
| | جمع | ـهُمْ ـهِم د هغوی | دِينُهُمْ | د هغوی دين | كِتَابُهُمْ | د هغوی كتاب |
| دوهم حاضر | واحد- مفرد | ـكَ ستا | دِينُكَ | ستا دين | كِتَابُكَ | ستا كتاب |
| | جمع | كُمْ ستاسو | دِينُكُمْ | ستاسو دين | كِتَابُكُمْ | ستاسو كتاب |
| لومړی | واحد- مفرد | ـِي زما | دِينِي | زما دين | كِتَابِي | زما كتاب |

| متکلّم | جمع دوه | ـنَا زموږ | دِيْنُنَا | زموږ دين | كِتَابُنَا | زموږ کتاب |
|---|---|---|---|---|---|---|

راځئ چې ښځينه (مؤنث) بڼې يې هم زده کړو:

**هِيَ** هغه (ښځه): په قرآنکريم کې ٦٦ ځله دا کليمه کارول شوې ده.

**رَبُّهَا:** د هغې رب،**دِيْنُهَا:** د هغې دين،**كِتَابُهَا:** د هغې کتاب

د زياتره نومونو په پای کې يوازې "ة" اضافه کوو، تر څو د هغوی مؤنث جوړ کړو. او د هغوی د جمع حالت د جوړولو اصل دا دی چې په پای کې د "ة" په لرې کولو سره "ات" اضافه کوو، لکه څرنګه چې لاندې ښودل شوي دي. نور قواعد هم شته چې وروسته به ولوستل شي.

| مفرد مذکر | | مفرد مؤنث | جمع مؤنث |
|---|---|---|---|
| **مُسْلِمْ** | ← | **مُسْلِمَة** | **مُسْلِمَات** |
| **مُؤْمِن** | ← | **مُؤْمِنَة** | **مُؤْمِنَات** |
| **صَالِح** | ← | **صَالِحَة** | **صَالِحَات** |

| مفرد مذکر | | مفرد مؤنث | جمع مؤنث |
|---|---|---|---|
| **كَافِر** | ← | **كَافِرَة** | **كَافِرَات** |
| **مُشْرِك** | ← | **مُشْرِكَة** | **مُشْرِكَات** |
| **مُنَافِق** | ← | **مُنَافِقَة** | **مُنَافِقَات** |




## ځلورم لوست: سورة الفاتحه (٦-٧ آیتونه)

١ پوښتنه: لاندې عبارات وژباړئ.

| الْمُسْتَقِيْمَ ٪(6٪)ۙ | الصِّرَاطَ | اهْدِنَا |
|---|---|---|
| | | |

| عَلَيْهِمْ٪لاۙ | أَنْعَمْتَ | الَّذِينَ | صِرَاطَ |
|---|---|---|---|
| | | | |

| الضَّآلِّيْنَ ٪(7٪)ۧ | وَلاَ | عَلَيْهِمْ | الْمَغْضُوبِ | غَيْرِ |
|---|---|---|---|---|
| | | | | |

٢ پوښتنه: څو موږ ته لارښوونه کولای شي؟

ځواب:

٣ پوښتنه: په کومو ډلو د الله پیرزوینه شوې ده؟

ځواب:

٤ پوښتنه: د المغضوب او الضالین تر منځ توپیر بیان کړئ.

ځواب:

٥ پوښتنه: د اِهْدِنَا په کلیمه کې نَا څه مانا؟

ځواب:

# د څلورم لوست اړوند د ګرامر پوښتنې

۱ پوښتنه:

الف: له لاندې اسمونو سره د "هغې" وروستاړی وتړئ، لکه څرنګه چې په مثال کې ښودل شوي.

| اسم | اسم + ها |
|---|---|
| رَبٌّ | رَبُّها |
| دِيْنٌ | |
| كِتَابٌ | |
| ايَات | |
| اِسْمٌ | |
| صِرَاطٌ | |

ب: د لاندې اسمونو ښځينه (مؤنث) او جمع حالت وليکئ.

| مذكر | مؤنث | جمع |
|---|---|---|
| مُسْلِمٌ | | |
| كَافِرٌ | | |
| مُشْرِكٌ | | |
| عَابِدٌ | | |
| صَالِحٌ | | |
| مُنَافِقٌ | | |

۲پوښتنه:
لاندېعربيلغتونهپهاجزاووويشئاومانايېوليکئ.

| | |
|---|---|
| ضَالٌّ | |
| وَالَّذِيْنَ | |
| فَعَلَيْهِمْ | |
| رَبُّكُمْ وَ دِيْنُكُمْ | |
| وَدِيْنُنَا | |

۳ پوښتنه: لاندې عبارات عربي ته وژباړئ.

| | |
|---|---|
| زموږ دين او زموږ كتاب | |
| ستا خداى او د هغه كتاب | |
| قرآن زموږ كتاب دى | |
| د هغوى دين او د هغوى كتاب | |
| زما خداى او زما كتاب | |

دعا تبليغ
تصور
احساس
ارزونه ارادہ

د پنځم درس په پای ته رسولو سره،
تاسو به **۳۲ نوي** لغتونه زده کړی، چې **۱۶۲۹۶** ځله په قرآنکريم کې راغلي دي.

# ۵. د قرآنكريم د نزول موخه

﴿أعوذ بالله من الشيطان الرجيم﴾ ﴿بسم الله الرحمن الرحيم﴾

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| *261<br>كِتٰبٌ | اَنْزَلْنٰهُ | | اِلَيْكَ | | مُبٰرَكٌ |
| **(دا دی) یو کتاب** | **موږ نازل کړ په تا باندې** | | **په تا (ای محمده! صلي الله عليه وسلم)** | | **مبارک (له برکتونو څخه ډک)** |
| د کِتَاب جمع کُتُب دی. | **أَنْزَلْنَا** | **هُ** | **إِلَى** | **كَ** | لکه چې موږ وایو: عِید مُبَارَك (اختر مو مبارک؛ نیکمرغه او له برکتونو څخه ډک اختر ولرئ) |
| | موږ نازل کړ | دغه | په | تا | |
| **ژباړه:** موږ په تا باندې مبارک کتاب نازل کړ. | | | | | |

- الله لا مخکې دا ويلي دي چې دا یو مبارک کتاب دی. او د هغې د نزول موخه وروسته بیان شوې ده. که موږ غواړو چې د دې کتاب برکتونه حاصل او تر لاسه کړو، باید هغه څه تر سره کړو د کومو څیزونو لپاره چې دا کتاب نازل شوی دی.

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| لِّيَدَّبَّرُوْٓا | | *382<br>اٰيٰتِهٖ | | وَلِيَتَذَكَّرَ | | | 43<br>اُولُوا الْاَلْبَابِ *(29*)<br>(سورة ص) | |
| **چې هغوی غور وکړي** | | **د هغه په آیتونو کې** | | **او تر څو (هغوی) پند (نصیحت) واخلي** | | | **د عقل خاوندان.** | |
| **لِ** | **يَدَّبَّرُوا** | **آيَات** | **هِ** | **وَ** | **لِ** | **يَتَذَكَّر** | **أُولُوا،أُولِي** | **أَلْبَاب** |
| تر څو | هغوی غور،فکر وکړي | آیتونه | د هغه | او | تر څو | هغوپند واخلي | ښبتنان، خاوندان | پوهیږي، عقل لري |
| **تَدَبُّر:** غور کول، تفکر | | **آيَة:** آية، نښه<br>**آيَات**د آيَة جمع دی. | | | | | **لُبّ:** پوهه، عقل<br>د **لُبّ**جمع**أَلْبَاب دي.** | |

**ژباړه:** تر څو هغوی یې په ایتونو کې فکر وکړئ او تر څو د عقل خاوندان پند واخلي.

- قرآنکریم د دوو موخو لپاره نازل شوی دی: (۱) د تفکر (فکرکولو) لپاره؛ (۲) د هغې څخه د پند او درس اخیستلو لپاره.
- د تفکر مانا فکر، غور او سوچ پرې کول دي. تاسو د ورځپاڼې لوستلو په وخت اړ نه یاست چې فکر وکړئ. د هغې یو ځلې لوستل کافي دي تر څو د هغې پیغام تر لاسه کړو. مګر تاسو کولای شئ د ساینس، ریاضیاتو یا د سوداګرۍ کوم کتاب په دې ډول مطالعه کړئ؟ نه! تاسو باید لوستل ودروئ او فکر پرې وکړئ.
- په قرآن کریم کې د فکر او غور کولو لپاره موږ لومړی باید په هغه پوه شو!
- د تذکر اخیستلو مانا دا ده چې موږ درس او پند اخیستل دي. د دې چارې لپاره تاسو باید د هغه په اوامرو عمل وکړئ او له نواهیو څخه یې ځانونه وساتئ.
- کله مو چې پورته یاد دوه کارونه تر سره کړل، بیا نو که د الله رضا وه، موږ به د قرآن په وسیله د دنیا او آخرت برکتونه تر لاسه کړو.

راځئ مخکې له تفکر څخه، لومړی د قرآن کریم سره په خپلې اړیکې او تړاو وپوهیږو.

| ۱. مستقیمDirect | ۲. شخصي Personal | ۳. پلان شوی Planned | متعلق،اړوند Relevant |
|---|---|---|---|
| قرآن د الله عزوجل کلام دی. هرکله چې تاسو هغه اورئ او یا یې تلاوت کوئ داسې **احساس** ولرئ چې الله په مستقیمه توګه ما ته خطاب کوي. هغه ما ویني چې څه ډول زه دهغه په کلام عمل کوم! | د قرآن کریم هر آیة زما لپاره دی. داسې مه وایئ چې دا د کافر، مشرک یا منافق لپاره دی. زه باید دا وګورم چې په دې آیة کې زما لپاره څه دی! ولې الله ما ته د دې خطاب وکړ؟ | هر دانه د یو چا (یو شی) لپاره ټاکل (په تقدیر) شوې چې ویې خوري! په همدې ډول هره آیة د یو چا لپاره معینه شوې چې غوږ ورته ونیسي او یا یې تلاوت کړي. هر څیز د تقدیر یوه برخه ده او هیڅ شی تصادفي نه دي. | قرآن یوه یادونه او تذکر دی. آیا د الله تعالی یادونه بې تړاوه ( بې ربطه) کیدای شي؟ موږ باید وپوښتو چې اې الله! ولې د زه د دې جوګه کړم چې نن زه دا آیة (آیتونه) تلاوت کړم یا یې واورم؟ |

د فکر کولو ځینې اړین شرایط په لاندې توګه دي. تاسو باید:

| ۱. تمرکز وکړئ | ۲. وپوهیږئ | ۳. تصور وکړئ | ٤. احساس وکړئ |
|---|---|---|---|
| په بشپړه توګه تمرکز وکړئ، حتی که تاسو نشی کولای چې په یوبشپړ آیت وپوهیږئ. هڅه وکړئ چې هره هغه کلیمه چې پرې | له الله څخه بښنه وغواړئ که تاسو نشی کولای چې په هغه وپوهیږی. دا ژمنه مو له سره تازه کړئ چې قرآن | په هر ځای کې چې ممکن وي له خپل تخیل او تصور څخه کار واخلئ، په ځانګړې توګه کله چې تاسو د الله | د خپلې وېرېو مینې، درناوي، مننې،... نورو احساساتو څخه کار واخلئ کله چې تاسو په دې ارتباط آیتونه |

| | | | |
|---|---|---|---|
| پوهيدای شئ زده يې کړئ! | کريم زده کوی. | د آيتونو (نښو)، د خلقت، تاريخ، اسمان، جنت، دوزخ،...سره تړلي (مربوط) آيتونه اوری. | اوری. د بيلګې په توګه کله چې تاسو د جنت په اړه آيت اوری هيجاني او هيله مند شئ او کله چې د دوزخ په تړاو اورئ د وېرې او ډار احساس وکړئ. |

د قرآن څخه د پند اخيستلو، يا زموږ په ژوند کې د قرآن د عملي کولو لپاره، تاسو بايد:

| ۱. دعا | ۲. ارزونه | ۳. اراده | ٤. تبليغ |
|---|---|---|---|
| د قرآنکريم هر آيت زموږ څخه د يو څه غوښتنه او تقاضا کوي. د دې لپاره چې هغه تر سره کړئ، د الله څخه په مرسته غوښتلو پيل وکړئ تر څو تاسو هغه سر ته ورسوئ. | د هغه څه په رڼا کې چې تاسو غوښتي، خپل د پرون ورځې يا د تيرې اونۍ کړنې او اعمال و ارزوئ. که مو مخکې تر سره کول د الله شکر اداء کړئ؛ او که مو سر ته نه رسول له الله څخه بښنه وغواړئ. | د سبا او يا راتلونکي اونۍ لپاره دا پلان ونيسه او اراده وکړه چې دا اعمال به سر ته رسوې. | رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمايلي:" بلّغوا عنّي وَلَو آية: زما له لوري (زما څخه يې) ولیږدوی که څه هم يوه آية وي." هغه څه چې زده کړي مو دي په غوره لار يې تبليغ او نورو ته يې ورسوئ. |

**هغه څلور مرحلې چې د هر لوست په پيل کې کېن لوري ته ښودل شوي دي، تاسو هغه بايد له ياده و نه باسئ. " تصور او "احساس" د قرآنکريم د اوريدلو او تلاوت کولو پر مهال د هغوی د اهميت له کبله په مينځ کې ليکل شوي دي.**

هڅه وکړئ چې لږ تر لږه د هغوی څخه دا دری په ياد ولرئ: تصور، احساس او غوښتل. ان شاء الله تاسو به په راتلونکو لوستونو کې نور هم زده کړي چې دا فورمول څرنګه عملي کړئ.

**<u>ګرامر:</u>**مخکې مو ولوستل چې په عربي ژبه کې هره کليمه له د دريو ډولونو څخه يوه ده.

1. اسْم (نوم): نوم (مثلاً: كِتَاب، مَكَّة) يا يو ستاينوم (مثلاً: مُسْلِم، مُؤْمِن)
2. فِعْل عمل ښيي (مثلاً: فَتَحَ، نَصَرُوا)
3. حَرْف اسمونه يا فعلونه سره نښلوي (مثلاً: بِ، لِ، مِنْ، فِي، إن).

په تير لوست کې مو څو **<u>اسمونه</u>** او د هغوی جمع کول زده کړل. په دې درس کې به موږ دا **<u>حروف</u>** زده کړو:**لَ، مِنْ، عَنْ، مَعَ.** دری لومړنی **(لَ، مِنْ، عَنْ)** يې اضافه توري (prepositions) دي. مانا يې د مثالونو سره چې لاندې درکړل شوي دي ، زده کړئ. د دغو مثالونو زده کړه د ذکر شو حرفونو د ماناګانو په يادولو کې ډېر ګټور دي. په لاندې مثال کې، د **إنّ**کليمه ۱۵۳۲ ځله په قرآن کريم کې راغلې ده!

| حرف | مثال |
|---|---|
| لَ، لِ لپاره | لَكُمْ دِينُكُمْ وَلِيَ دِينِ — ستاسو **لپاره** ستاسو دين او زما **لپاره** زما دين. |
| مِن له، له لوري | أَعُوذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ — زه پناه غواړم په الله **له** شيطان رټل شوي څخه. |
| عَن څخه | رَضِيَ اللهُ عَنهُ — الله د له هغه **څخه** راضي شي. |
| مَعَ سره | إِنَّ اللهَ مَعَ الصَّابِرِينَ — په حقيقت کې الله له صبرکوونکو **سره** دی. |

په ياد ولرئ چې دا حرفونه نورې ماناګانې هم ورکولی شي، نظر متن ته.

د لاندې جدول کلیمات **۴۹۶۰ یا تقریباً ۵۰۰۰ ځله** راغلي دي. د TPI څخه کار واخلئ او هغوی (لاندې کلیمات) په بشپړه توګه تمرين کړئ.

| لَ لپاره | | مِنْ له، له لوري | | عَنْ څخه | | مَعَ سره | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| لَهُ | د هغه لپاره | مِنْهُ | له هغه | عَنْهُ | د هغه څخه | مَعَهُ | د هغه سره |
| لَهُمْ | د هغوی لپاره | مِنْهُمْ | له هغوی | عَنْهُمْ | د هغوی څخه | مَعَهُمْ | د هغوی سره |
| لَكَ | ستا لپاره | مِنْكَ | له تا | عَنْكَ | د تا څخه | مَعَكَ | د تا سره |
| لَكُمْ | ستاسو لپاره | مِنْكُمْ | له تاسو | عَنْكُمْ | د تاسو څخه | مَعَكُمْ | د تاسو سره |
| لِي | زما لپاره | مِنِّي | له ما | عَنِّي | زما څخه | مَعِي | زما سره |
| لَنَا | زموږ لپاره | مِنَّا | له موږ | عَنَّا | زموږ څخه | مَعَنَا | زموږ سره |
| لَهَا | د هغې لپاره | مِنْهَا | له هغې | عَنْهَا | د هغې څخه | مَعَهَا | د هغې سره |




# پنځم لوست: د قرآنکریم د نزول موخه

۱پوښتنه: لاندې عبارت وژباړئ.

| كِتٰبٌ | اَنْزَلْنٰهُ | اِلَيْكَ | مُبٰرَكٌ |
|---|---|---|---|
| | | | |

| لِّيَدَّبَّرُوْٓا | اٰيٰتِهٖ | وَلِيَتَذَكَّرَ | اُولُوا الْاَلْبَابِ (*29)* |
|---|---|---|---|
| | | | |

۲پوښتنه: تَدَبُّر سره له يو مثال تشريح کړئ.

ځواب:

۳پوښتنه: د تَذَکُّرمانا د يو مثال سره بيان کړئ.

ځواب:

٤پوښتنه: دقرآنسرهزمومدتړاوخلورګونیابعاد (اړخونه) تشریح کړئ.

ځواب:

٥پوښتنه: د تَذَکُّر او تَدَبُّر څخه مخکې کوم څلور شرطونه اړين دي، تشريح يې کړئ.

ځواب:

# د پنځم لوست اړوند د ګرامر پوښتنې

۱ پوښتنه: لاندې مثالونه د لَ لپاره حل شوي، په جدول کې د مِنْ، عَنْ، مَعَ کلیمو لپاره خالي ځایونه ډک کړئ.

| شخص | ضمیر | ل | من | عن | مع |
|---|---|---|---|---|---|
| دریم غائب | واحد | لَهٗ | | | |
| | جمع | لَهُمْ | | | |
| دوهم حاضر | واحد | لَكَ | | | |
| | جمع | لَكُمْ | | | |
| لومړی متکلّم | واحد | لِي | | | |
| | جمع مثنی | لَنَا | | | |
| غائب | واحد مؤنث | لَهَا | | | |

تصور
احساس

۲پوښتنه:
لاندېعربيلغتونهپهاجزاووويشئاومانايېوليکئ.

| | |
|---|---|
| اللهُ مَعَنَا | |
| فَلَهُمْ | |
| وَلَنَا | |
| فَمِنْكُمْ | |
| فَلَهَا | |

۳ پوښتنه: لاندې عبارات عربي ته وژباړئ.

| | |
|---|---|
| الله د له تا څخه راضي شي. | |
| ستا توم | |
| او له تا څخه | |
| او د هغوی لپاره | |
| قرآن زما سره دی. | |

| دعا تبلیغ | |
|---|---|
| تصور احساس | |
| ارزونه | اراده |

د شپږم درس په پای ته رسولو سره،
تاسو به ٤٤ **نوي** لغتونه زده کړی، چې
٢٣١٥١ **ځله** په قرآنکریم کې راغلي دي.

# ٦. د قرآنکریم زده کړه اسانه ده

په تیر لوست کې مو زده کړل چې الله پاک قرآنکریم د دې لپاره رالیږلی تر څو په آیتونو یې فکر وشي او د عمل جامه ور واغوستل شي. د قرآن کریم آیتونه په عربي دي او په بله ژبه نشي ژباړل کیدای. موږ یوازې د ژباړې له لارې د قرآنکریم پیغام ترلاسه کوو. د دې لپاره چې په عربي آیتونو فکر او غور وکړو، باید عربي زده کړو.

دا د الله عزوجل یو ستر رحمت دی چې د قرآن کریم پوهه یې اسانه کړه. د هغې (قرآن) د عربي زده کړه هم اسانه ده، دومره چې د بنسټیزې پوهې سره سرو کار لري. (قرآني عربي دومره اسانه ده چې د عربي په بنسټیزو او اساسي زده کړو په لوستلو سره یې زده کولی شو.ژباړن)

﴿أعوذ بالله من الشيطان الرجيم﴾ ﴿بسم الله الرحمن الرحيم﴾

| ١ :وَلَقَدْ (409) | يَسَّرْنَا | الْقُرْاٰنَ (70) | لِلذِّكْرِ(القَمَر –17) | |
|---|---|---|---|---|
| او په رښتیا | | | موږ اسانه کړی | قرآن | د پوهې او نصیحت لپاره. | |
| وَ | لَ | قَدْ | **يُسْر**: اسانه<br>**عُسْر** : سخت<br>**يَسَّرْنَا** : موږ اسانه کړئ | د قرآن یوه مانا دا ده: چې په بیا- بیا او مکرر ډول لوستل کیږي. | لِ | الذِّكْر |
| او | په رښتیا، په حقیقت کې | مخکې | | | لپاره، ته | یادونه، پوهیدل، پند |
| **قَدْ قَامَتِ الصَّلٰوة**<br>لمونځ (مخکې)ودرید (قائم شو). | | | | | **ذِکْر** دوې ماناګانې لري:<br>(١) یادول یا حفظ کول؛ او<br>(٢) پوهیدل او درس (پند او نصیحت) اخیستل. | |
| **ژباړه:** او په رښتیا (په تحقیق سره) موږ قرآن د پوهې او نصیحت لپاره اسانه کړ. | | | | | | |

- د دې لپاره چې د قرآني آیتونو په بنسټ فتوای ورکړل شي، باید یو کس کلونه- کلونه د پوهانو او علماوو ته روزنې لاندې تیر کړي. په داسې حال کې چې قرآن د پو هې، په ژوند کې له هغې څخه د درس (پند) اخیستلو او پرې عمل کولو لپاره ډیر اسانه دي.

- د الله شکر اداء کړئ چې قرآنکریم یې د پوهې او پند اخیستلو لپاره اسانه کړی دی. پلان چمتو کړئ او اراده وکړئ چې هر څومره چې ژر ممکن وي قرآني عربي زده کړئ او په دې کار سره د الله شکر اداء کړئ.
- هیڅ کله دا فکر ونه کړئ، دا ونه وایئ او دا ونه منئ چې د قرآن کریم زده کول ستونزمن او سخت دي. آیا تاسو غواړئ چې د دې آیت مخالفت وکړئ او رد یې کړئ؟ (الله دې موږ ته ښننه وکړئ.)
- قرآن اسانه دی خو په خپله نه زده کیږي. تاسو باید د هغه د زده کولو لپاره وخت ورکړئ او هڅې وکړئ. پیغمبر صلي الله علیه وسلم فرمایلي: څوک چې د الله لوري ته ورتګ غوره کړئ، الله د هغه لوري ته په ځغاسته ورځي. راځئ چې لومړی د هغه لور ته ورتګ پیل کړو.
- قرآن کریم نورو ته د نصیحت کولو لپاره هم اسانه او اغیزمن دی. په ښه توګه یې زده کړئ. د هغه سبک، استدلالونه، کیسې، مثالونه او دلایل په بشپړه توګه زده کړئ.

راځئ چې اوس یو حدیث هم زده کړو.

| 186 | | 823 | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲: خَيْرُكُمْ | | مَّنْ | تَعَلَّمَ الْقُرْآنَ | وَعَلَّمَهُ (بخاری) | |
| غوره ستاسو | | هغه (یو دی) | چې قرآن زده کړي | او نورو ته یې وښیي | |
| خَيْرُ | كُمْ | | | وَ | عَلَّمَ | ہٗ |
| ښه، غوره، بهتر | ستاسو | په قبر کې لومړی پوښتنه دا ده: مَنْ رَبُّكَ؟ ستا رب څوک دی؟ | تَعَلَّمَ زده کړي عَلَّمَ وښیي، تدریس یې کړي | او | وښیي، تدریس یې کړي، ور زده یې کړي. | هغه |
| **ژباړه:** غوره ستاسو څخه هغه څوک دي چې قرآن زده کړي او نورو ته یې وښیي (ورزده یې کړي). | | | | | | |

- دا زموږ لپاره یوه غښتلي هڅونه ده.
- پیغمبر صلي الله علیه وسلم لومړی زده کوونکی یاد کړ او بیا ښوونکی. دا د قرآن کریم د هر زده کوونکی لپاره د ستر احترام او ویاړ خبره ده.
- په دې مانا هم دی چې غوره کس هغه دی چې د قرآن کریم زده کړه او ښوونه کوئ.
- په دې مانا هم دی چې د قرآن کریم زده کړه پای نه لري! له دې امله موږ باید تر مرګ پورې د قرآن کریم لا زیاتو زده کړو ته ادامه ورکړو.
- الله موږ وینې! راځئ چې هم دا اوس په دې حدیث د عمل کولو هوډ وکړو. اراده وکړو چې په هیڅ صورت به هم د قرآن زده کړه نه بس کوو. په دې حدیث د عمل او خپلې کورنۍ او ملګرو ته د هغې د رسولوهوډ وکړئ. یو پلان جوړ کړئ چې په فردي او ډلییزه توګه به زده کړه او نورو ته ښوونه کوئ.
- پیغمبر صلي الله علیه وسلم د قرآن کریم د ښوونکي په توګه مبعوث شوی دی. هغه د تشریح او عملي کولو له لارې د قرآن کریم ښوونه وکړه. د صحابه کرامو په طریقه د قرآن کریم د زده کړې لپاره، لومړی

موږ باید  عربي او تجوید زده کړو. زده کړه همدلته پای ته نه رسیږي بلکه د قرآن کریم ربښتیني زده کړه له دې وروسته پیلیږي، چې څرنګه قرآن کریم زده کړو او څه ډول عمل پرې وکړو.

راځئ چې یو بل حدیث هم زده کړو:

| | |
|---|---|
| (بخارى) بِالنِّيَّاتِ | 3: إِنَّمَا [41] الْأَعْمَالُ [146] |
| **په نیتونو پورې اړه لري.** | **عملونه یوازې** |
| نِيَّة نِيَّات<br>نیت نیتونه | إِنَّمَا : ، فقد، یوازې<br>جمع دی.عَمَلٌ‌أَعْمَال |
| **ژباړه:** د عملونو دار او مدار (بدله) یوازې په نیتونو پورې اړه لري. | |

- د آخرت په ورځ به لومړی د درېو کسانو په برخلیک پریکړه کیږي. اول به د هغوی څخه د قرآن کریم هغه قاري وي چې د ځان ښودنې او ریا لپاره یې تلاوت کړی وي.  هغه به د خپل ناسم نیت له کبله جهنم ته وغورځول شي. الله هغه کړه او اعمال نه خوښوي چې نور ورسره شریک کړای شوي وي.
- راځئ چې قرآن کریم یوازې د الله د رضا او خوښۍ لپاره زده کړو. هغه زده کړو تر څو پرې وپوهیږو او عمل پرې وکړو.
- راځئ چې قرآن زده کړو او نورو ته یې د الله په خاطر وښیو، ځکه نو یو غوڅ اکثریت له قرآن څخه لرې دی.
- قرآن زده کړو تر څو په ټولنه کې د قرآن او احادیثو په بنسټ او اساساتو یووالی او اتحاد را منځ ته کړو.

دا لاندې درى کلیمې چې په جدول کې لیکل شوي دي په قرآنکریم کې **٢٣٠٦ ځله** راغلي دي. د هغوی ماناګانې چې په لاندې مثالونو کې راغلي دي، په یاد کړئ. که مثالونه په یاد کړئ دا با له تاسو سره د کلمو دمانا ګانو په یادولو او په را یادولو کې مرسته وکړئ. مثالونه ډېر ګټور دي په ځانګړې توګه کله چې تاسو د مشابه غږونو لرونکو کلیمو ماناګانې سره ګډې وډې کړئ (لکه اِنَّ‌واِنْ).

| | | | |
|---|---|---|---|
| **که** د الله رضا وه. | إِنْ شَاءَ اللهُ | که، که چیرې | 628<br>إِنْ |
| **په حقیقت کې** الله له صبر کوونکو سره دی. | إِنَّ اللهَ مَعَ الصَّابِرِين | په حقیقت کې | 1532<br>إِنَّ |
| عملونه **یوازې** په نیتونو پورې اړه لري. | إِنَّمَا الْأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ | فقد، یوازې | 146<br>إِنَّمَا |

**گرامر:** مخکې مو ولوستل چې په عربي ژبه کې هره کليمه له د دريو ډولونو څخه يوه ده.

1. اسْم (نوم): نوم (مثلاً: كِتَاب، مَكَّة) يا يو ستاينوم (مثلاً: مُسْلِم، مُؤْمِن)
2. فِعْل   عمل ښيي (مثلاً: فَتَحَ، نَصَرُوا)
3. حَرْف   اسمونه يا فعلونه سره نښلوي (مثلاً: ب، لِ، مِنْ، فِي، إن).

په دې لوست کې به موږ څلور نور حرفونه هم زده کړو: **بِ، فِي، عَلَى، إِلَى.** دا ټول اضافه توري دي. لاندې مثالونه د دغو تورو د ماناګانو په يادولو کې ډېره مرسته کوي. په لاندې مثالونو کې د سَبِيل کلمه په قرآن کريم کې ۲۲۵ ځله استعمال شوي دي.

| مثال | | توري |
|---|---|---|
| **په** نامه د الله. | بِسْمِ الله | بِ   په –In |
| د الله **په** لار کې. | فِي سَبِيلِ الله | فِي   په – In |
| سلام د وي **په** تاسو. | السَّلَامُ عَلَيْكُمْ | عَلَى   په – On |
| په حقيقت کې موږ د الله يو او هغه **ته** ورګرځو. | إنَّا لِلهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُون | إِلَى   ته –To |

په ياد ولرئ چې دا حرفونه نورې ماناګانې هم ورکولی شي، نظر متن ته.
د لاندې جدول کليمات **۴۳۲۷ ځله** راغلي دي. د TPI څخه کار واخلئ او هغوی (لاندې کليمات) په ښېړه توګه تمرين کړئ.

| بِ: په in | | فِي: په in | | عَلَى: په in | | إِلَى: ته، په لوري to, toward | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| بِهِ | په هغه | فِيهِ | په هغه | عَلَيْهِ | په هغه | إِلَيْهِ | هغه ته |
| بِهِمْ | په هغوی | فِيهِمْ | په هغوی | عَلَيْهِمْ | په هغوی | إِلَيْهِمْ | هغوی ته |
| بِكَ | په تا | فِيكَ | په تا | عَلَيْكَ | په تا | إِلَيْكَ | تا ته |
| بِكُمْ | په تاسو | فِيكُمْ | په تاسو | عَلَيْكُمْ | په تاسو | إِلَيْكُمْ | تاسو ته |
| بِي | په ما | فِيَّ | په ما | عَلَيَّ | په ما | إِلَيَّ | ما ته |
| بِنَا | په موږ | فِينَا | په موږ | عَلَيْنَا | په موږ | إِلَيْنَا | موږ ته |
| بِهَا | په هغې | فِيهَا | په هغې | عَلَيْهَا | په هغې | إِلَيْهَا | هغې ته |




## شپږم لوست: د قرآنکریم د نزول موخه

۱پوښتنه: لاندې عبارت وژباړئ.

لِلذِّكْرِ    الْقُرْاٰنَ    يَسَّرْنَا    وَلَقَدْ

| | | | |
|---|---|---|---|
| | | | |

(بخارى) وَعَلَّمَهُ    تَعَلَّمَ الْقُرْآنَ    مَّنْ    خَيْرُكُمْ

| | | | |
|---|---|---|---|
| | | | |

(بخارى)    بِالنِّيَّاتِ    إِنَّمَا الْأَعْمَالُ

| | | |
|---|---|---|
| | | |

۲پوښتنه: په کومه اراده او نیت، یو کس باید د قرآن کریم زده کړه وکړئ؟

ځواب:

۳پوښتنه: آیا دقرآن کریم زده کړه ستونزمنه ده؟ دلیل یې ووایئ.

ځواب:

٤پوښتنه: کومې هیڅ باید وکړو ترڅو قرآن کریم زده کړو؟

ځواب:

٥پوښتنه: د اِنْ،اِنَّ او اِنَّمَا مانا او مثالونه بیان کړئ.

ځواب:

## د شپږم لوست اړوند د ګرامر پوښتنې

۱ پوښتنه: لاندې مثالونه د بِ لپاره حل شوي، په جدول کې فِي، عَلَی، اِلَی کليمو لپاره خالي ځايونه ډک کړئ.

| شخص | شمير | بِ | فِي | عَلَی | اِلَی |
|---|---|---|---|---|---|
| دریم غائب | واحد | بِهٖ | | | |
| | جمع | بِهِمْ | | | |
| دوهم حاضر | واحد | بِكَ | | | |
| | جمع | بِكُمْ | | | |
| لومړی متکلّم | واحد | بِي | | | |
| | جمع مثنی | بِنَا | | | |
| غائب | واحد مؤنث | بِهَا | | | |

۲پوښتنه:
لاندېعربيلغتونهپهاجزاووويشئاومانايېوليکئ.

| | |
|---|---|
| وَفِيْكُمْ | |
| فَعَلَيَّ | |
| وَاِلَيْكَ | |
| فِيْ كِتَابِكُمْ | |
| اَنْزَلْنَا عَلَيْكَ | |

۳ پوښتنه: لاندې عبارات عربي ته وژباړئ.

| | |
|---|---|
| په هغه او په ما | |
| قرآن ته | |
| سلام د وي پر تاسو | |
| په قرآن کې | |
| په تا او په هغې | |




د اووم درس په پای ته رسولو سره،
تاسو به ۵۲ **نوي** لغتونه زده کړی، چې ۲۴۴۴۶ ځله په قرآنکريم کې راغلي دي.

# ۷. قرآنکریم څرنګه زده کړو؟

د قرآن کريم د زده کړې غوره لار دا ده چې لاندې درې مرحلې پلې کړئ. لومړی قدم د الله څخه د علم او پوهې غوښتنه ده.

| | | | |
|---|---|---|---|
| رَبِّ | زِدْنِيْ | | عِلْمًا (114)(سورة طه) |
| **اې زما ربه!** | **زيات کړه** | | **زما علم.** |
| ربّ :پالونکی او روزونکی | زِدْ | نِيْ | عِلْم : پوهه، علم |
| | زياتول، ډېرول | زما | |
| **ژباړه:** اې الله! زما پوهه زياته کړې. | | | |

- دا هغه دعا ده چې الله عزوجل پيغمبر صلي الله عليه وسلم ته ښوولې ده په ځانګړې توګه د قرآن کريم د زده کړې او حفظ لپاره. نو له کبله موږ په مکرره او مخلصانه توګه د الله دربار ته دا دعا وکړو.
- د دعا ترڅنګ موږ بايد خپل وخت د قرآن کريم د زده کړې په هڅو او کوښښونو کې تير کړو. که يو زده کوونکی په هر لمانځه کې د خپلې بريا لپاره دعا وکړئ خو هيڅکله ښوونځی ته لاړ نه شي او يا هيڅ کتاب هم ونه ګوري، آيا هغه به بريالي شي؟ که موږ يوازې د علم او پوهې لپاره په دعا وکړو خو هيڅ هڅه او هاند ونه کړو، موږ له دعا سره لوبې کوو!
- ولې د علم او پوهې زده کړه او حصول؟ تر څو هغه په انفردي او ډلييزه سطحه عملي کړو او هغه خپورکړو. الله عزوجل ته دعا وکړئ تر څو موږ سره د قرآن په زده کړه، پوهه، عملي کولو او نورو ته د رسولو په برخه کې مرسته وکړئ.
- تاسو بايد څه ډول دعا وکړئ؟ د هغه کس په څير چې د دوو يا دريو ورځو لپاره وږی وي؛ يا د زړه د هغه ناروغ په څير چې سبا ته يې د زړه جراحي تيروي. آيا هغه به الله ته يو ځلې دعا وکړئ؟ آيا هغه به پرته له کومو احساساتو الله عزوجل ته د دعا لاسونه پورته کوي؟
- الله ته دعا وکړئ چې زموږ د پوهې او علم تنده ماته او د ناپوهۍ او جهل له مصيبت څخه مو نور خلاص کړئ. د علم تر ټولو مهم او اړين کتاب قرآن کريم دی. که موږ پرې ونه پوهيږو په دې صورت کې موږ بايلونکی او زيانمن يو.

دوهم قدم او مرحله دا ده چې له ټولو هغو منابعو او وسايلو څخه ګټه واخيستل شي چې په قلم سره پيليږي.

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| 304 | | | | |
| 2: الَّذِيْ | عَلَّمَ | بِالْقَلَمِ ٪(4٪) (سورة العلق) | | |
| **هغه (ذات)** | **چې ښوولی يې دی** | **په قلم سره.** | | |
| الَّذِيْ :هغه | تَعَلَّمَ: زده کول | بِ | قَلَمِ | |
| **الَّذِين** :هغوی | عَلَّمَ: ښودل، ورزده کول | په، | قلم | |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | | پواسطه د | | |
| **ژباړه: هغه چې انسان ته یې د قلم په مرسته پوهه وښوله.** | | | | |

- دو همه مرحله د قلم څخه استفاده کول دي. ژر تر ژره قلم غوره کړئ! تاسو په خپل لاس په میلیونونو کلیمې لیکې دي. اوس نو خپل لاس د قرآني عربي د زده کولو لپاره په کار واچوئ او دا خپل عادت وګرځوئ.
- چیرته تاسو باید ولیکئ؟ د ځان سره یوه کتابچه ولرئ. هر څه چې زده کوئ یې له ځان سره یې یو یادابنت ساتئ. د کتابونو او کتابچو یو کوچنی کتابتون جوړ کړئ.
- که لیکل ستاسو عادت شي بیا نو تاسو باید د غوړنیولو او پوهیدلو لپاره زیاته پاملرنه وکړئ.؛
- نن له ځان سره دا ژمنه وکړئ چې لږ تر لږه د پنځوڅخه تر لسو دقیقو پورې وخت به د نویو کلیمو د ماناګانو او د ګرامري بڼو لیکلو ته ځانګړی کوئ. دا کار په تنبلی نه، بلکې په پوره اشتیاق، مینه او رښتینولی تر سره کړئ.
- هر هغه علم چې امت ورته اړتیا ولرئ، د قرآن له علومو څخه دی، د هغه کتاب چې د نزول لومړنۍ کلیمه یې اِقْرَأْ "ولوله!" وه. لوستل او مطالعه خپل ځانګړی عادت وګرځوئ او هر ګټور علم، لکه ریاضیات، تاریخ، طبیعي علوم، ادبیات.... ولولئ.

دریمه مرحله د سیالۍ (رقابت) او د غوره والي او بهترۍ د هڅو مرحله ده.

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 3: اَيُّكُمْ (46) | | اَحْسَنُ (43) | | عَمَلًا٪ط | | (الْمُلْك: 2) |
| **کوم یو له تاسو** | | **غوره دی** | | | **په عمل کې** | |
| اَيُّ | کُمْ | لوی، ستر، غټ | کَبِير | أَکْبَر | عَمَل أَعْمَال | |
| کوم یو | ستا، ستاسو | کوچنی، کمکی | صَغِير | أَصْغَر | | |
| | | ښه | حَسَن | أَحْسَن | | |
| **کوم یو له تاسي د کړنی (عمل) له مخې غوره یاست؟** | | | | | | |

- دا دریمه مرحله ده. الله موږ د دې لپاره پیدا کړئ یو تر څو وګورئ (موږ و ازمویې) چې څوک غوره دی، په عبادت کې، په کورنۍ کې، په دفتر کې. څوک په فردي چارو، لکه لمانځه، روژه او ذکر کې غوره دی. څوک په ټولنیزو کارونو، لکه د نورو سره مرسته کول، دعوت کول، په ښو چارو امر او له بدیو څخه منع کولو کې غوره دي.
- الله موږ ویني! په ټولګي کې د قرآن په زده کولو کې څوک ښه دی؟ یوازې د الله په خاطر هڅه وکړه چې له نورو څخه ښه او بهتر شې. سیالي وکړئ!
- شیطان د قهر او غصې په اور کې سوزي. ولې؟ ځکه تاسو لومړنی ګام واخلئ، تر څو قرآن کریم زده کړئ. هغه زیاتې هڅې کوي تر څو تاسو ته خند شي. شیطان ډیر با تجربه دی څو تاسو د الله له ملاتړ څخه برخمن یاست. شیطان چمتو دی، ملایکې هم چمتو دي او د هغوی قلمونه هم چمتو دي تر څو ستاسو کړه ولیکئ. آیا تاسو چمتو یاست؟



www

رَبِّ زِدْنِيْ عِلْمًا(سوره طٰهٰ:۱۱۴)

اَلَّذِيْ عَلَّمَ بِالْقَلَمِ (العلق:۴)

اَيُّكُمْ اَحْسَنُ عَمَلاً (الملک:۲)

**گرامر – د اضافه توری په اړه دری ټکی:**

تاسو په تیرو دوو درسونو کې یو شمیر اضافه توري زده کړل. اضافه توري نظر متن ته خپلې ماناګانې بدلوي. که مو لاندې ټکي زده کړل تاسو به وپوهیږي چې څرنګه هغوی زده کړئ.

1. د مختلفو اضافه تورو څخه په ګټه اخیستلو په بیلابیلو ژبو کې ورته شیان بیانیږي. د بیلګې په توګه:
آمَنْتُ بِاللهِ؛ په الله ایمان لرم - I believed in Allah - میر الله پر ایمان لایا (اردو)

پورتنۍ دری جملې په دریو مختلفو ژبو کې یو شان حقیقت بیانوي، یعني زه ایمان لرم، خو د هرې ژبې اضافه توري توپیر لري.

2. په یوه ژبه کې ممکن اضافه توري ته اړتیا وي او یا ورته اړتیا نه وي دا په استعمال شوي فعل پورې اړه لري. لکه: I said **to** him; I told him.
ځنیي وختونه ممکن په عربي کې یو اضافه توري وي خو په پښتو (یا بله) ژبه کې ممکن ورته اړتیا نه وي.

| | |
|---|---|
| يَدْخُلُوْنَ فِي دِينِ اللهِ | Entering the religion of Allah.د الله په دین کې داخلیږئ (ننوځي)<br>(دلته یوازې په انګلیسي ژباړه کې د فِي ژباړلو اړتیا نشته.) |
| اغْفِرْلِي | Forgive me.- ما وبښه.<br>(په پښتو او انګلیسي دواړو کې د لِ ژباړې ته اړتیا نشته). |

ځیني وختونه ممکن په عربي کې یو اضافه توری نه وي خو موږ یې باید په پښتو کې استعمال کړو.

| | |
|---|---|
| أَسْتَغْفِرُ الله | د الله **بخښنه** غوارم.<br>(په پښتو کې باید "بخښنه" زیات کړو.) |
| وَارْحَمْنِي | **په** ما رحم وکړې.<br>(په پښتو کې باید "په" زیات کړو.) |

3. د اضافه توري تغیر په مانا کې هم تغیر راولي. شاید دا اصل د ټولو ژبو لپاره سم وي. د بیلګې په توګه، په انګلیسي کې موږ د get; get in; get out; get off; get on اضافه توري لرو. دا عربي لپاره هم همداسې ده. راځئ چې یوازې دوو مثالونو ته ځیر شو.

| | |
|---|---|
| صَلِّ لِرَبِّكَ (صَلِّ + لِ) | **لمونځ وکړه** خپل رب ته. |
| صَلِّ عَلَى مُحَمَّد (صَلِّ + عَلَى) | **درود ووایه** په محمد صلي الله علیه وسلم. |

**اشاروي ضمیرونه:** راځئ چې اوس څلور عربي کلیمې زده کړو چې د اشخاصو، شیانو او یا عملونو لپاره استعمالیږي. دا څلور کلیمې په قرآن کریم کې **۹۰۳ ځله** راغلي دي. د TPI څخه، لکه څرنګه چې لاندې ښودل شوی، په کټه اخیستلو هغه څلور کلیمې تمرین کړئ.

| اشاروي ضمیرونه | | **د تمرین لارښوونه:** |
|---|---|---|
| **هٰذَا** | دغه (واحد) | په خپله یوه ګوته سره یو نږدې شي ته اشاره وکړئ، لکه یو کتاب ته او وواوئي: هٰذا. په څلورو ګوتو هماغه لوري ته اشاره وکړئ او ووایئ: هٰؤُلآء. |
| **هٰؤُلآءِ** | دغه (جمع) | له ځان څخه لرې یو شي ته په یوه ګوته اشاره وکړئ او ووایئ: ذٰلكَ. جهت یا لوری باید ستاسو ښي لورته (هُوَ، هُمْ) نه وي او نه مخامخ (أَنْتَ، أَنْتُمْ) ویخو د دوارو تر منځ وي. په څلورو ګوتو هماغه لوري ته اشاره وکړئ او ووایئ: ٱُولٰئِك. |
| **ذٰلِكَ** | هغه (واحد) | |
| **أُولٰـئِكَ** | هغه (جمع) | |




# اووم لوست:قرآنکریم څرنګه زده کړو؟

١پوښتنه: لاندې عبارت وژباړئ.

رَّبِّ زِدْنِىْ عِلّمًا (114) (طه: 114)

| | | | |
|---|---|---|---|
| | | | |

الّذِىْ عَلّمَ بِالّقَلَمِ (العلق: 4)

| | | | |
|---|---|---|---|
| | | | |

اَيُّكُمْ اَحْسَنُ عَمَلًا٪ط (الملك: 2)

| | | | |
|---|---|---|---|
| | | | |

٢پوښتنه: الله چا ته د علم د زیاتیدلو دعا ښوولې ده؟
ځواب:

٣پوښتنه: د الله څخه د علم غوښتلو له دعا څخه وروسته تاسو کومې هڅې کولی شئ؟
ځواب:

٤پوښتنه: د اضافه توري تغیر د لغت\فعل په مانا کې هم تغیر راولي. یو مثال بیان کړئ.
ځواب:

٥پوښتنه: الله له موږ څخه غواړي چې رقابت او سیالي وکړو. د رقابت پنځه ساحې یا برخې ولیکئ.
ځواب:

# د اووم لوست اړوند د ګرامر پوښتنې

۱پوښتنه:

| الف: د لاندې ضميرونو ماناګانې وليکئ. | |
|---|---|
| هٰؤُلآءِ | |
| ذٰلِكَ | |
| هٰذَا | |
| أُولـٰئِكَ | |

| ب: لاندې دهٰذَا لپاره مثال درکړل شوی دی، نور ضميرونه په کارولو سره ساده جملې وليکئ. | |
|---|---|
| هٰذَا | هٰذَا كِتَابٌ |
| هٰؤُلآءِ | |
| ذٰلِكَ | |
| أُولـٰئِكَ | |

| ۲پوښتنه: لاندېعربيلغتونهپهاجزاووويشئاومانايېوليکئ. | |
|---|---|
| فَمِنْهُمْ | |
| وَإِلَيَّ | |
| وَفِيْهَا | |
| وَمِنْكَ | |
| وَعَلَيْكُمْ | |

| ۳ پوښتنه: لاندې عبارات عربي ته وژباړئ. | |
|---|---|
| زده کړه يې وکړه او ښوونه يې وکړه. | |
| په قلم سره يې زده کړي دي. | |
| علم مې زيات کړې | |
| په همدې توکه تاسو | |
| او د هغوی تر منځ | |

# ۸. سورة العصر(دسورة ګڼه. ۱۰۳)

| دعا تبلیغ | |
|---|---|
| تصور احساس | |
| ارزونه | اراده |

د آتم درس په پای ته رسولو سره،
تاسو به ۵٦ **نوي** لغتونه زده کړی، چي
**۲۵٤۷۵** ځله په قرآنکریم کي راغلي دي.

سریزه: دا کوچنی سورة انسان ته یو فورمول ښيئ چي له زیان څخه وژغورل شي. چي څرنګه یو کس ځان د ښو کړنو په تر سره کولو سره وساتئ.

﴿أَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ﴾ ﴿بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ﴾

| وَالْعَصْرِ ٪(1٪)ۙ | |
|---|---|
| **قسم په وخت،** | |
| وَ | الْعَصْرِ |
| د وَ دوې ماناګانې: (۱) او، (۲) په (قسم، سوګند يادول) | وخت |

- د قرآن کریم ډېر سورته په ورته قسمونو (سوګندونو) پیلیږي، لکه، وَالْفَجْرِ، وَالشَّمْسِ، وَاللَّيْلِ، وَالنَّجْمِ، وَالسَّمَاءِ.
- الله په وخت قسم یاد کړی دی. وخت په هغه څه چي له دې قسم څخه وروسته ویل شوي دي، یوه ګوهي او شاهدي ده.

| اِنَّ | الْاِنْسَانَ (65) | لَفِىْ | | خُسْرٍ ٪(2٪)ۙ (51) |
|---|---|---|---|---|
| **بې شکه** | **انسان** | **خامخا په** | | **زیان کې دی.** |
| اِنَّ په قرآن کریم کې ۱۵۳۲ ځله راغلی دی! اِنَّ اللهَ مَعَ الصَّابِرِين | إِنْسَان: انسان، سړی الْإِنْسَان : انسان، بشر | لَ | فِي | |
| | | په يقين، قطعاً، مسلماً | په | |
| **بې شکه انسان په زیان کې دی.** | | | | |

- په دې آیت کې، د موضوع خورا اهمیت او ضروري والی ځرګندیږي، الله تعالی په دریو ښو تاکید او ټینګار کړی دی: (۱) هغه قسم یاد کړی، (۲) د إِنَّ استعمالول او (۳) د لَ استعمالول.
- د إلاّ کلیمه بیا ځلورم تاکید ښيي. که په یو ټولګي کې د ۱۰۰ زده کوونکو څخه ۹۵ په ازموینه کې ناکام شي، موږ به داسې وایو، " ټول کامیاب دی بې له ۹۵ څخه؟" نه! موږ وایو،" ټول ناکام دي بې له پنځو

څخه،"  دا په دې دلالت کوې چې د "بې له" (استثنا، مګر، بغیر) څخه وروسته چې څه راځي هغه یو اقلیت دي. په همدې اساس د انسانانو اکثریت په زیان کې دی.

- هر کله چې موږ دا آیة اوروو موږ باید زیات پام او توجه وکړو او یو ځل بیا باید سوچ وکړو چې موږ څه سر ته ورسو تر څو د زیان مخنیوی وکړو!

<table dir="rtl">
<tr><td>666<br>اِلاَّ</td><td>1080<br>الّذِينَ</td><td>اٰمَنُوْا</td><td colspan="2">وَعَمِلُوا</td><td>الصّٰلِحٰتِ</td></tr>
<tr><td>مګر</td><td>هغوی</td><td>چې ایمان یې راوړی</td><td colspan="2">او تر سره کوي</td><td>صالح\ نیک (عملونه)</td></tr>
<tr><td rowspan="2">لاَ إِلٰهَ إِلاَّ الله</td><td rowspan="2">صِرَاطَ <u>الَّذِينَ</u><br>أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ</td><td rowspan="2">إِيمَان<br>ایمان، باور، عقیده</td><td>وَ</td><td>عَمِلُوا</td><td rowspan="2">صَالِح← صَالِحُون، صَالِحِين<br>صَالِحَة ← صَالِحَات</td></tr>
<tr><td>او</td><td>هغوی تر سره کوي</td></tr>
<tr><td colspan="6">پرته له هغو کسانو چې ایمان یې راوړی او ښه کارونه کوي.</td></tr>
</table>

- راځئ چې د هر څه نه مخکې په دوو هغو څیزونو فکر وکړو چې دلته یاد شول: ایمان او نیک اعمال.
- اې الله! صحیح، پوره او قوي ایمان راکړې.
- **ارزول:** زه ایمان  لرم خو آیا زما ایمان په څه حال دی؟ په ورځ کې څو ځله د الله، آخرت، د هغو دوو ملایکو او شیطان په اړه چې ټوله ورځ زموږ ملګرتیا کوي، په اړه فکر کوو؟په تقدیر مو ایمان څومره قوی دی؟ آیا وایو: ولې داسې راپیښ شول؟ یا دا چې دا د الله یو امتحان ګڼو او هڅې کوو چې بریالي شو؟
- د الله په کتاب مو ایمان، په څه حالت دی؟ آیا یوازې ایمان پرې لرو او یا دا چې د هغې په لوستلو او پرې عمل کولو باندې د هغه سره خپلو اړیکو ته لا پرمختیا ورکوو.
- قرآن زموږ د عقیدو له تفصیلاتو او جزساتو سره سروکار لري. د قرآن تلاوت او پرې پوهیدل او د احادیثو مطالعه زموږ ایمان زیاتوي او لا یې غښتلی کوي.
- یوازې ایمان موږ له زیان څخه نه ژغوري، نیک او صالح کړه وړه او اعمال هم ضروري دي. زما د لمانځه، روژې، زکات، اخلاقو، عادتونو، معاملاتو او نورو کیفیت څرنګه دی؟

<table dir="rtl">
<tr><td colspan="2">وَتَوَاصَوْا</td><td>247<br>بِالْحَقِّ ٪لاٌ</td><td colspan="2">وَتَوَاصَوْا</td><td>بِالصَّبْرِ ٪(3٪)</td></tr>
<tr><td colspan="2">او یو بل ته یې توصیه وکړه</td><td>په حق</td><td colspan="2">او یو بل ته یې توصیه وکړه</td><td>په صبر</td></tr>
<tr><td>وَ</td><td>تَوَاصَوْا</td><td rowspan="2">حَقّ : حق</td><td>وَ</td><td>تَوَاصَوْا</td><td>صَبْر</td></tr>
<tr><td>او</td><td>یو بل ته نصیحت کوي</td><td>او</td><td>یو بل ته نصیحت</td><td>صبر، زغم</td></tr>
</table>

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | کوي | | | | |
| او يو بل ته د حق نصيحت او د زغم (صبر) ښوونه کوي.. | | | | | |

- ايمان او صالح اعمال په يوازيتوب سره بسنه نه کوي. دا هم ضرور ده چې نوروته هم په حق او صبر سره لارښوونه وکړو.
- چيرته يو څوک حق موندلی شي؟ په قرآن کريم او د پيغمبر صلي الله عليه وسلم په سنتو کې. که موږ په قرآن پوه نه شو، نو بيا به نور څه ډول حق ته راوبلو؟
- د قرآن کريم په ډېری سورتونو کې الله يادونه کړې ده چې پيغمبرانو څه ډول خلک حق، نيکی او صبر ته رابلل. د هغوی څخه د بلنې او دعوت طريقې زده کړئ.
- په دې آيت کې الله خلکو ته د خطاب لپاره د جمع صيغه کارولې ده (هغوی چې...) دا ښيي چې موږ بايد نوروته په ډلېزه توګه نورو ته دا توصيه وکړو چې د ژوند په هر ډګر کې د الله پيروي وکړو.
- تاسو هم دا اوس کولای شی پيل يې کړئ، په همدې ټولګي کې يو ملګری د خپل همکار په توګه غوره کړئ تر څو تر پايه پورې يو او بل ته د قرآن کريم د زده کړې او عمل توصيه وکړئ.
- صبر په دری ډوله دی: ( ۱) د نيکو اعمالو د دعوت په کډون، په تر سره کولو صبر، ( ۲) د کناهونو څخه په ځان ساتلو صبر او (۳) د ستونزو، مصيبتونو او داسې نورو سره د مخ کيدو په وخت صبر.
- کله چې موږ خپل زوی يا لور ته وايو چې "زده کړه وکړه،" موږ د هغوی د زده کړو لپاره مفصل پلان لرو. آيا موږ خلکو ته د نيي لارې د توصيې کولو لپاره هم مفصل او منظم پلان لرو؟
- پيغمبر صلي الله عليه وسلم فرمايلي دي: "لا يومن احدکم حتی يحب لاخيه ما يحب لنفسه." (هيڅ څوک د پوره ايمان خاوند کيدای نشي تر څو خپل مسلمان ورور ته هغه څه خوښ کړي کوم چې ځان ته يې خوښوي.) ټول انسانان د آدم عليه السلام او بي بي حوا څخه زموږ خويندې او وروڼه دي، بناءً هر هغه څه چې موږ يې د ځان لپاره خوښو بايد د ټولو انسانانو لپاره خوښ کړو، د اسلام د پيغام د پوهې په ګډون. په حقيقت کې د اسلام د پيغام د خپراوی لپاره لومړی موږ بايد هغه زده کړو.

**ګرامر:** په تيرو درسونو کې موږ د اسمونو او تورو په اړه څه ناڅه زده کړل. د دې درس په پيلولو سره موږ بايد فعل ته څه ناڅه توجه وکړو.

فعل هغه کليمه ده چې عمل ښيي. د بيلګې په توګه، فَتَحَ (هغه پرانيست)، نَصَر (هغه مرسته وکړه)، يَشرَبُ (هغه څښي يا هغه به وڅښي)....

په عربي کې فعلونه او اسمونه معمولاً له دريو توريو (حروفو) څخه ترکيب شوي دي، د مثال په توګه، فَعَلَ، نَصَرَ، ضَرَبَ،... په عربي ژبه کې يوازې دوه ابتدائي زماني شته؛ فعل ماضي (کامله يا تيره زمانه) او فعل مضارع (غير کامل يا راتلونکې زمانه). په دې لوست کې موږ فعل ماضي زده کوو چې بشپړ شوی کار ښيي. راځئ چې د فعل ماضي شپږ صيغې د TPI په کارول سره لکه څرنګه يې چې لاندې لارښوونه کيږي، زده کړو:

- کله چې فَعَلَ (هغه وکړ) وايئ، د ښي لاس د شهادت په ګوته خپل ښي لورې ته داسې اشاره وکړئ لکه هغه لورې ته مو چې څوک ناست وي. خپل د لاس بازو مو د سينې سره په افقي توګه ونيسئ. کله چې تاسو فَعَلُوا (هغوی وکړل يا هغوی تر سره کړ) وايئ، د ښي لاس په څلورو ګوتو هماغه جهت ته اشاره وکړئ.
- کله چې تاسو فَعَلْتَ (تا وکړ) وايئ، ، د ښي لاس د شهادت په ګوته مخامخ لورې ته اشاره وکړئ. کله چې تاسو فَعَلْتُمْ (تاسو وکړ) وايئ، د ښي لاس په څلورو ګوتو هماغه جهت ته اشاره وکړئ. په ټولګي کې ښوونکی بايد په خپلو ګوتو د زده کوونکو په لور او زده کووني بايد په خپلو ګوتو د ښوونکی په لورې اشاره وکړئ.

- کله چې تاسو **فَعَلْتُ**(ما وکړ) وايئ، ، د ښي لاس د شهادت په ګوته خپل لورې ته اشاره وکړئ. کله چې تاسو **فَعَلْنَا**(موږ وکړ) وايئ، د ښي لاس په څلورو ګوتو د خپلو ځانونو په جهت اشاره وکړئ.

په یاد ولرئ چې د ښی لاس جهت مذکر جنس او د چپ لاس جهت مؤنث جنس ښيي. ډاډه شئ چې د فعل ماض د ټولو صیغو د جهتو لپاره د لاس بازو د سینې سره په افقي توګه ونیسئ.

| شخص | فِعْل مَاضِي (تیره زمانه) | |
|---|---|---|
| دریم | فَعَلَ | هغه وکړ |
| | فَعَلُوا | هغوی وکړ |
| دویم | فَعَلْتَ | تا وکړ |
| | فَعَلْتُمْ | تاسو وکړ |
| لومړی | فَعَلْتُ | ما وکړ |
| | فَعَلْنَا | موږ وکړ |




هغه کلیمې چې په تیره زمانه پورې تړاو لري په کږه **(italic)** توګه ښودل شوي. لکه څرنګه چې عمل بشپړ شوی دي، توري په کاږه ډول ښودل شوي دي.

د تیرې زمانې د فعل د پای بدلون په **شخص** (دریم، دوهم، اول)، **شمیر** (مفرد یا جمع)، **جنسیت** (مذکر یا مؤنث) پورې تړاو لري. دا تغیر ښیي چې کار چا کړی دی.

که تاسو د سړک په منځ کې ودرېږئ، تاسو به د تیر شوی موټر، لارۍ یا جیپ شا ووینئ. هغه څه چې تیر شوي یا تللي، تیره یا ماضي زمانه ښیي. په یو ځل شا لوري ته کتلو سره تاسو ویلای شئ چې څه ډول وسیله (موټر) ولاړ. د دې ټولو د رسمولو پر ځای، موږ یوه الوتکه ښیو کله چې تاسو د ځغاست لیکې (رن وې) په منځ کې ولاړ یاست هغه تیرېږي او ځي. وروستي توري ته په کتو تاسو کولای شئ چې ووایئ چې کار چا تر سره کړی دی، هغه، تا او که ما. دا د پای توري عبارت دي له: (نَا، تُ، تُمْ، تَ، ـــَ ـُوْا)

د دغو ښو زده کول ډېر اړین او ضروري دي، ځکه چې کابو ۹۰۰۰ ځله په قرآن کریم کې په کار وړل شوي دي، په منځنۍ توګه د قرآن کریم هره لسمه کلیمه د دغو ښو په اساس ده. یوازې ۵ یا لسو دقیقو په ترخ کې دا ښې په یاد زده کړئ. راځئ د پورتني مفهوم د زده کولو لپاره په یو بل مثال هم هڅه وکړو:

ماضي




داسې فرض کړئ چې څو کاله وړاندې يو سړي د ام يوه ونه کښېنولې ده. ونه اوس غټه شوې او ميوه کوي . هغه سړی چې دا کار يې کړی (ونه يې کښېنولې) اوس د هغې تر سيوري لاندې ودرېږي. کله چې موږ دا صحنه ګورو، لومړی به موږ غټ شی يعني ونه (د هغه د فعل (عمل) پايله) ووينو او وروسته به موږ کوچنی شی يعني هغه سړی چې دا عمل يې ترسره کړی دی (نَا، تُ، تُمْ، تَ، ـــَ ـُوْا) ووينو. په تيره زمانه کې، عمل د فعل (فَعَل) لومړی برخه او وروسته هغه برخه راځي چې ښيي چې دا کار يا عمل چا تر سره کړی دی (نَا، تُ، تُمْ، تَ، ـــَ ـُوْا).

| شخص | د قَدْ زياتول په کامله زمانه لا ټينګار او تاکيد کوي. | |
|---|---|---|
| دريم شخص | قَدْفَعَلَ | **هغه لا مخکې (دا کار) کړی.** |
| | قَدْفَعَلُوا | **هغوی لا مخکې (دا کار) کړی.** |
| دوهم شخص | قَدْفَعَلْتَ | **تا لا مخکې (دا کار) کړی.** |
| | قَدْفَعَلْتُمْ | **تاسو لا مخکې (دا کار) کړی.** |

| | | |
|---|---|---|
| ما لا مخکې (دا کار) کړی. | قَدْفَعَلْتُ | لومړی شخص |
| موږ لا مخکې (دا کار) کړی. | قَدْفَعَلْنَا | |




## اتم لوست: سورة العصر

۱ښېښتنه: لاندې عبارت وژباړئ.

وَالْعَصْرِ اِنَّ الْاِنْسَانَ لَفِىْ خُسْرٍ ٪(2٪)ۙ
٪(1٪)ۙ

| | | | |
|---|---|---|---|
| | | | |

اِلَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | | | | |

وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ٪ۙ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ
٪(3٪)ۧ

| | | | |
|---|---|---|---|
| | | | |

۲ ښېښتنه: الله ولې په وخت قسم یاد کړ؟

ځواب:

۳ ښېښتنه: د کامیابۍ او بریا شرایط کوم دي؟

ځواب:

٤ پوښتنه: حق چیرته موندلی شو؟

ځواب:

٥ پوښتنه: صبر په څو ډوله دی؟

ځواب:

# د اتم لوست اړوند د ګرامر پوښتنې

۱پوښتنه: د فَعَلَ شپږ ماضي صیغې درې ځله د مانا سره ولیکئ:

| ژباړه | فعل ماضي | فعل ماضي | فعل ماضي | ضمیر | شخص |
|---|---|---|---|---|---|
| | | | | واحد | دریم غائب |
| | | | | جمع | |
| | | | | واحد | دوهم حاضر |
| | | | | جمع | |
| | | | | واحد | لومړی متکلّم |
| | | | | جمع مثنی | |

۲پوښتنه:
لاندېعربیلغتونهپهاجزاووویشئاومانایېولیکئ.

| | |
|---|---|
| مَنْ فَعَلَ هذَا | |
| وَفَعَلْتَ | |
| مِنْ رَبِّكَ | |
| فِيْ دِيْنِهِمْ | |
| اِلٰی رَبِّكَ | |

۳ پوښتنه: لاندې عبارات عربي ته وژباړئ.

| | |
|---|---|
| دا (کار) ما وکړ | |
| په زیان کې | |
| ایمان یې راوړی او نیک اعمال سر ته رسوي. | |
| ستا دین او زما دین | |
| ستا نوم او زما نوم | |

دعا تبلیغ
تصور
احساس
ارزونه اراده

د نهم درس په پای ته رسولو سره، تاسو به ۵۹ **نوي** لغتونه زده کړی، چې ۲٦٤۱۰ ځله په قرآنکریم کې راغلي دي.

# ۹. سورة النصر(دسورة ګڼه. ۱۱۰)

**سریزه:** د حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنه د وینا په اساس دا وروستنی سورت دی چې په بشپړه توګه (په یو ځل) په پیغمبر صلي الله علیه وسلم نازل شوی دی. [مسلم، نسائي]. له دې سورت څخه وروسته، د نورو سورتونو ځیني آیتونه نازل شول. د اسلام دښمنانو په عربستان کې ماتې خوړلې وې او خلکو به په ډلیزه توګه اسلام منلو، ځکه هیڅوک نه وو چې هغوی وویروي یا د هغوی ذهنونه په ناسمو معلوماتو سره مغشوش کړي. هغوی آزادي تر لاسه کړې وه تر څو اسلام ومني.

﴿أَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ﴾ ﴿بِسْمِ اللهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِيْمِ﴾

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| وَالْفَتْحُ ﴿۱﴾ | | نَصْرُ اللهِ | جَآءَ | اِذَا [454] |
| او فتح (کامیابي) | | د الله مرسته | را ورسیږي | کله چې |
| الْفَتْحُ | وَ | نَصْر: مرسته، کومک | جَاءَ: راغله، را ورسید<br>اِذَا جَاءَ: کله چې را ورسید. | إِذْ، إِذَا : کله |
| فتح، بریا، کامیابي | او | | | |
| **ژباړه:** کله چې د الله مرسته او کامیابي (د مکې فتحه) را ورسیږي. | | | | |

- د إِذْ کلیمه په قرآن کریم کې ۲۳۹ ځله او د إِذَا کلیمه ٤٥٤ ځله په قرآن کریم کې راغلي ده. د دواړو مانا "کله" ده.
- د الله د مرستې مانا دا ده چې حق په بل هر څه غالب شي. دلته نَصرُالله دا مطلب رسوي چې موږ یوازې هڅه کولای شو او نتیجه او پایله یوازې په الله پورې اړه لري. له همدې امله موږ باید په ورځني ژوند کې د الله څخه مرسته وغواړو.
- بریا او کامیابي دلته په لسم هجري کال کې د مکې فتحې ته اشاره کوي. کله چې مومنان هر څه د الله په لار کې قرباني کړي، یقیناً چې الله هم هغوی ته خپله مرسته استوي.
- **دعا:** اې الله! موږ ته هم خپله مرسته او کامیابي نصیب کړې.
- **ارزونه:** هغوی له ۲۳ کلنو سخت کار او د الله د بشپړ عبادت او هغه ته د دعا څخه وروسته الله هغوی ته بریا په برخه کړه. موږ د اسلام لپاره څه کړي دي؟
- **اراده:** زه نن، دا اونۍ یا د ژوند په دې مرحله کې څه کولای شم؟ یو نفر باید یو انفرادي او یو ډلییز پلان جوړ کړي تر څو موږ ته هم د الله له لوري مرسته او کامیابي را ورسیږي او ور څخه برخمن شو. یو سړی باید خپل شته، وخت، منابع او وړتیاوې د اسلام د خدمت لپاره ولګوي. که تاسو یو زده کوونکی یاست، نو زیاتې هڅې وکړئ تر څو په خپلو زده کړو کې له ټولو وړاندې او مخکې شئ، دا اسلام ته د خدمت تر ټولو غوره لار ده.

242

| وَرَاَيْتَ | النَّاسَ | يَدْخُلُوْنَ | فِیْ دِيْنِ اللهِ | اَفْوَاجًا ٪(2٪)ۙ |
|---|---|---|---|---|
| **او ته ووينې** | **خلک** | **چې ننوځي** | **د الله په دين** | **ډلې-ډلې** |

| وَ | رَأَيْت | إِنْسَان: سړی | دُخُول ننوتل | فِیْ | دِيْنِ | اللهِ | فَوْج: ډله، ګروپ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| او | ته ووينې | نَاس: خلک | خُرُوج وتل | په | دين | الله | أَفْوَاج: ډلې |

**ژباړه:** او ته به ووينې چې خلک د الله په دين ډلې ډلې ورننوځي.

- دلته له خلکو څخه مطلب د عربستان بيلابيلې قبيلې دي چې د مکې له فتحې وروسته يې اسلام ته مخه کړه.
- دين دوې ماناګانې لري: (۱) سزا يا قضاوت (۲) د ژوند سيستم. دلته مطلب ترې همدا دوهمه مانا ده. په دې آيت کې يې مانا دا ده چې هغه خلک مسلمان شول.
- پورتني آيت ته په کتو، د الله له لوري د مرستې او کاميابۍ پايله څه شی ده؟ خلک هدايت کيږي او اسلام ته داخليږي. آيا موږ د الله څخه بريا د همدې موخې لپاره غواړو؟ ايا موږ له نورو سره مرسته کوو چې په اسلام وپوهيږي او پيروي يې وکړي؟

| فَسَبِّحْ | بِحَمْدِ | رَبِّكَ | | وَاسْتَغْفِرْهُ٪نبيؕ | |
|---|---|---|---|---|---|
| **نو پاکي بيان کړه** | **په ستاينې سره** | **د خپل رب** | **او له هغه ښښنه وغواړه** | | |

| فَ | سَبِّحْ | بِ | حَمْدِ | | وَ | اِسْتَغْفِرْ | هُ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| نو | پاکي بيانول | سره د | ستاينې، حمد | زموږ پالونکی او روزونکی | او | ښښنه وغواړه | د هغه |

**ژباړه: نو خپل رب په سپيڅلتيا وستايه او له هغه ښښنه وغواړه.**

- د سَبِّح مانا دا ده چې وويل شي: سبحان الله. او مانا يې دا ده چې الله له هر عيب، نقص او کمبود څخه پاک دی. هغه د هيڅا مرستې ته اړ نه دی. هغه په خپل ذات، صفاتو، کړنو او قدرت کې يوازې دی. د سبحان الله په ويلو سره، موږ د هغه په نا محدود او بې عيبه حکمت هم اعتراف کوو. د ژوند امتحان چې موږ يې تيرو يو مکمل او بشپړ امتحان دی. موږ بايد د هغه څه په اړوند شکايت ونه کړو چې زموږ د تقدير څخه دي. که چيرې مو داسې وکړل، بيا خو د سبحان الله ضد کړنه سر ته رسوو. د دې پر ځای موږ بايد خپلو عباداتو او دعاګانو ته ادامه ورکړو تر څو الله موږ ته د خپل ورځنې ژوند ازموينې او امتحانونه اسان ه کړي.
- تاسو به څنګه د هغه چا ستاينه بيان کړئ چې تاسو يې پر وړاندې شکايت ولرئ که څه هم ډېر کوچنی وي؟ همدا لامل دی چې ډېرې وختونه موږ وينو چې الحمدالله د تسبيح څخه وروسته ذکر کيږي.

- زموږ تسبیح او حمد تل نیمګړي او ناقص دي. له همدې کبله موږ باید له الله څخه ښښنه وغواړو. هر کله چې موږ د یو ښه عمل د تر سره کولو موکه (فرصت، چانس) تر لاسه کوو، موږ باید ژر تر ژره د الله تسبیح او حمد بیان کړو او له هغه څخه د ښښنې غوښتنه وکړو.

| اِنَّهٗ | كَانَ | تَوَّابًا ٪(3٪) |
|---|---|---|
| **بې شکه، هغه** | **دی** | **توبه قبلوونکی.** |
| اِنَّ : اِنَّ اللهَ مَعَ الصَّابِرِين<br>بې شکه الله له صبر کوونکو سره دی | د کَانَ اصلي مانا وه ده.<br>یوازې د الله لپاره د کَانَ مانا دی ده. | تَابَ: ور ګرځیدل، رجوع کول<br>تَائِب: رجوع کوونکی، توبه کوونکی<br>تَوَّاب: توبه منونکی، توبه قبلوونکی<br>تَوَّاب←تَوَّابُون، تَوَّابِين |
| **ژباړه:** بې شکه هغه ستر توبه قبلوونکی دی. | | |

- دا د مرستې لویه نښه او زموږ په رقم ګنهکارانو ته ښه خبر دی. موږ باید د الله له رحمت څخه هیڅ کله ناهیلي نه شو. په ربښتیني توګه پښیمانه شئ، یعني دا ومنئ چې تاسو ګناه تر سره کړې، د ښښنه وغواړئ او کلک هوډ وکړئ چې هیڅ کله به بیا ګناه نه کوئ. تل محکم باور او عقیده ولرئ چې الله به ستاسو توبه ومني.
- **مثال:** که زه ډېر ووږي وم او یو څوک ووایي چې هغه سلګونو کسانو ته خواړه ورکوي، آیا زه به د هغه څخه فوراً خواړه ونه غواړم؟ په همدې ډول، الله هم په دې آیت کې د خپلې بې اندازې ښښنې څخه خبرې کوي. موږ باید له موکې څخه په ګټه اخیستلو ژر له څخه ښښنه وغواړو.

<u>**ګرامر:**</u> په تیر لو ست کې موږ کامله زمانه (فعل ماضي) زده کړه چې هغه عمل ښیي چې سر ته رسیدلی وي. اوس راځئ چې ناکامله زمانه (فعل مضارع) زده کړو. دا زمانه حال او راتلونکی (مستقبل) په ځان کې رانغاړي. هغه عمل ښیي چې لا تر اوسه سر ته نه دی رسیدلی؛ همدا اوس مهال د کیدلو په حال کې دی یا به په راتلونکی کې کیږي.

د فعل مضارع بڼې د **TPI** په کارولو سره د فعل ماضي په شان تمرین بې له لاندې څخه:

1) خپل لاس د سینې پر ځای د سترګو سره ونیسئ. په فعل ماضي کې عمل بشپړ شوی وي او په همدې اساس د لاس سطحه ټیټه ده. په فعل مضارع کې به عمل شروع کیږي یا به په جریان کې وي او په همدې اساس د لاس سطحه لوړه ده.
2) د فعل ماضي د ټیټ غږ بر خلاف، فعل مضارع په لوړ غږ تمرین کړئ. څه چې شوي دي هغه تیر شوي دي، له همدې کبله د فعل مضارع لپاره غږ هم ټیټ دی.

په فعل ماضي کې کلیمې په کږه **(Italic)** بڼه لیکل شوي او په فعل مضارع کې په قایمه **(upright)** بڼه لیکل شوي دي. دا کار یو ځل بیا د فعل ماضي لپاره دا ښې چې کار بشپړ شوی دی، کلیمات هم په همدې خاطر کاږه لیکل شوي چې راحت شي. په فعل مضارع کې کلیمات په قایمه بڼه ښودل شوي تر څو په ډاګه شي چې کار په جریان کې دی یا ژر پیلیږي.

| شخص | فِعْل مُضَارِعنا کامله زمانه | |
|---|---|---|
| دريم | **يَفْعَلُ** | هغه يې کوي (سرته يې رسوي). و به يې وکړي. |
| | **يَفْعَلُون** | هغوی يې کوي. و به يې کړي. |
| دوهم | **تَفْعَلُ** | ته يې کوې. و به يې کړې. |
| | **تَفْعَلُون** | تاسو يې کوئ. وبه يې کړئ. |
| لومړی | **أَفْعَلُ** | زه يې کوم. و به يې کړم. |
| | **نَفْعَلُ** | موږ يې کوو. و به يې کړو. |

د فعل ماضي بڼې په پای کې تغيربدلې، د فعل مضارع د بڼو لپاره په پيل کې بدلون راځي. د دې خبرې په ياد ساتلو لپاره لاندې ټکې په پام کې ساتئ.

که تاسو د سړک په منځ کې ولاړ ياست، تاسو د هغه موټر، لارۍ يا جيپ چې ستاسو په لور را روان دی، يوازې مخ ليدلای شئ. هغه څه چې راځي فعل مضارع ښيي. يوازې د مخ کتنه بسنه کوي چې تاسو وواياست چې کوم ډول وسيله را روانه ده. د ډول ډول وسيلو د رسمولو پر ځای موږ يوه الوتکه ښييو چې د کښيناستلو په حال کې ده کله چې تاسو د ځغاست ليکې په منځ کې ولاړ ياست. د پيل توري ته په کتلو تاسو ويلای شئ چې کار څوک تر سره کوي يا به يې تر سره کړي، ته، هغه او که زه. دا د پيل توري (**يَتَأَنَ**) دي.




| شخص | سَوف : ژر | | سَ : ډېر ژر (کله چې د سَوف ويلو وخت نه | | د لاَ زياتول يې منفي کوي. | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| دريم | **سَوْفَيَفْعَلُ** | ژر به يې هغه وکړي. | **سَيَفْعَلُ** | ډېر ژر به يې هغه وکړي. | **لاَيَفْعَلُ** | هغه يې نه کوي. |
| | **سَوْفَيَفْعَلُون** | ژر به يې هغوی وکړي. | **سَيَفْعَلُون** | ډېر ژر به يې هغوی وکړي. | **لاَيَفْعَلُون** | هغوی يې نه کوي. |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| دوهم | **سَوْفَتَفْعَلُ** | ژر به يې ته وکړې. | **سَتَفْعَلُ** | ډېر ژر به يې ته وکړې. | **لاتَفْعَلُ** | ته يې نه کوې. |
| | **سَوْفَتَفْعَلُون** | ژر به يې تاسو وکړئ. | **سَتَفْعَلُون** | ډېر ژر به يې تاسو وکړئ. | **لاتَفْعَلُون** | تاسو يې نه کوئ. |
| لومړی | **سَوْفَأَفْعَلُ** | ژر به يې زه وکړم. | **سَأَفْعَلُ** | ډېر ژر به يې زه وکړم. | **لاأَفْعَلُ** | زه يې نه کوم. |
| | **سَوْفَنَفْعَلُ** | ژر به يې موږ وکړو. | **سَنَفْعَلُ** | ډېر ژر به يې موږ وکړو. | **لانَفْعَلُ** | موږ يې نه کوو. |

فعل مضارع




د نا کاملې زمانې د يادولو لپاره يو بل ټکی (د ونې کښينول).

فرض کړئ چې ستاسو ښي څنګ ته ستاسو ملګری ياسر ناست دی او يو کوچنی نياګی کښينوي. ياسر د کوچني نيالګي تر څنګ ډېر لوی ښکاري او په دې بنسټ اول موږ هغه وينو. د **يَاسِر "يَ"** په ياد ولرئ. دغه يَد **يَفْعَلُ** لومړي توري شوی دی. کله چې ډېر زيات ياسران کار کوي، موږ به د **وْن** غږ هم واورو چې د **يَفْعَلُوْن** د کليمې په پای کې ور سره يوځای شوی!

په همدې ډول فرض کړئ چې ښاغلی توفيق ستاسو تر مخه يو نياګۍ کښينوي. توفيق په د هغه کوچنې نيالګي تر مخه ډېر لوی ښکاره شي او پر دې اساس اول موږ هغه وينو. د **تَوْفِيق** " **تَ** " د **تَفَعَّلَ** له لومړی توري سره مطابقت لري. کله چې ډېر زيات توفيقان کار کوي، موږ به يو ځل بيا د **ون** غږ هم واورو چې د **تَفَعَّلُوْن** د کليمې په پای کې ور سره يوځای شوی!

د "زه" لپاره موږ په عربي کې " **أَنَا**" لرو. د "**أَنَا**" أَد "**أَفْعَلُ**" لهأَسره مطابقت لري.

د "**نَحْنُ**" نَد " **نَفْعَلُ**" لهنَسره مطابقت لري. په ياد ولرئ چې سمه کليمه **نَفْعَلُ**ده، نه **نَفْعَلُون**. کله چې موږ (نحن) کار تر سره کړئ، موږ هغه بې غږه کوو او د "ون" کوم غږ نه ورسره زياتوو.

**يادونه:**په لنډه توګه، په کامله زمانه کې، په پای کې د (ـَ وْا تَ تُمْ تُ نَا) تغيير راځي، خو په نامکمله زمانه کې په پيل کې د (يَ تَ أَ نَ) بدلون راځي.

**تقريباً د قرآن کريم ۸۰۰۰ کليمې په نامکمله زمانه کې دي. کابو د قرآن کريم هره ۱۰مه کليمه! هغوی په بشپړه توګه زده کړئ. د پنځو څخه تر لسو دقيقو پورې وخت د دغو بڼو په يادولو کې ولګوئ.**




## نهم لوست: سورة النصر

۱ پوښتنه: لاندې عبارت وژباړئ.

اِذَا جَآءَ نَصْرُ اللّٰهِ وَالْفَتْحُ ٪(٪1)٪

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | | | | |

وَرَاَيْتَ النَّاسَ يَدْخُلُوْنَ فِىْ دِيْنِ اللّٰهِ اَفْوَاجًا ٪(٪2)٪

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | | | | |

فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَاسْتَغْفِرْهُ٪نبي

| | | | |
|---|---|---|---|
| | | | |

اِنَّهٗ كَانَ تَوَّابًا ٪(٪3)٪

| | |
|---|---|
| | |

۲ پوښتنه: دا سورت څه وخت نازل شوی دی؟

ځواب:

۳ پوښتنه: د تسبیح او حمد تر منځ توپیر بیان کړئ؟

ځواب:

٤ پوښتنه: په دې سورت کې د الله د مرستې او برې څخه ما نا څه ده؟

ځواب:

٥پوښتنه: د النصر سورت څخه موږ څه درس اخلو؟

ځواب:

# د نهم لوست اړوند د ګرامر پوښتنې

۱ پوښتنه: د یَفْعَلُ شپږ مضارع صیغې درې ځله د مانا سره ولیکئ:

| ژباړه | فعل مضارع | فعل مضارع | فعل مضارع | شمیر | شخص |
|---|---|---|---|---|---|
| | | | | واحد | دریم غائب |
| | | | | جمع | |
| | | | | واحد | دوهم حاضر |
| | | | | جمع | |
| | | | | واحد | لومړی متکلّم |
| | | | | جمع مثنی | |

۲پوښتنه:
لاندېعربیلغتونهپهاجزاووویشئاومانایېولیکئ.

| | |
|---|---|
| مَنْ يَفْعَلُ ذٰلِكَ | |
| انَّ اللهَ يَفْعَلُ | |
| اِلَى يَوْمِ الدِّيْنِ | |
| مَعَ كِتَابِهَا | |
| وَعَلَى اللهِ | |

۳ پوښتنه: لاندې عبارات عربي ته وژباړئ.

| | |
|---|---|
| هغه وکړ او ما وکړ | |
| هغوی وکړ او تاسو وکړ | |
| هغه یې کوي او زه یې کوم | |
| او موږ یې کوو | |
| دا زه کوم | |




د لسم درس په پای ته رسولو سره،
تاسو به ٦١ **نوي** لغتونه زده کړی، چې **٢٦٨٤٢** ځله په قرآنکریم کې راغلي دي.

# ۱۰. سورة الاخلاص (دسورة ګڼه. ۱۱۲)

**سریزه:** دا سورت کوچنی خو خورا مهم دی. کله چې تاسو په لمانځه کې دا سورت لولئ، دا کار یوازې په دې خاطر مه کوئ چې دا سورت کوچنی دی بلکې د هغه مانا او اهمیت هم په پام کې ساتئ.

- د قرآن کریم له درېمي برخي (ثلث) سره مساوی دی.
- ځینو اساسي پوښتنو ته ځواب وایي، لکه: موږ باید د چا عبادت وکړو، څوک د دې وړ دی چې عبادت یې وشي.
- د پیغمبر صلي الله علیه وسلم سنت دا وو چې دا سورت د دوه نور سورتونه به یې یو ځل د هر فرض لمانځه نه وروسته او دری ځله د سهار او ماښام لمانځه نه وروسته تلاوت کول.

﴿أَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ﴾ ﴿بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ﴾

| | | | |
|---|---|---|---|
| قُلْ | هُوَ | اللّٰهُ | *85 أَحَدٌ ٪(1٪)ۚ |
| **ووایه** | **هغه** | **الله دی،** | **یو.** |
| په سلګونو ځله په قرآن کریم کې راغلی دی. | هُوَ الله : هغه الله دی | | یووَاحِد:<br>أَحَد: یو او یوازې |
| **ژباړه:** ووایه هغه الله دی، یوازې یو. | | | |

- ➢ الله یوازې دی. راځئ چې د هغه د وحدانیت (یوالی) څلور برخې د مثالونو سره ولولو:
  1. هغه په ذات کې یو دی. نه کوم شریک (پارټنر) لري او نه خپلوان، نه پلار او نه زوی.
  2. هغه په صفاتو کې یو دی. هیڅوک د غیبو علم نه لري، هیڅوک هغه څه نه شي لیدلای چې الله یېویني، هیڅوک د هغه په شان مرسته نه شي کولای او هیڅوک هغه لار نه ویني چې هغه یې ویني.
  3. هغه په خپلو حقوقو کې یوازې دی. د بیلګې په توګه هیڅوک د دې حق نه لري چې عبادت د یې وکړای شي.
  4. هغه په خپل اختیار او ځواک کې یوازې دی. د بیلګې په توګه یوازې هغه حق لري چې یو شی حرام یا حلال وګڼي. که موږ په یوه کفري ټولنه کې ژوند کوو، موږ باید د الله پر دې حکمت هغه کسان وپوهو چې نه پوهیږي.
- ➢ **دعا:** اې الله! له ما سره مرسته وکړې چې یوازې ستا عبادت وکړم.
- ➢ **ارزونه**: څو ځله تا د خپلو نفسي غوښتنو پیروي کړې؟ په داسې حال کې چې قرآن کریم کې راځي: أَفَرَأَيْتَ مَنِ اتَّخَذَ إِلَـٰهَهُ هَوَاهُ (نو ایا تا کله دهغه چاپه حال باندې غورکړی دی چې هغه خپل نفسي خواهش خپل خدای وګرځاه)[ ٢٣:٤٥]. څو ځله دې د شیطان منلې ده؟ په داسې حال کې چې قرآن فرمایي: أَلَّا تعبدوا الشیطان(دشیطان بندګي مه کوئ) [ ٦٠:٢٣]. ولې هغه ته غوږ شوی یم (د هغه مې منلې)؟ د بدې کمپنۍ، ټلوېزیون، انټرنټ ... له امله.
- ➢ دا **اراده** ونیسئ چې د ژوند بد څیزونه به له منځه وړم تر څو وکولای شم یوازې د الله عبادت وکړم.

- د الله کلیمه نورو ته **ورسوئ**. دا آیت په "قل" سره پیلږي. موږ باید د اسلام پیغام نورو ته په حکمت او نرمۍ سره ورسو، لکه څرنګه چې محمد صلي الله علیه وسلم کول. د توحید او اخلاص د خپرولو لپاره له دې سورت څخه کار واخلئ.

| | |
|---|---|
| اَللهُ | الصَّمَدُ ٪(٪2)ۚ |
| **الله** | **بې نیازه دی** |
| دا د الله نوم دی او پاتې نور ټول لکه رحمن، رحیم... د هغه صفات دي. | **الصَّمَدُ:** هغه هیچا ته اړ نه دی او ټول هغه ته اړ دي. |
| **ژباړه:** الله هیچا ته اړ نه دی او ټول هغه ته اړ دي. | |

- د دې آیت په تلاوت کولو سره دا په یاد ساتئ چې په حقیقت کې هر شی هغه ته اړ دي خو هغه هیچا ته هم اړتیا نه لري. په دې ځان وپوهوئ چې په بیلیونونو مخلوقات د انسانانو په ګډون د هغه د رحمت، مهربانۍ او د هغه په همیشنۍ مرسته ژوندي پایي.
- موږ الله ته داسې دعا هم کولای شو: اې الله! یوازې تا زما اړتیاوې او ضرورتونه رفع کړي دي او مرسته دې را سره کړې، نو اې الله په راتلونکي کې مې هم اړتیاوې رفع او مرسته را سره وکړه! اې الله ما یوازې ستا محتاج وکرځوه او بل چا ته مې مه اړ باسه.

| لَمْ یَلِدْ٪لا (347) | | وَلَمْ (347) | یُوْلَدْ ٪(٪3)ۙ |
|---|---|---|---|
| هغه څوك نه دي زیږولی | | او نه | زیږول شوی‌دی. |
| لَمْ | یَلِدْ | لَمْ: نه دی | یَلِد: زیږولی (معلوم فعل) |
| نه دی | زیږولی | لَنْ: نه به وي | یُولَد: زیږول شوی (مجهول فعل) |
| **ژباړه:** نه هغه څوك زیږولی دی او نه هغه زیږول شوی‌دی. | | | |

- د دې آیت په لوستلو موږ باید دا مسوولیت احساس کړو چې موږ باید دا پیغام له دوو بیلیونو څخه زیاتو عیسویانو ته ورسو چې دا ناسمه عقیده لري چې عیسی علیه السلام د الله زوی دی (نعوذ بالله).
- ولې موږ ماشومان لرو؟ ځکه چې موږ کله د یوازیتوب او ستړیا احساس وکړو، هغوی موږ خوشحالوي. کله چې موږ زاړه شو، هغوی زموږ پام ساتي. کله چې موږ مړه شو، هغوی زموږ پلانونو او هیلو ته سره کولو ته دوام ورکوي. الله له ټولو دا ډول کمزوریو او اړتیاوو څخه پاک دی.
- د زرګونو، میلیونونو، بیلیونونو کلنو پخو وخت ته د تګ هڅه وکړئ او فکر وکړئ!! هغه (الله) هغه وخت هم وه. همداسې په راتلونکي کې به هم هغه وي، او الله به تل تر تله وي.

85*

| وَلَمْ يَكُنْ | | | لَّهُ | كُفُوًا | اَحَدٌ ٪(4٪) |
|---|---|---|---|---|---|
| **او نشته دی** | | | **هغه لره** | **سيال** | **هيڅ څوک.** |
| وَ | لَمْ | يَكُن | د هغه لپاره، هغه لره | برابر | أَحَد : يو (فقد د الله لپاره راځي)<br>أَحَد : هيڅوک، هيڅ يو ( په منفي بڼه راځي، لکه دلته) |
| او | نه | شته | | | |
| **ژباړه:** او هيڅوک د هغه سيال نشته. | | | | | |

- هيڅوک د الله سيال او برابر نشته، نه په ذات کې، نه په صفاتو کې، نه په حقونو کې او نه په اختيار کې. د نړۍ د پراخولي د تصور کوښښ وکړئ. په بيليونونو- بيليونونو نوري کاله پراختيا! او يوازې يو الله، د ټولو کايناتو يوازينی پيداکوونکی (خالق).
- **دعا:** اې الله! له ما سره مرسته وکړې چې په دې پوره يقين او کلکه عقيده ولرم چې يوازې ته زما د ژوند د ټولو چارو او ستونزو لپاره بس يې.
- **ارزونه:** هغه صحنه مي ياد ته راځي چې زه د زورور او قدرتمنو خلکو په حضور کې ولاړ وم؟ آيا داسې څوک شته چې زه ترې وېرېږم؟ آيا له چا څخه د نفعي (ګټې) توقع لرم؟

<u>**په مينه يې تلاوت کړئ:**</u> د پيغمبر صلي الله عليه وسلم يو صحابي به په هر رکعت کې د اخلاص سورت تلاوت کاوه او يو بل سورت به يې هم ورپسې لوست. کله چې پيغمبر صلي الله عليه وسلم ترې وپوښتل چې ولې داسې کوې؟ هغه وويل:" له دې سورت سره ډېره زياته مينه لرم." پيغمبر صلي الله عليه وسلم ورته وويل:" له دې سورت سره ستا مينې ته جنت ته بوتلې."

څه ډول موږ له دې سورت سره خپله مينه زياتولی شو؟ په دې اړه يو ټکی: که ته يو عادي سړي وې او ستا يو نږدې خپلوان يا ملګرى يو وتلی ورزش کار يا يو رهبر وي، آيا ته به په خوښۍ له هغه څخه يادونه ونه کړې کله چې ته ځان چا ته ورپېژنې؟ راځئ دا بحث نور هم پسې وغځو. الله زموږ خالق او پيدا کوونکی دی. الله موږ پيدا کړي يو او دا ټوله حيرانونکې نړۍ يې زموږ لپاره پيدا کړې ده! د هغه مينه له موږ سره د يوې مور له مينې چه له خپلو ماشومانو سره يې لري ٧٠ ځله زياته ده! نو بيا ولې موږ زيات – زيات د هغه نوم په مينه ياد نه کړو او په مينې سره د هغه ستاينه ونه کړو؟ ووايه: د ما الله هغه ذات دی چې په خلقت، حکمت، ربوبيت، قدرت، مينه، ښنه .... کې هيڅ سيال او جوړه نه لري. دا ډول احساس به له تاسو سره ان اشاء الله مرسته وکړئ چې له الله او د دې سورت له تلاوت سره مو مينه زياته شي.

<u>**ګرامر:**</u> په دې لوست کې به د ګرامر دوې نوې قاعدې زده کړو، ان شاء الله.

1. د فعل د **امر** او **نـهي** بڼو د جوړولو قاعدې.

| أمْر | نَـهْي | |
|---|---|---|
| | | • کله چې تاسو اِفْعَلْ وايئ، د ښي لاس په شهادت ګوته |

| | | | |
|---|---|---|---|
| | | | |
| اِفْعَلْ | و يې کړه (تر سره يې کړه)! | لاَ تَفْعَلْ | مه يې کوه! |
| اِفْعَلُوا | و يې کړئ! | لاَ تَفْعَلُوا | مه يې کوئ! |
| | | | |

مخامخ لوري ته يو کس ته اشاره وکړئ او لاس مو داسې ښکته کړئ لکه تاسو چې مخامخ کوم ولاړ کس ته امر کړئ. کله چې اِفْعَلُوا وايئ، هم دا کړنه په ځلورو ګوتو سره سرته ورسوئ.

- کله چې تاسو لاَتَفْعَلْ وايئ، د ښي لاس په شهادت ګوته اشاره وکړئ او لاس مو د چپ لوري څخه ښي ته داسې وخوځوئ لکه يو کس چې د کوم کار له کولو څخه منع کوئ. کله چې لاَتَفْعَلُوا وايئ، هم دا کړنه په ځلورو ګوتو سره سرته ورسوئ.

2. کله چې ضميرونه له فعل سره يو ځای راشي، مفعول کيږي. لاندې مثال ته ځير شئ چې د **خَلَقَ** (هغه پيدا کړی) له فعل سره کار شوی دی. د خَلَقَنِي (هغه زه پيدا کړی يم) ښه درسره ياداشت کړئ چې دلته د "ي" پر ځای "نِي" استعمال شوی دی. فعل (لومړی برخه) ممکن کامله، ناکامله، امر، نهي يا په بله هره بڼه وي.

| شخص | شمير | متصله/ملکي ضميرونه | | خَلَقَ + ... هغه (الله) پيداکړی | |
|---|---|---|---|---|---|
| دريم | واحد | ـهٗ | هغه | خَلَقَهٗ | هغه، هغه پيداکړی دی. |
| | جمع | ـهُمْ | هغوی | خَلَقَـهُمْ | هغه هغوی پيدا کړي دي. |
| دوهم | واحد | ـكَ | ته | خَلَقَكَ | هغه ته پيدا کړی يې. |
| | جمع | ـكُمْ | تاسو | خَلَقَكُمْ | هغه تاسو پيدا کړي ياست. |
| لومړی | واحد | نِي | زه | خَلَقَنِي | هغه زه پيدا کړی يم. |
| | جمع مثنی | ـنَا | موږ | خَلَقَـنَا | هغه موږ پيدا کړي يو. |




# لسم لوست: سورة النصر

۱ ښېښتنه: لاندې عبارت وژباړئ.

قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ ٪(1٪)ۚ

| | | | |
|---|---|---|---|
| | | | |

اَللّٰهُ الصَّمَدُ ٪(2٪)ۚ

| | |
|---|---|
| | |

لَمْ يَلِدْ٪لاۙ وَلَمْ يُوْلَدْ ٪(3٪)ۙ

| | |
|---|---|
| | |

وَلَمْ يَكُنْ لَّه كُفُوًا اَحَدٌ ٪(4٪)ۧ

| | | | |
|---|---|---|---|
| | | | |

۲ ښېښتنه: د دې سورت د ځانګړتیاوو او خاصیتونو په اړه څو کرښې ولیکئ؟
ځواب:

۳ ښېښتنه: پنځه هغه ټکي چې په دې سورت کې د الله په اړه ذکر شوي دي، ویې لیکئ؟
ځواب:

٤ ښېښتنه: څنګهموږلهدېسورتسرهخپلهمینهزیاتولشو؟
ځواب:

٥ ښېښتنه: د هغه صحابي کیسه بیان کړئ چې له دې سورت سره یې مینه درلودله؟
ځواب:

# د لسم لوست اړوند د ګرامر پوښتنې

۱ پوښتنه: (الف) د ټولو فاعلي ضميرونو په کارولو سره لاندې خالي ځايونه ډک کړئ، لکه په لومړی کرښه کې.

| شخص | شمير | ضمائر | خَلَقَ | ژباړه |
|---|---|---|---|---|
| دريم غائب | واحد | ـهٗ ـهٖ | خَلَقَهٗ | هغه، هغه پيدا کړی |
| | جمع | ـهُمْ ـهِم | | |
| دوهم حاضر | واحد | ـكَ | | |
| | جمع | ـكُمْ | | |
| لومړی متکلّم | واحد | نِي | | |
| | جمع مثنی | ـنَا | | |

(ب) دوه ځله فعل امر او فعل نهې د مانا سره وليکئ.

| امر ونهي | امر ونهي | امر ونهي | ژباړه |
|---|---|---|---|
| لاَ تَفْعَلْ | | | |
| اِفْعَلُوا | | | |
| لاَ تَفْعَلُوا | | | |
| اِفْعَلْ | | | |

۲پوښتنه:
لاندېعربيلغتونهپهاجزاووويشئاومانايېوليکئ.

| | |
|---|---|
| فَخَلَقَ | |
| لَاتَفْعَلْ هٰذَا | |
| فَعَلَهُ | |

۳ پوښتنه: لاندې عبارات عربي ته وژباړئ.

| | |
|---|---|
| هغه زه پيدا کړی يم | |
| هغه يې نه کوي | |
| او موږ نه کاوه | |

| | |
|---|---|
| وَافْعَلُوا الْخَيْرَ | |
| وَمَا فَعَلْتُهُ | |

| | |
|---|---|
| همدارنګه دا هم مه کوه | |
| نو هغه څوک چې ته يې پيدا کړی يې | |




د يوولسم درس په پای ته رسولو سره،
تاسو به ٦١ **نوي** لغتونه زده کړی، چې
**۲۹۱۳۱** ځله په قرآنکريم کې راغلي دي.

# ۱۱. سورة الفلق(دسورة ګڼه. ۱۱۳)

**سريزه:** الفلق او الناس سورتونه چې د قرآن کريم دوه وروستني سورتونه دي موږ ته د ځانونو ساتلو لپاره غوره دعا ګانې راښيي.

- دا د پيغمبر صلي الله عليه وسلم سنت دی چې د قرآن کريم دری وروستي سورتونه د هر لمانځه څخه وروسته يو ځل او د سهار او ماښام له لمانځه څخه وروسته دری ځله تلاوت شي.
- له عايشي رضي الله عنها څخه روايت دی چې پيغمبر صلي الله عليه وسلم به مخکې له بيدېدلو څخه دری وروستي سورتونه په خپلو لاسونو چُف کول او بيا به يې په ټول بدن را کاږل. [بخاري او مسلم]

څوک زموږ څخه غواړي چې خوندي او محفوظ وي؟ هر څوک! بيا نو موږ بايد د دې سورتونو په منظمه توګه تلاوت خپل عادت وګرځو. د دې کار په کولو سره موږ دوې ګټې کوو: ( ۱) خوندي کيږو، او ( ۲) د سنتو د اتباع ثواب او اجر تر لاسه کوو.

﴿أعوذ بالله من الشيطان الرجيم﴾ ﴿بسم الله الرحمن الرحيم﴾

| قُلْ | اَعُوْذُ | بِرَبِّ | الْفَلَقِ ۙ(1) |
|---|---|---|---|
| **ووايه** | **زه پناه غواړم** | **په رب** | **د سبا** |
| | أَعُوذُ بِاللهِ | بِ + رَبِّ | فَلَق : سبا، سپيده داغ |
| **ژباړه:** و وايه زه پناه غواړم دسبا په رب. | | | |

- په ياد ولرئ چې هر يو شپه او ورځ د فتنو او افتونو سره مخ دی د بيلګې په توګه ويروسونه، شريرا و حاسد خلک.
- **تصور وکړئ:** الله د سبا رب دی. د لمر، د سبا (سپيده داغ) د منبع، د ځمکې څخه د هغه د واټن، د ځمکي د مدار ... په اړه مطالعه او فکر وکړئ. او بيا د دې سورت د تلاوت په وخت کې د الله د لويی احساس وکړئ.
- کله چې دا سورت تلاوت کوئ هغه دوه خيزونه درک کړئ چې دلته يې يادونه شوې ده: الله رب (د هر څه پالونکی او روزونکی) دی، او هغه د شپې له تيارو څخه ورځ راولي. تياره له شر سره مقايسه شوې او سبا په ژغورنه (نجات) دلالت کوي.

- دا سورت په قل (ووايه) نو موږ بايد دا سورت تلاوت کړو او په حکمت او نرمۍ يې نورو ته ورسو، هماغه د رسول الله صلي الله عليه وسلم په طريقه.

| | | | |
|---|---|---|---|
| خَلَقَ ٪(2٪)ۙ | 2155<br>مَا | 29<br>شَرِّ | مِن |
| چې هغه پيدا کړی دی | د هغه څه څخه | شر | له |
| خالق: پيداکوونکی | څه شی | | |
| **ژباړه:** دهرهغه څه له شر څخه چې هغه پيدا کړی دی. | | | |

- شرّ دوې ماناګانې لري: بدي او تکليف. ځينې بدۍ ښې ښکارېږي خو پايله او عاقبت يې ډېر بد وي. په دې اساس هغه هم د شر له ډلې څخه دي.
- موږ د الله څخه د ټولو هغو شرونو څخه ساتنه غواړو چې هغه پيدا کړي دي، لکه د هغه د مخلوقاتو له شر څخه. د بېلګې په توګه الله، انسانان د خپل عبادت لپاره پيدا کړي دي خو ځينې د هغوی څخه نور ځوروي. موږ له الله څخه غواړو چې موږ له داسې خلکو څخه وساتي.
- همدارنګه موږ له الله څخه غواړو چې موږ له ټولو ژونديو (حيه) او غير ژونديو (غير حيه) مخلوقاتو له شر څخه وساتي.
- الله خالق دی او هر څه هغه پيدا کړي دي. الله د موږ د هغه د مخلوقاتو (چې هر څه پکې راځي) له شر څخه وساتي. که څه هم درې وروستي آيتونه د دريو مشخصو شرونو څخه بحث کوي. کوم يو له دغو دريو (شپې، کوډو او حسد) څخه ډېر معمول دی! موږ نه پوهيږو که دا شرونه زموږ په وړاندې په کار اچول شوي وي!

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| وَقَبَ ٪(3٪)ۙ | إِذَا | غَاسِقٍ | وَمِنْ شَرِّ | |
| چې هغه خوره شي. | کله | د تروږمی (تيارې) | او د شر څخه | |
| وَقَبَ : چې هغه خوره شي<br>اِذَا وَقَبَ : چې هغه خوره شي | | | شَرِّ \| مِنْ \| وَ | |
| | | | شر \| څخه، له \| او | |
| **ژباړه:** او دشپې دتروږمی له شر څخه ، چې کله هغه خوره شي. | | | | |

- د هر دولسو ساعتونو وروسته شپه راځي. د کار وخت پای ته رسيدلی او خلک نور استراحت کوي. په دې وخت کې شر او فساد په اسانۍ سره د انسان مغز ته لاره کوي. د بې کاره سړی مغز د شيطان کار ځای دی.
- ډيري د شر او فساد چارې او غير اخلاقي پيښې د شپې په مهال سرته رسيږي، لکه خراب ټلويزيوني پروګرامونه، د فساد محفلونه، خراب فلمونه او داسې نورې بدې چارې.
- د غلو او دښمنانو لپاره دا اسانه د چې په شپه کې تيرى وکړي.

- د شپې تر ناوخته وېښ پاتې کيدل هم بد کار دی، ځکه چې سهار د وخته پاڅيدل ستونزمن کوي. دا چاره روغتيا ته هم ډېر زيان رسوي. تاسو همدارنګه د سهار په وخت د کار کولو تر ټولو غوره چانس هم د لاسه ورکوئ.

| وَمِنْ شَرِّ | النَّفّٰثٰتِ | فِی الْعُقَدِ ٪(4٪)ۙ |
|---|---|---|
| او د شر څخه | د پو کوونکيو | په غوټو کې. |
| | نَفلَثَّةٌ: هغه کس چې پو کي.<br>جمع حالت دنَفلَثَّةدنَفلَثَّات | عُقْدَة : غوټه |
| ژباړه: او په غوټو کې د پوکوونکيو (نارينه و يا ښځينه و) د شر څخه | | |

- په ځينو هغو کورنيو کې چې تر منځ يې اړيکې ښه نه وي، خلک د خپلوانو سره د کتلو او ملاقات څخه وېره کوي. دوی د هغوی له کډو او نورو فتنو څخه په ډار کې وي. دا سورت د ټولو ستونزو لپاره تر ټولو غوره علاج او درملنه ده.
- کوډ او جادو د الله له لوري ستره ازموينه ده. که هغوی په الله ټينګه عقيده و نه لري، هغوی د شرک مرتکب کيږي او د حل لپاره غير اسلامي لارو چارو ته لاس اوږدوي.
- هغه ورځني پوکوني (پوفونه) له ياده مه باسئ چې زموږ هغه دښمنان يې سر ته رسوي چې زموږ سره اوسيږي! پيغمبر صلي الله عليه وسلم فرمايلي دي: هر کله چې کوم يو له تاسو څخه ويده کيږي، شيطان درې غوټې په خپله غاړه پورې تړي. هغه دا طلسم په هره غوټه وايي:" ته اوږده شپه لرې، نو وېده شده." کله چې هغه را ويښ شي او الله ياد کړي، يوه غوټه ايسته کيږي. که هغه اودس وکړي دوهمه غوټه له منځه ځي؛ او کله چې هغه لمونځ وکړي، ټولې غوټې به لرې او له منځه ولاړې شي او هغه به سهار په خوښۍاو ارامۍ سره پيل کړي او که نه هغه به په يو بد او د لټې په حالت کې را پاڅيږي. [بخاري او مسلم].
- که تاسو د شپې تر ډېره ويښ و اوسئ، تاسو شيطان ته يوه ستره موکه او چانس ورکوئ چې تاسو ويده کړي او د سهار لمونځ در څخه پاتې شي.

| وَمِنْ شَرِّ | حَاسِدٍ | اِذَا | حَسَدَ ٪(5٪)ࣖ |
|---|---|---|---|
| او د شر څخه | د رخه ناک | کله چې | هغه رخه کوي |
| | فَاعِل : سر ته رسوونکی<br>حَاسِد : هغه چې رخه (حسد) کوي | | حَسَدَ : هغه رخه (حسد) وکړ<br>اِذَا حَسَدَ : کله چې هغه رخه کوي. |

| |
|---|
| **ژباړه:** او د شر څخه د رخه ناک کله چې هغه رخه کوي. |

- يو بخيل، بې پيرزوينې، رخه ناک او حسود سړی به همدا هڅې کوي چې ستاسو حيثيت، کار، شته تباه او له منځه يوسي او يا تاسو وځوروي.
- الله ته دعا وکړئ چې موږ له دې څخه وژغوري له چا سره حسد او کينه وکړو او الله دې موږ د نورو له حسد څخه هم وساتي. پيغمبر صلي الله عليه وسلم فرمايلي: له کينې څخه ځان وساتئ، ځکه کينه تقوی داسې له منځه وړي لکه اور چې لرګي له منځه وړي. يا يې د لرګيو پر ځای واښه ياد کړي دي. [ابوداوود].

**ګرامر:** راځئ چې د لاندې دريو بڼو جوړول (تشکيلول) زده کړو: فَاعل، مفعُول، فعل

| active participle; passive participle, and verbal noun | | يو وخت مسلمانانو نړۍ ته پوهه، هنر او ټکنالوجي ورښودل. اوس دا چاره سرچپه او بر عکس ده ځکه موږ قرآن ته شا کړې ده. په ياد ولرئ چې بيا يې ورته وښاياست. |
|---|---|---|
| **فَاعِل** | ترسره کوونکی | کله چې تاسو **فَاعِل**(کوونکی) وايئ، په ښي لاس يې داسې وښاياست لکه تاسو چې څه ورکوئ. يو چا ته چې په خيرات کې يوه روپۍ ورکوئ! |
| **مَفْعُول** | اغيزمن کيدوونکی | کله چې تاسو **مَفْعُول**(هغه څوک چې اغيزمن کيږي يا عمل پرې واقع کيږي) وايئ، په ښي لاس يې داسې وښاياست لکه تاسو چې څه تر لاسه کوئ. په ورغوي کې مو يو روپۍ (سکه) د خپل ورغوي په واسطه تر لاسه کوئ! |
| **فِعْل** | تر سره کول، عمل (د تر سره کولو) | کله چې تاسو **فِعْل**(کول، تر سره کول) وايئ، خپل ښي لاس موټی او داسې يې وخوځوئ لکه تاسو چېرې د يوې کړنې قوت ښيئ. |
| **جمع. فَاعِلُون، فَاعِلِين** | | |
| **جمع. مَفْعُولُون، مَفْعُولِين** | | |

د پنځو څخه تر لسو دقيقو وخت مو ورکړئ او باوري شئ چې د **TPI** څخه په پوره استفادې سره، تاسو د **فَعَلَ** جدول په بشپړه توګه ياد او حفظ کړی دی. تقريباً د قرآن کريم ۱۹،۰۰۰ کليمې ( په تخميني توګه ۲۵%) له همدې ډولونو څخه دي، د بيلګې په توګه: په منځنۍ توګه د قرآن کريم هره څلورمه کليمه يوه د دغو نمونو او ډولونو څخه ده!!

جدول په څلورو پړاونو کې په اغيزمنه توګه تريس کيدای شي. ( ۱) ښوونکی او زده کوونکي د هره کليه د مانا سره تکرار کړئ؛ ( ۲) ښوونکی د عربي کليمې وايي او زده کوونکي به يې مانا ورته وايي؛ ( ۳)

ښوونکی د عربي کليمې وايي او زده کوونکي به يې هم په عربي ورسره تکراروي؛ ( ٤ ) ښوونکی او زده کوونکي د عربي کليمې په يو ځايي توګه ووايي. په هر پړاو کې، له TPI څخه د اغيزمنې زده کړې لپاره د کار واخيستل شي.

د فَعَلَ(ف) فعل مختلفي بڼې په قرآنکريم کې ۱۰۵ ځله راغلې دي.

| فِعْل مَاضِي | | فِعْل مُضَارِع | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| فَعَلَ | هغه وکړ (عمل يې تر سره کړ). | يَفْعَلُ | هغه کوي. و به کړي. | **فَعَلَ ، يَفْعَلُ ، اِفْعَلْ** | | | |
| فَعَلُوا | هغوی وکړ. | يَفْعَلُونَ | هغوی کوي. و به کړي. | أمْر | | نَهْي | |
| فَعَلْتَ | تا وکړ. | تَفْعَلُ | ته کوې. و به کړې. | اِفْعَلْ | وکړه! | لاَ تَفْعَلْ | مه کوه! |
| فَعَلْتُمْ | تاسو وکړ. | تَفْعَلُونَ | تاسو ټول کوئ. و به کړئ. | اِفْعَلُوا | و يې کړئ! (تاسو ټول) | لاَ تَفْعَلُوا | مه يې کوئ! |
| فَعَلْتُ | ما وکړ. | أَفْعَلُ | زه کوم. و به کوم. | فَاعِل: تر سره کوونکی | | | |
| فَعَلْنَا | موږ وکړ. | نَفْعَلُ | موږ کوو. و به کړو. | مَفْعُول: اغيزمن کيدوونکی | | | |
| فَعَلَتْ | هغې وکړ. | تَفْعَل | هغه کوي. و به يې کړي. | فِعْل: تر سره کول، عمل (د تر سره کولو) | | | |




# يوولسم لوست: سورة الفلق

۱ پوښتنه: لاندې عبارت وژباړئ.

قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ ٪(1٪)ۙ

| | | | |
|---|---|---|---|
| | | | |

مِن شَرِّ مَا خَلَقَ ٪(2٪)ۙ

| | | |
|---|---|---|
| | | |

وَمِن شَرِّ غَاسِقٍ إِذَا وَقَبَ ٪(3٪)ۙ

| | | | |
|---|---|---|---|
| | | | |

وَمِن شَرِّ النَّفّٰثٰتِ فِى الْعُقَدِ ٪(4٪)ۙ

| | | |
|---|---|---|
| | | |

وَمِن شَرِّ حَاسِدٍ اِذَا حَسَدَ ٪(5٪)ۧ

| | | |
|---|---|---|
| | | |

۲پوښتنه: زموږ پيغمبر صلي الله عليه وسلم له هر فرض لمانځه څخه وروسته کوم سورت تلاوت کولو؟
ځواب:

۳پوښتنه: پيغمبر صلي الله عليه وسلم به له ويده کيدلو څخه مخکې کوم سورت تلات کاوه؟
ځواب:

٤پوښتنه: د شپې له لوري څوک زموږ په سرونو غوټې پوه کوي؟
ځواب:

٥پوښتنه: د "حسد" مانا واضيح کړئ.
ځواب:

# د یوولسم لوست اړوند د ګرامر پوښتنې

۱ پوښتنه:(الف) لاندې کلیمې عربي ته وژباړئ.

| شخص | شمیر | ژباړه | فعل ماضي | ژباړه | فعل مضارع |
|---|---|---|---|---|---|
| دریم غائب | واحد | هغه وکړ (عمل یې تر سره کړ). | | هغه کوي. و به کړي. | |
| | جمع | هغوی وکړ. | | هغوی کوي. و به کړي. | |
| دوهم حاضر | واحد | تا وکړ. | | ته کوې. و به کړې. | |
| | جمع | تاسو وکړ. | | تاسو ټول کوئ. و به کړئ. | |
| لومړی متکلّم | واحد | ما وکړ. | | زه کوم. و به کوم. | |
| | جمع مثنی | موږ وکړ. | | موږ کوو. و به کړو. | |
| غائب | واحد مؤنث | هغې وکړ. | | هغه کوي. و به یې کړي. | |

(ب) د لاندې کلیمو مختلفې بڼې ولیکئ.

| فِعْل مَاضِي | ژباړه | فِعْل مُضَارِع | ژباړه | امریه بڼې **فَعَلَ**، **يَفْعَلُ** ، **اِفْعَلْ** : | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| **فَعَلَ** | هغه وکړ. | **يَفْعَلُ** | هغه کوي/و به کړي. | | | | |
| | | | | أمْر | ژباړه | نَهْي | ژباړه |
| | | | | | | | |

<table>
<tr><td></td><td></td><td></td><td></td></tr>
<tr><td></td><td></td><td colspan="2" rowspan="3">تر سره کوونکی:<br>اغیزمن کیدوونکی:<br>تر سره کول، عمل (د تر سره کولو):</td></tr>
<tr><td></td><td></td></tr>
<tr><td></td><td></td></tr>
</table>

۲پ:
لاندېعربیلغتونهپهاجزاوویشئاومانايېولیکئ.

| | |
|---|---|
| وَمَا فَعَلُوْهُ | |
| لَا يَفْعَلُوْن | |
| مَا فَعَلْتُمْ | |
| فَافْعَلُوْا | |
| وَاسْتَغْفِرْهُ | |

۳ پ: لاندې عبارات عربي ته وژباړئ.

| | |
|---|---|
| ما نه دی کړی (عمل مې نه دی تر سره کړی) | |
| همدارنګه زه به ونه کړم (عمل به تر سره نه کړم) | |
| ته به و نه کړې. | |
| موږ به ونه کړو | |
| تاسو به ونه کړئ. | |

# ۱۱. سورة الناس(دسورة ګڼه. ۱۱٤)

د دوولسم درس په پای ته رسولو سره،
تاسو به ۷۰ **نوي** لغتونه زده کړی، چې
**۲۹۷۱۸** ځله په قرآنکريم کې راغلي دي.




**سريزه:** الفلق او الناس سورتونه چې د قرآن کريم دوه وروستني سورتونه دي موږ ته د ځانونو ساتلو لپاره غوره دعا ګانې رابښيي.

دا د قرآن کريم وروستنی شورت دی. د دې سورت مقدمه په تير لوست کې ولوستل شوه.

﴿أعوذ بالله من الشيطان الرجيم﴾ ﴿بسم الله الرحمن الرحيم﴾

| | | | |
|---|---|---|---|
| قُلْ | اَعُوْذُ | بِرَبِّ | النَّاسِ ٪(1٪)ٗ |
| **ووايه** | **زه پناه غواړم** | **په رب (د)** | **انسانانو** |
| | أَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَان الرَّجِيْم | بِ + رَبِّ | اِنْسَان : انسان، سړی<br>نَاس: انسانان، خلک، سړي |
| **ژباړه:** وو ايه زه پناه وروړم د انسانانو رب ته. | | | |

- د هر څخه تر مخه موږ بايد په دې پوه شو چې موږ په مسلسله توګه د شيطان تر حملو او لاندې يو چې هغه تل له موږ سره دی.
- **تصور وکړئ:** الله د اوو بيليونو انسانانو پالونکی او رب دی چې په دې خاورينه کره کې ژوند کوي، او په دې سر بيره د هغوی چې مخکې مړه شوي او د هغوی چې په راتلونکي کې به وي.
- يوازې هغه دی چې د باران د وربښت، په څلورو فصلونو کې د حاصلاتو، د ځمکې او لمر په جلا جلا مدارونو کې د ساتلو، د فصلونو د بدلون او زموږ د بقا د ټولو څيزونو باعث کيږي.
- هغه هره ثانيه زموږ د هرې حجرې او هر اتوم مراقبت کوي. هغه د هرچا هر وخت او تل تر تله رب دی. د دې سورت د تلاوت پر مهال د هغه د لويی احساس وکړئ.
- الله عزوجل دا سورت په "وو ايه" سره پيل کړی دی. موږ بايد دا سورت تلاوت کړو او همدارنګه په حکمت او همربانۍ سره يې نورو ته ورسو، کومه طريقه چې د پيغمبر صلي الله عليه وسلم ده.

| | |
|---|---|
| *14<br>مَلِكِ النَّاسِ ٪(2٪)ٗ | *34<br>اِلٰهِ النَّاسِ ٪(3٪)ٗ |
| **د انسانانو پاچا،** | **د انسانانو (حقيقي) معبود** |
| ژباړه: د انسانانو پاچا، د انسانانو حقيقي معبود. | |

➢ مَلَك او مَلِك باید سره ګډ نه شي! د مَلَك کلیمې مانا پرښته ده (جمع: مَلاَئِکَة). د مَلَك او مَلاَئِکَة کلیمې په قرآن کریم کې ۸۸ ځله راغلې دي.
➢ **تصور وکړئ:** هغه د اوو بیلیونو ژوندیو انسانانو ربښتینی او حقیقي پاچا دی. هغه د هغوی د هر څه څښتن دی چې هغوی یې لري، د هغوی د مرګ او ژوند په ګډون. که څه هم ډېری د هغوی یا د هغه څخه انکار کوي یا یې هیر کړی دی، هغوی هغه ته غږ کوی او هغه غواړي (مرسته ترې غواړي) په ځانګړې توګه په ستونزمنو وختونو او مشکلاتو کې.
➢ **دعا:** اې الله! زما سره مرسته وکړه چې تا ریښتیني پاچا او د ژوند په هغو برخو کې چې اختیار یکې لرم د یوازیني معبود په توګه ومنم.
➢ **ارزونه:** که زه د هغه د قوانینو اطاعت و نه کړم، نو ما په خپلو کړنو کې هغه د پاچا په توګه نه دی نیولی!
➢ **ارزونه:** که زه د هغه اطاعت او پیروي و نه کړم، نو ما په پوره مانا هغه د معبود او خدای په توګه نه دی منلی. څو ځلې مې د خپلو ارزوګانو او خواهشاتو منلې ده؟ د قرآن کریم په اساس، که څوک د خپلو خواهشاتو پیروي وکړي هغه یې خپل خدای ګرځولی دی لکه چې فرمایي: أَفَرَأَيْتَ مَنِ اتَّخَذَ إِلَٰهَهُ هَوَاهُ (نو ایا تا کله دهغه چاپه حال باندې غورکړی دی چې هغه خپل نفسي خواهش خپل خدای وګرځاه)[ ۴۵:۲۳ ]. څو ځله دې د شیطان منلې ده؟ په داسې حال کې چې د شیطان پیروي د هغه بنده ګي کول دي، لکه چې په قرآن کریم کې راځي: ألّا تعبدوا الشيطان (دشیطان بندګي مه کوئ) [ ۳۶:۶۰ ]. ولې هغه ته غوږ شوی یم (د هغه مې منلې)؟ د بدې کمپنۍ، ټلویزیون، انټرنټ ... له امله؟

| مِن شَرِّ | الْوَسْوَاسِ ٪لا | الْخَنَّاسِ ٪(4٪)ۙ |
|---|---|---|
| **له شر** | **د هغه وسوسه اچونکي** | **چې ځي راځي.** |
| | هغه څوک چې په پټه په زړونو کې څه اچوي. | مګر هغه هیڅکله موږ نه پرېږدې تر څو چې مړه شو. |
| **ژباړه:** د هغه وسوسه اچونکي له شر څخه چې په وار وار ځي راځي. | | |

➢ زموږ د ترټولو بد دښمن شیطان او د دوو هغو پرښتو حظور **احساس** کړئ چې تل له موږ سره دي.
➢ د شیطان په دښمنۍ او د هغه په حملو ځان پوه کړئ او په ربښتیني توګه الله ته سوال وکړئ چې موږ د هغه څخه وساتي.
➢ د الله د یاد او ذکر لویي او اهمیت وپیژنئ ځکه هغه موږ له شیطان څخه ساتي.

44

| الَّذِي | يُوَسْوِسُ | فِي صُدُورِ | النَّاسِ ٪(5٪)ۙ |
|---|---|---|---|
| **هغه چې** | **وسوسې اچوي** | **په سینو کې** | **د خلکو.** |

| هغه یو چې<br>**الَّذِيعَلَّمَبِالْقَلَم** | يُوَسْوِسُ | وسوسې | صَدْر: سینه<br>صُدُور: سینې | |
|---|---|---|---|---|
| | وَسْوَاس | هغه څوک چې وسوسه اچوي. | | |
| **ژباړه:** هغه چې د خلکو په سینو کې وسوسې اچوي. | | | | |

- وسوسه د دې ته وایې چې په زړه کې په پټه توګه څه واچوي.
- شیطان هڅې کوي چې په سینو کې وسوسې واچوي، ځکه چې سینه زړه ته د ننوتلو ځای دی. دا داسې دی لکه یو غل چې د کور شاوخوا پرانیستې سیمې ته د ننه شي.
- که زړه د الله په ذکر سره ژوندی او سالم وي، نو دشیطان د وسوسو اچولو حملې به ناکامې شي او هغه به بدبختۍ او ذلت سره بهر شي. که داسې نه وو نو بیا به هغه شخص ګناهونو ته مخه کړي.
- الله په قرآن کریم کې فرمایي: شِفَاءٌ لِّمَا فِي الصُّدُورِ (د هغو لپاره شفاء ده چې په سینو کې دي). دا د ناپوهۍ، جهل، شکونو، ریا او د ناسمو غوښتنو او خواهشاتو درملنه کوي.

| *32<br>مِنَ الْجِنَّةِ | وَالنَّاسِ ۙ(6) |
|---|---|
| **که هغه له پیریانو څخه وي** | **او که د انسانانو څخه.** |
| **ژباړه:** که هغه له پیریانو څخه وي او که د انسانانو څخه. | |

- د قرآن کریم وروستنۍ کلیمه خلک (شریر خلک) دي، دا مونږ ته یوه خبرتیا ده چې ښه چې ټولنه ولړو!
- پیغمبر صلي الله علیه وسلم فرمایلي دي چې زمونږ د هر یوه سره یو شیطان جن تل وي. او دا شیطان د هر فرصت په تر لاسه کولو تل دا هڅې کوي چې هغه د لارې څخه وباسي.
- د انسانانو له ډلې څخه شیطان څوک دی؟ ټول هغه کسان چې په مستقیم یا غیر مستقیم ډول د شیطان لپاره کار کوي، هغوی چې مونږ د الله له لارې څخه بې لارې کوې. د ټولې هغو رسنیو، ټلویزیونونو، اخبارونو او مجلو په ګډون چې ناوړه لیکنې او خپروني لرې. حتی زمونږ د شاوخوا هغه نارینه او ښځې چې د خپلو جامو، خبرو او کړنو په واسطه د شیطان نماینده ګي کوي. آیا دا نړۍ د همدا ډول خلکو څخه ډکه نه ده؟ آیا تاسو اوس په دې پوهیږئ چې دا سورت زمونږ د ساتنې لپاره څومره ارزښتمن او مهم دی!
- د دا ډول شیطان کیدلو نه الله ته پناه ورو ړئ.
- پلان: هڅه وکړئ چې د هر ډول ناوړه پروګرامونو، شی ګړیو (gadgets)، ملګرو څخه ځان وساتئ او خپل وخت د نیکو کړنو په سرته رسولو ولګوئ. د الله څخه د مرستې غوښتلو سربیره باید په ډلیزه توګه کار وکړو چې د هر ډول فتنو او فسادونو څخه پاکه فضا او محیط را منځ ته کړو.

__ګرامر:__ د فَتَحَ او جَعَلَ مختلفې بڼې تمرین کړئ. هڅه وکړئ چې په پوره ډول یې زده کړئ. د TPI څخه په استفاې سره یې، په څلورو پړاونو کې تمرین کړئ لکه څرنګه چې په تیر لوست کې تشریح شول.

**فَتَحَ (ف)** د دې فعل مختلفې بڼې په قرآن کریم کې **۲۹ ځله** راغلې دي.

| فِعْلمَاضِي | فِعْلمُضَارِع | | |
|---|---|---|---|
| **فَتَحَ** هغه پرانيست (خلاص کړ) | **يَفْتَحُ** هغه خلاصوي(پرانيزي) خلاص به کړي | فَتَحَ،يَفْتَحُ،اِفْتَحْ | |
| **فَتَحُوا** هغوی پرانيست | **يَفْتَحُونَ** هغوی خلاصوي خلاص به کړي | أمْر | نَهْي |
| **فَتَحْتَ** تا پرانيست | **تَفْتَحُ** ته خلاصوې خلاص به کړې | **اِفْتَحْ** پرانيزه! | **لاتَفْتَحْ** مه پرانيزه! |
| **فَتَحْتُمْ** تاسو پرانيست | **تَفْتَحُونَ** تاسو خلاصوي خلاص به کړئ | **اِفْتَحُوا** پرانيزئ! تاسو | **لاتَفْتَحُوا** مه پرانيزئ! |
| **فَتَحْتُ** ما پرانيست | **أَفْتَحُ** زه خلاصوم خلاص به کړم | **فَاتِح:** پرانيستوونکی، خلاصوونکی | |
| **فَتَحْنَا** مونږ پرانيست | **نَفْتَحُ** مونږ خلاصو خلاص به کړو | **مَفْتُوح:** پرانيستی، خلاص، پرانيستل شوی | |
| **فَتَحَتْ** هغې پرانيست | **تَفْتَحُ** هغه (مؤنث) خلاصوي خلاص به کړي | **فَتْح:** پرانيستل | |

**جَعَلَ (ف)**د دې فعل مختلفې بڼې په قرآن کريم کې **٣٤٦ خله** راغلې دي.

| فِعْلمَاضِي | فِعْلمُضَارِع | | |
|---|---|---|---|
| **جَعَلَ** هغه وګرځاوه | **يَجْعَلُ** هغه ګرځوي و به ګرځوي | جَعَلَ،يَجْعَلُ،اِجْعَلْ | |
| **جَعَلُوا** هغوی وګرځاوه | **يَجْعَلُونَ** هغوی ګرځوي و به ګرځوي | أَمْر | نَهْي |
| **جَعَلْتَ** تا وګرځاوه | **تَجْعَلُ** ته ګرځوې | **اِجْعَلْ** وګرځوه! | **لاتَجْعَلْ** مه |

| | | | |
|---|---|---|---|
| گرځوه! | | و به گرځوې | |
| **لَاتَجْعَلُوا** مه<br>گرځوئ! | **اِجْعَلُوا**<br>وگرځوئ! | **تَجْعَلُونَ** تاسو گرځوئ<br>و به گرځوئ | **جَعَلْتُمْ** تاسو<br>وگرځاوه |
| **جَاعِل**: گرځوونکی | | **أَجْعَلُ** زه گرځوم<br>و به گرځوم | **جَعَلْتُ**<br>ما وگرځاوه |
| **مَجْعُول**:گرځول شوی | | **نَجْعَلُ** مونږ گرځوو<br>و به گرځوو | **جَعَلْنَا**<br>مونږ<br>وگرځاوه |
| **جَعْل**:گرځول | | **تَجْعَلُ** هغه (مؤنث)<br>گرځولي<br>و به گرځولي | **جَعَلَتْ**<br>هغې<br>وگرځاوه |




# یوولسم لوست: سورة الفلق

۱پوښتنه: لاندې عبارت وژباړئ.

قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّالنَّاسِ ٪(1٪)ۙ مَلِكِ النَّاسِ ٪(2٪)ۙ اِلٰهِ النَّاسِ ٪(3٪)ۙ

| | | | |
|---|---|---|---|
| | | | |

مِن شَرِّ الْوَسْوَاسِ٪لا الْخَنَّاسِ ٪(4٪)ۙ

| | | |
|---|---|---|
| | | |

الَّذِي يُوَسْوِسُ فِي صُدُورِ النَّاسِ ٪(5٪)ۙ

| | | | |
|---|---|---|---|
| | | | |

مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ ٪(6٪)ۦ

| | |
|---|---|
| | |

۲ پوښتنه: د "رب" مانا د مثالونو سره روښانه کړئ؟
ځواب:

۳پوښتنه: د شرّ اصطلاح واضیح کړئ؟
ځواب:

٤پوښتنه: شیطان کله (څه وخت) وسوسه اچوي؟
ځواب:

٥پوښتنه: شر اچوونکي او شریر خلک څه ډول وسوسه اچوي؟
ځواب:

# د دوولسم لوست اړوند د گرامر پوښتنې

۱پوښتنه: د لاندې فعلونو مختلفې بنې ولیکئ.

| فِعْل مَاضِي ژباړه | فِعْل مُضَارِع ژباړه | امریه بنې **فَتَحَ** ، **يَفْتَحُ**، **اِفْتَحْ** | |
|---|---|---|---|
| **فَتَحَ** هغه پرانست (خلاص کړ) | **يَفْتَحُ** هغه جوړوي جوړ به کړي | | |
| | | أمْر ژباړه | نَهْي ژباړه |
| | | | |
| | | | |
| | | پرانیستوونکی، خلاصوونکی<br>پرانیستی، خلاص، پرانیستل شوی<br>پرانیستل | |
| | | | |
| | | | |

| فِعْل مَاضِي ژباړه | فِعْل مُضَارِع ژباړه | امریه بنې **جَعَلَ** ، **يَجْعَلُ** ، **اِجْعَلْ** | |
|---|---|---|---|
| **جَعَلَ** هغه جوړ کړ | **يَجْعَلُ** هغه جوړوي/ جوړ به کړي | | |
| | | أمْر ژباړه | نَهْي ژباړه |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |

| ۳ پ: لاندې عبارات عربي ته وژباړئ. | ۲پ: |
|---|---|

| لاندېعربيلغتونهپهاجزاووويشئاومانايېوليکئ. | |
|---|---|
| جَعَلْنَاكُمْ | |
| جَعَلْنَا | |
| وَاجْعَلْهُ | |
| تَفْتَحُوْنَ | |
| يَفْتَحُ | |

| | |
|---|---|
| موږ هغه جوړ کړی | |
| همدارنګه موږ هغوی جوړ کړي | |
| هغه جوړوي تاسو | |
| ته جوړوي هغه | |
| موږ پرانيست | |

دعا تبلیغ
تصور
احساس
ارزونه اراده

د دیارلسم درس په پای ته رسولو سره،
تاسو به ۷٦ **نوي** لغتونه زده کړی، چې
**۳۰۸۵٤** ځله په قرآنکریم کې راغلي دي.

# ۱۳. سورة الکافرون (دسورة ګڼه. ۱۰۹)

کله چې د مکې مشرکینو ولیدل چې ورځ تر بلې د هغو کسانو شمیره ډېرېږي چې خپل دین پرېږدي او اسلام ته مخه کوي، هغوی شریک کیدلو او یوځای کیدنې یو نوی وړاندیز وکړ. هغوی پیغمبر صلي الله علیه وسلم ته وویل چې یو کال به دوی یوازې د الله عبادت وکړي خو په بل کال به پیغمبر صلي الله علیه وسلم د الله د عبادت سربیره د دوی خدایان هم لمانځي او عبادت به یې کوي. په ځواب کې الله عزوجل دا سورت نازل کړ.

دا سورت یو ډېر مهم پیغام له ځان سره لري. دا سورت موږ ته دا وايي چې په عقیدوي موضوعاتو کې هیڅ ډول شریک والی نشي کیدای.

- پیغمبر صلي الله علیه وسلم به دا سورت او د الاخلاص سورت د سهار او ماښام په سنت لمونځونو کې تلاوت کاوه. [مسند احمد، ترمذي، نسائي او ابن ماجه]
- پیغبرصلي الله علیه وسلم ځینو صحابه کرامو ته د ویده کیدو څخه د مخه د الکافرون سورت د تلاوت لارښوونه کړې ده: د اکافرون سورت تلاوت کړئ د شرک څخه به وژغورل شئ. [ابو داوود]

﴿أَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ﴾ ﴿بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ﴾

| قُلْ | يٰاَيُّهَا | الْكٰفِرُوْنَ ٪(1٪) |
|---|---|---|
| **ووایه (چې)** | اې | **کافرانو!** |
| | يَا، أَيُّهَا، يَا أَيُّهَا : اې<br>دا کلیمې په قرآن کریم کې ٥١١ ځله راغلې دي. | کَافِر: مفرد<br>کَافِرُون، کَافِرِين: جمع |
| **ژباړه:** ووایه چې اې کافرانو! | | |

- هر غیر مسلمان کافر نه دی!یوازې هغه څوک دی چې پیغام ورته ورسیږي، پرې وپوهیږي خو هغه رد کړي. قرآن کریم نامسلمانانو ته په یاایُّهَا النّاس (اې خلکو!) سره خطاب کړی دی.
- هغه وخت چې تاسو ماشومان وئ او ستاسو پلار به ستاسو کوم ورور یا خور ته په غوسه کیده نو آیا ستاسو نور وروڼه او خویندې به چمتو او متوجه کیدل نه؟ دلته هم الله هغو کفارو ته ډېر په غوسه دی چې پیغمبر صلي الله علیه وسلم ته راغلي وو. هغوی نه یوازې دا چې مشرک وو بلکې پیغمبر صلي الله علیه وسلم یې هم شرک ته وربللو او د شرک دعوت یې ورته کاوه. د هغه خطاب "اې کافرنو!" موږ باید دېته متوجه کړي چې د الله نافرماني ونه کړو او داسې کومه کړنه سر ته ونه رسوو چې د کافرانو سره ورته والی او مشابهت پکې وي.
- د کفارو سره اصلي ستونزه څه وه؟ هغوی وروسته له دې چې په حقیقت پوه شوي ووهغه یې د خپلو خواهشاتو، نفس، شتمنی، موقف او رواجونو له امله رد کړی وو اوترې منکر وو.
- **دعا:**اې الله! موږ ته توفیق راکړې چې د خپلو نفسونو، خواهشاتو، او موقفونو په خاطر حق رد نه کړو.

- **ارزونه:** څو واري مې حق رد کړی دي او یا څو ځله مې ژر تر ژره نه دی منلی؟
- **اراده** وکړه چې توبه به کوې. اراده وکړه چې د الله په لویی به ځان پوهوې او ځان به د حق په منلو سره روزې.
- **تبلیغ:**خلک د هغه کس په خطرناکه پایله خبر کړئ چې د نفس او رواجونو پیروي کوي.

| لَآ اَعۡبُدُ | مَا | تَعۡبُدُوۡنَ ﴿۲﴾ |
|---|---|---|
| **زه عبادت نه کوم** | **د څه** | **عبادت چې تاسو کوئ.** |
| أَشْهَدُ: زه شاهدي ورکوم أَعُوذُ: زه پناه غواړم | | تَفْعَلُون: تاسو کوئ |
| **ژباړه:** زه دهغو عبادت نه کوم چې تاسې یې عبادت کوئ | | |

عبادت درې ماناوې لري: (۱) لمانځنه (۲) اطاعت یا پیروي، (۳) بنده ګي. په دریو وړو کې هیڅ شریک نشته. دا ټول د یو الله لپاره دي.

- نن ورځ، ځیني کفار هڅه کوي چې اسلام بد نام کړي. پدې محیط کې، تاسو باید د اسلام پیروي وکړئ بې له دې چې د کمي او حقارت احساس وکړئ. تاسو باید په خپل ایمان او عقیده ټینګ و اوسئ او د اسلام په خاطر د الله شکر اداء کړئ.
- هغه کسان وګورئ چې د اسلام ضد دي، هغوی ته د ړندو په نظر وګړرئ چې زهر خوري.

| وَلَآ اَنۡتُمۡ | | | عٰبِدُوۡنَ | مَاۤ | اَعۡبُدُ ﴿۳﴾ |
|---|---|---|---|---|---|
| **او نه تاسي یاست** | | | **عبادت کوونکي** | **(د) څه شي** | **چې زه عبادت کوم** |
| وَ | لَآ | اَنۡتُمۡ | عَابِدٌ: مفرد | | أَشْهَدُ: زه شاهدي وایم |
| او | نه | تاسي | عَابِدُونَ، عَابِدِينَ: جمع | | أَعُوذُ: زه پناه غواړم |
| **ژباړه:** او نه تاسي د هغه ذات عبادت کوونکي یاست چې زه یې عبادت کوم. | | | | | |

- دا غلط او ناسم تصور و نه منئ چې هغوی د الله عبادت کوونکي دي. هغه عبادت چې شرک ورسره ګډ وي الله ته هیڅکله د منلو نه دی.
- ټول دینونه حق او سره برابر نه دي. موږ باید هڅه وکړو چې اسلام په غوره او د حکمت څخه په ډکه طریقه وړاندې کړو.

<table>
<tr><td colspan="3">وَلَآ اَنَا</td><td>عَابِدٌ</td><td>مَّا</td><td>عَبَدْتُّمْ ٪(4٪)ۙ</td></tr>
<tr><td colspan="3">او زه نه یم (نه ب ه وم)</td><td>عبادت کوونکی</td><td>(د) څه شي</td><td>چې تاسو عبادت کوئ</td></tr>
<tr><td>و</td><td>لَا</td><td>اَنَا</td><td rowspan="2">فَاعِل: تر سره کوونکی<br>عَابِد: عبادت کوونکی</td><td rowspan="2"></td><td rowspan="2">فَعَلْتُمْ: تا سو تر سره کړ<br>عَبَدْتُّمْ: تاسو عبادت وکړ</td></tr>
<tr><td>او</td><td>نه</td><td>زه</td></tr>
<tr><td colspan="6">ژباړه: او نه زه د هغو عبادت کوونکی یم چې تاسې یې عبادت کوئ.</td></tr>
</table>

داسې معلومېږي چې تکرار دی خو داسې نه ده. په دواړو آیتونو کې جلا جلا پیغامونه پراته دي.

- زه نه د هغوی او س عبادت کوم (لا أعبد) او نه به په راتلونکي کې د هغوی عبادت وکړم (ولا أنا عابد).
- زه به نه ستاسو د اوسنیو بتانو عبادت وکړم (ما تعبدون)، او نه به ستاسو د پخوانیو بتانو عبادت وکړم (ما عبدتّم).
- د عقیدې په موضوع کې هیڅ شریک نه شته. په ځان د غره توب او تکبر له امله نه، بلکې له دې امله چې موږ د الله د قهر او غضب څخه وېرېږو.

| وَلَآ اَنْتُمْ | عٰبِدُوْنَ | مَآ | اَعْبُدُ ٪(5٪) |
|---|---|---|---|
| **او نه تاسو یاست** | **عبادت کوونکي** | **(د) څه شي** | **چې زه عبادت کوم** |
| **ژباړه:** او نه تاسې د هغه ذات عبادت کوونکي یاست چې زه یې عبادت کوم. | | | |

- دلته بیا داسې معلومېږ چې تکرار به وي خو دلته مفاهیم مختلف دي. دلته پیغام دا دي: د تاسو د خپل تکبر په خاطر، له تاسو څخه دا توقع نه شي کیدائ چې د یو الله عبادت وکړئ.

| لَكُمْ | دِيْنُكُمْ | وَلِيَ | دِيْنِ ٪(6٪)ۧ |
|---|---|---|---|
| **ستاسو یپاره** | **ستاسو دین** | **او زما لپاره** | **زما دین.** |
| **ژباړه:** ستاسو لپاره ستاسې دین او زما لپاره زما دین. | | | |

- ستاسیګ له پاره ستاسیګ دین دی او زما له پاره زما دین .
- د دې مانا دا نه ده چې ټول دینونه مساوي او یو شی دي. همدارنګه دا مانا هم نه لري چې موږ د د اسلام پیغام رسول ودرو او پرې یې ږدو. آیا پیغمبر صلي الله علیه وسلم د دې سورت له نازلیدلو وروسته دعوت او تبلیغ پرېښود؟ هیڅ کله هم نه! دا جمله د هغوی د شرکي وړاندیز ځواب دي.

- آیا زه په رښتیا هم الاسلام ته ارزښت ورکوم؟ آیا خپل وخت او هڅې په اسلام د عمل کولو او نورو ته یې په رسولو کې لګوم.

<u>**ګرامر:**</u> د نَصَرَ , خَلَقَ,ذَکَرَ او رَزَقَ، ۲۱ بڼې تمرین کړئ.

په یاد ولرئ چې د فعلونه د **ن(بَابنَصَرَ)** لا ډول څخه دي. له دې صنف بندیو څخه مه ویرېږئ. د دغو ډلو او ټولګیو تر منځ بیخي کوچني توپیرونه شته؟ دلته دا کوچنی توپیر دا دي چې د **ينْصَرُ، يَنْصَرُونَ**... پر ځای <u>په نا مکمله زمانه کې</u>، موږ **يَنْصُرُ، يَنْصُرُونَ،...** لرو چې د ص په غږ کې بدلون راځي. په امریه بڼو کې هم دا کوچني بدلونونه په پام کې ساتئ. **ډېری عربي فعلونه د نَصَرَ له ډول څخه دي.**

**نَصَرَ (ن)** د دې فعل مختلفي بڼې په قرآن کریم کې **۹۲ ځله** راغلې دي.

| فِعْلمَاضِي | فِعْلمُضَارِع | | |
|---|---|---|---|
| ***نَصَرَ*** هغه مرسته وکړه | يَنْصُرُ هغه مرسته کوي مرسته به وکړي | نَصَرَ،يَنْصُرُ،اُنْصُرْ | |
| ***نَصَرُوا*** هغوی مرسته وکړه | يَنْصُرُونَ هغوی مرسته کوي مرسته به وکړي | أمْر | نَهْي |
| ***نَصَرْتَ*** تا مرسته وکړه | تَنْصُرُ ته مرسته کوې مرسته به وکړې | **اُنْصُرْ** مرسته وکړه! | لاتَنْصُر مرسته مه کوه! |
| ***نَصَرْتُمْ*** تاسو مرسته وکړه | تَنْصُرُونَ تاسو مرسته کوئ مرسته به وکړئ | **اُنْصُرُوا** مرسته وکړئ! | لاتَنْصُرُوا مرسته مه کوئ! |
| ***نَصَرْتُ*** ما مرسته وکړه | أنْصُرُ زه مرسته کوم مرسته به وکړم | **نَاصِر:** مرسته کوونکی | |
| ***نَصَرْنَا*** موږ مرسته وکړه | نَنْصُرُ موږ مرسته کوو مرسته به وکړو | **مَنْصُور:** چې مرسته ورسره شوې وي | |
| ***نَصَرَتْ*** هغې مرسته وکړه | تَنْصُرُ هغه (مؤنث) مرسته کوي مرسته به وکړي | **نَصْر:** مرسته کول، کومک کول | |

**خَلَقَ(ن)**د دې فعل مختلفې بڼې په قرآن کريم کې **۲٤۸ ځله** راغلې دي.

| فِعْلمَاضِي | فِعْلمُضَارِع | | |
|---|---|---|---|
| ***خَلَقَ*** هغه پيدا کړ | يَخْلُقُ هغه پيدا کوي<br>پيدا به کړي | خَلَقَ،يَخْلُقُ،اُخْلُقْ | |
| ***خَلَقُوا*** هغوی پيدا کړ | يَخْلُقُونَ هغوی پيدا کوي<br>پيدا به کړي | أمْر | نَهْي |
| ***خَلَقْتَ*** تا پيدا کړ | تَخْلُقُ تا پيدا کوې<br>پيدا به کړې | **اُخْلُقْ** پيدا کړه! | **لَاتَخْلُقْ** مه پيد ا کوه! |
| ***خَلَقْتُمْ*** تاسو پيدا کړ | تَخْلُقُونَ تاسو پسداکوئ<br>پيدا به کړئ | **اُخْلُقُوا** پيدا کړئ! | **لَاتَخْلُقُوا** مه پيدا کوئ! |
| ***خَلَقْتُ*** ما پيدا کړ | أَخْلُقُ زه پيدا کوم<br>پيدا به کړم | **خَالِق**:پيدا کوونکی | |
| ***خَلَقْنَا*** موږ پيدا کړ | نَخْلُقُ موږ پيدا کوو<br>پيدا به کړو | **مَخْلُوق**:پيدا شوی | |
| ***خَلَقَتْ*** هغې پيدا کړ | تَخْلُقُ هغه (مؤنث) پيدا کوي<br>پيدا به کړي | **خَلْق**:پيدا کول | |

**رَزَقَ (ن)**د دې فعل مختلفې بڼې په قرآن کريم کې **۱۲۲ ځله** راغلې دي.

| فِعْلمَاضِي | فِعْلمُضَارِع | | |
|---|---|---|---|
| *رَزَقَ* هغه روزي ورکړه | يَرْزُقُ هغه روزي ورکوي<br>روزي بهٔ ورکړي | رَزَقَ،يَرْزُقُ،اُرْزُقْ | |
| *رَزَقُوا* هغوی روزي | يَرْزُقُونَ هغوی روزي ورکوي<br>روزي بهٔ ورکړي | أمْر | نَهْي |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ورکړه | | | |
| **رَزَقْتَ** تا روزي ورکړه | تَرْزُقُ ته روزي ورکوې روزي به ورکړې | أُرْزُقْ روزي ورکړه! | لاَتَرْزُقْ روزي مه ورکوه! |
| **رَزَقْتُمْ** تاسو روزي ورکړه | تَرْزُقُونَ تاسو روزي ورکوئ روزي به ورکړئ | أُرْزُقُوا وزي ورکړئ! | لاَتَرْزُقُوا روزي مه ورکوئ! |
| **رَزَقْتُ** ما روزي ورکړه | أَرْزُقُ زه روزي ورکوم روزي به ورکړم | رَازِق: روزي ورکوونکی | |
| **رَزَقْنَا** موږ روزي ورکړه | نَرْزُقُ موږ روزي ورکوو روزي به ورکړو | مَرْزُوق:هغه چې روزي ورکړل شوې | |
| **رَزَقَتْ** هغې روزي ورکړه | تَرْزُقُ هغه (مؤنث) روزي ورکوي روزي به ورکړي | رِزْق: روزي ورکول | |

**ذَكَرَ (ن)د دې فعل مختلفې بڼې په قرآن کريم کې ۱۶۳ ځله راغلې دي.**

| فِعْلمَاضِي | فِعْلمُضَارِع | ذَكَرَ،يَذْكُرُ،اُذْكُرْ | |
|---|---|---|---|
| **ذَكَرَ** هغه ياد کړ | يَذْكُرُ هغه يادوي ياد به کړي | | |
| **ذَكَرُوا** هغوی ياد کړ | يَذْكُرُونَ هغوی يادوي ياد به کړي | أمْر | نَهْي |
| **ذَكَرْتَ** تا ياد کړ | تَذْكُرُ ته يادوې ياد به کړې | اُذْكُرْ ياد کړه! | لاَتَذْكُرْ مه يادوه! |
| **ذَكَرْتُمْ** تاسو ياد کړ | تَذْكُرُونَ تاسو سادوئ ياد به کړئ | اُذْكُرُوا ياد کړئ! | لاَتَذْكُرُوا مه يادوئ |

| | | |
|---|---|---|
| **ذَكَرْتُ** ما ياد کړ | أَذْكُرُ زه يادوم<br>ياد به کړم | **ذاكِر:**يادوونکی، هغه څوک چې يادووي |
| **ذَكَرْنَا** مونږ ياد کړ | نَذْكُرُ مونږ يادوو<br>ياد به کړو | **مَذْكُور:**هغه څوک چې يادېږي |
| **ذَكَرَتْ** هغې ياد کړ | تَذْكُرُ هغه (مؤنث) يادوي<br>ياد به کړي | **ذِكْر:** يادول |




# ديارلسم لوست: سورة الكافرون

١ پوښتنه: لاندې عبارت وژباړئ.

قُلْ　　يٰاَيُّهَا　　الْكٰفِرُوْنَ ٪(1٪)ۙ

| | | |
|---|---|---|
| | | |

لَآ اَعْبُدُ　　مَا　　تَعْبُدُوْنَ ٪(2٪)ۙ

| | | |
|---|---|---|
| | | |

وَلَآ اَنْتُمْ　　عٰبِدُوْنَ　　مَآ　　اَعْبُدُ ٪(3٪)ۚ

| | | | |
|---|---|---|---|
| | | | |

وَلَآ اَنَا　　عَابِدٌ　　مَّا　　عَبَدْتُّمْ ٪(4٪)ۙ

| | | | |
|---|---|---|---|
| | | | |

وَلَآ اَنْتُمْ　　عٰبِدُوْنَ　　مَآ　　اَعْبُدُ ٪(5٪)

| | | | |
|---|---|---|---|
| | | | |

لَكُمْ　　دِينُكُمْ　　وَلِيَ　　دِيْنِ ٪(6٪)ۧ

| | | | |
|---|---|---|---|
| | | | |

٢پوښتنه: آيا هر غير مسلمان کافر دی؟ کفار څوک دي؟

ځواب:

۳پوښتنه: آیا تاسو داسې فکر کوئ چې لکم دینکم ولي دین دا مانا ورکوئ چې موږ باید اسلام ته تبلیغ او دعوت پرېږدو؟

ځواب:

٤پوښتنه: د دې سورت تلاوت، په کومو لمانځه کي د حضرت محمد صلي الله علیه وسلم عادت وو؟

ځواب:

٥پوښتنه: په شپه کي د دې سورت د تلاوت ګټې کومې دي؟

ځواب:

# د دیارلسم لوست اړوند د ګرامر پوښتنې

۱پوښتنه: د لاندې فعلونو مختلفې بڼې ولیکئ.

نَصَرَ [92](ن)        نَصر: مرسته کول

| فِعْل مَاضِي | ژباړه | فِعْل مُضَارِع | ژباړه |
|---|---|---|---|
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |

امریه بڼې**نَصَرَ**،يَنْصُر ،**اُنْصُرْ**

| أمْر | ژباړه | نَهْي | ژباړه |
|---|---|---|---|
| | | | |
| | | | |

خَلَقَ[248](ن)        پیداکول

| فِعْل مَاضِي | ژباړه | فِعْل مُضَارِع | ژباړه |
|---|---|---|---|
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |

امریه بڼې.**خَلَقَ**يَخْلُقُ، **اُخْلُقْ**

| أمْر | ژباړه | نَهْي | ژباړه |
|---|---|---|---|
| | | | |
| | | | |

## ذَكَرَ 163(ن)          **ذكر**: يادول

| فِعْل مَاضِي | ژباړه | فِعْل مُضَارِع | ژباړه | امريه بنې **ذَكَرَ**، يَذْكُرُ،اُذْكُرْ | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | أَمْر | ژباړه | نَهْي | ژباړه |
| | | | | | | | |
| | | | | | | | |
| | | | | | | | |
| | | | | | | | |
| | | | | | | | |
| | | | | | | | |

## رَزَقَ 122 (ن)          **رزق**: روزي ورکول

| فِعْل مَاضِي | ژباړه | فِعْل مُضَارِع | ژباړه | امريه بنې.**رَزَقَ**،يَرْزُقُ، اُرْزُقْ | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | أَمْر | ژباړه | نَهْي | ژباړه |
| | | | | | | | |
| | | | | | | | |
| | | | | | | | |
| | | | | | | | |
| | | | | | | | |
| | | | | | | | |

| ۲بېښتنه:<br>لاندېعربيلغتونهپهاجزاووويشئاومانايېوليکئ. | |
|---|---|
| خَلَقَكُمْ وَ رَزَقَكُمْ | |

| ۳ بېښتنه: لاندې عبارات عربي ته وژباړئ. | |
|---|---|
| تا له ما سره مرسته وکړه | |

| | |
|---|---|
| وَلَقَدْ نَصَرَ كُمُ اللهُ | |
| مَنْ يَنْصُرُنِيْ | |
| فَاذْكُرُوْنِيْ | |
| اَذْكُرُكُمْ | |

| | |
|---|---|
| ما له تا سره مرسته وکړه | |
| هغه زه یاد کړم | |
| ما هغه یاد کړ | |
| همدارنګه زموږ سره مرسته وکړئ | |




دخوارلسم درس په پای ته رسولو سره، تاسو به ۸۷ **نوي** لغتونه زده کړی، چې ۳۳۰۷۹ ځله په قرآنکریم کي راغلي دي.

## ۱۴. آذان او د اوداسه دعاګانې

**<u>راځئ لومړی به یې له آذان څخه پیل کړو:</u>**

| اَللهُأَكْبَرُ اَللهُأَكْبَرُ. | 23<br>اَللهُأَكْبَرُ اَللهُأَكْبَرُ |
|---|---|
| **الله ډېر لوی دی. الله ډېر لوی دی.** | **الله ډېر لوی دی. الله ډېر لوی دی.** |

- الله ډېر لوی دی په قدرت، جلال، برم، عزت، مهربانۍ او ټولو نورو ښو صفوتو کي.
- **دعا:** اې الله! ما ته هدایت وکړې چا تا په خپل ژوند کي د ټولو څخه لوی ومنم. په بل عبارت، زما سره مرسته وکړه چي د خپلو خواهشاتو، کورنۍ، ناسمو مشرانو او رهبرانو یا رواجونو پر ځای ستا پیروي وکړم.
- که زه د سهار د لمانځه آذان واورم او همداسې بیرته ویده شم، بیا نو ما د چا اطاعت کړی دی؟ ما څوک ډېر لوی قبول کړی دی؟ الله کي مې خپل خواهشات؟ تاسو کولای شئ نور شیان هم وګورئ.

| أَشْهَدُ | 576<br>أَنْ | لَآ | إِلٰــهَ | إِلاَّاللهُ(۲ځله) |
|---|---|---|---|---|
| **زه شاهدي ورکوم** | **چې** | **نشته** | **معبود (پر حق)** | **مګر الله** |
| أَفْعَلُ : زه کوم<br>أَعْبُدُ : زه عبادت کوم | | مَا :نه، نشته<br>لَمْ;did not :لَنْ: will not : | د اِلٰــه جمع آلِهَةٌ ده. | **إِلاَّ الَّذِينَ اٰمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَات** |
| *ژباړه*: زه شاهدي ورکوم چي نشته معبود (پر حق) مګر الله. | | | | |

د إله کلیمه مختلفي ماناګانې لري: (۱) هغه څه یا څوک چې عبادت یې کیږي، (۲) هغه څوک چې زموږ اړتیاوې پوره کوي، (۳) هغه څوک چې پیروي او اطاعت یې کیږي. په دریو واړو ماناګانو کې نشته بل معبود بې له یوازیني الله څخه.

زه شاهدي ورکوم مانا دا چې؛ زما خبرې او عملونه، په کور کې او د باندې، په دفتر کې یا په بازار کې دا ښیي چې زه:

- له الله سره تر بل هر چا زیاته مینه لرم.
- الله د خپل خالق، څښتن، ساتوونکي، پالوونکي او د ټولو کایناتو د واکمن په توګه منم.
- زه یوازې د هغه عبادت کوم او د ژوند په ټولو چارو کې د هغه اطاعت کوم نه د خپلو خواهشاتو یا نورو جهتونو.
- یوازې له هغه څخه مرسته غواړم او یوازې په هغه توکل او اعتماد کوم.

| أَشْهَدُ | أَنَّ 363 | مُحَمَّدًا | رَّسُوْلُاللهِ(۲ځله) 236* |
|---|---|---|---|
| **زه شاهدي ورکوم** | **چې** | **محمد (صلي الل)ه علیه وسلم** | **د الله استازی دی** |
| | أَنْ: چې؛<br>أَنَّ: چې | مُحَمَّدًا: زیات ستایل شوی | رَسُول: استازی، پیغام رسوونکی<br>رُسُل: استازي، پیغام رسوونکي (۹٦ ځله په قرآن کې راغلي) |
| *ژباړه:* زه شاهدي ورکوم چې محمد صلي الله علیه وسلم د الله استازی دی. | | | |

زه شاهدي ورکوم مانا دا چې؛ زما خبرې او عملونه، په کور کې او د باندې، په دفتر کې یا په بازار کې دا ښیي چې:

- زه له الله او د هغه له استازی سره تر بل هرچا زیاته مینه لرم.
- زه د پیغمبر صلي الله علیه وسلم ټولې لارښوونې منم او پیروي یې کوم بې له دې چې په اړه یې پوښتنې وکړم.
- زه قرآن او سنت د حق او باطل تر منځ د معیار په توګه په پام کې نیسم.
- زه بل هیڅ مدرک او سند ته ضرورت نه لرم چې د پیغمبر صلي الله علیه وسلم په ښوونو عمل وکړم؛ او
- زه هماغه څه خوښوم چې پیغمبر صلي الله علیه وسلم یې د خوښولو ښوونه کړې او هماغه څه نه خوښوم چې پیغمبر صلي الله علیه وسلم یې د نه خوښولو ښوونه کړې ده.

| حَيَّعَلَى | الصَّلٰوٰةِ(۲ ځله) 83 | | حَيَّعَلَى | | الْفَلَاحِ(۲ ځله) |
|---|---|---|---|---|---|
| **راشئ** | | **لمانځه ته** | **راشئ** | | **د کامیابۍ په لور** |
| حَيَّ | عَلَى | | حَيَّ | عَلَى | **فلاح** |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| راشئ | ته، په لور، خوا ته | | راشئ | ته، په لور، خوا ته | کامیابي، بریالیتوب، نیکمرغي |
| *ژباړه:* راشئ لمانځه ته | | | *ژباړه:* راشئ د کامیابۍ په لور | | |

- دلته "لمانځه ته راشئ" کلیمې راغلې او داسې نه دي "لمونځ اداء کړئ هر چیرته چې یاست" هدف دا دی چې مسجد ته راشئ. قرآن کریم موږ ته لاربنوونه کوي چې لمونځ له امام او نورو مسلمانانو سره په جماعت قایم شي.
- که موږ لمونځ قایم کړو،الله به موږ ته هر ډول کامیابي او نیکمرغي نصیب کړي. لمونځ د الله د ذکر یوه جامع بڼه ده.
- لمونځ روح او ذهن ته سلامتیا او آرامي وربښئ.
- لمونځ ډېرې فزیکي ګټې هم لري لکه د وخته ویده کیدل تر څو سهار د وخته را پاڅیږو او د خت پیژندلو د عادت انکشاف او پرمختګ هم دی.
- د ټولنیزو ګټو په برخه کې، لمونځ زموږ سره مرسته کوي چې د ملګرو، ګاونډیانو او خپلوانو سره اړیکې ټینګې او لا پیاوړې کړو.
- تر ټولو مهمه دا چې موږ به په آخرت کې تل پاتې او ابدي بریا تر لاسه کړو، ان شا الله.

د دې یادونې له لاملونو څخه یو دا دی چې د دې مخنیوی وکړي چې یو کس دا فکر وکړي چې په لمانځه سره به هغه دنیوي ګټې له لاسه ورکړي کومې چې د کار له لارې تر لاسه کوي. هغه کس کله د یو ناپوه په شان رویه کوي چې د داسې جهت په لټه کې وي چې د ربښتیني هغه مخالف وي.

| | |
|---|---|
| اَللّٰهُ أَکْبَرُ اَللّٰهُ أَکْبَرُ. | لَاۤ إِلٰـهَ إِلاَّ اللهُ. |
| **الله ډېر لوی دی. الله ډېر لوی دی.** | **نشته معبود (پر حق) مګر الله.** |

- آذان په هغو کلیمو پای ته رسي چې پرې پیل شوی دی.
- د پیل پیغام دا وو: د لمانځه لور ته په راتګ سره د الله لویي په یاد ولرئ.
- په پای کې پیغام دا وو: که تاسو لمانځه ته را نشئ، تاسو به زیانکاران وئ. الله به هماغه شان ډېر لوی او یوازینی د عبادت لایق او وړ ذات وي. که تاسو راشئ، تاسو به تر ټولو لوی ذات او ریښتینی معبود خوشاله کړئ، په دې توګه به تاسو ربښتینې بریا حاصله کړئ.

**د اوداسه له شروع کولو څخه مخکې دعا:** بِسْمِ اللهِ

**د اوداسه له بشپړولو وروسته دعا:**

40

<table>
<tr><td>أَشْهَدُأَنْلاَّإِلٰـهَإِلاَّاللهُ</td><td>وَحْدَهٗ</td><td>لاَشَرِيكَ</td><td>لَهٗ</td></tr>
<tr><td>زه شاهدي ورکوم چې نشته دی معبود (پر حق) مګر الله</td><td>هغه یوازې دی</td><td>شریک نشته</td><td>د هغه سره</td></tr>
<tr><td></td><td>وَاحِد ، أَحَد ، تَوْحِيْد</td><td>شِرْك: د الله سره شریک نیول.<br>مُشْرِك: هغه څوک چې شِرْك کوي.</td><td>هغه لره، د هغه سره</td></tr>
<tr><td colspan="4">ژباړه: زه شاهدي ورکوم چې نشته معبود (پر حق) مګر الله، هغه یوازې دی شرک نشته د هغه سره.</td></tr>
</table>

- د الله یووالی دلته د شریک په نفي کولو سره تکرار شوی دی. دا ټینګار او تاکید اړین دی ځکه الله به هیڅکله هغه څوک ونه ښښي چې د شِرْك مرتکب شي، لکه د الله سره د شریک نیول.
- د دې په لوستلو سره د شرک خطرناک نتایج او پایلې په یاد ساتئ.

<table>
<tr><td>وَأَشْهَدُ</td><td>أَنَّ</td><td>مُحَمَّدًا</td><td>126*<br>عَبْدُهٗ</td><td colspan="3">وَرَسُولُهٗ</td></tr>
<tr><td>زه شاهدي ورکوم</td><td>چې</td><td>محمد صلي الله علیه وسلم</td><td>د هغه بنده</td><td colspan="3">او د هغه استازی دی.</td></tr>
<tr><td colspan="3" rowspan="2">دا مثالونه په یاد ساتئ<br>أَنْ : أَشْهَدُ أَنْ لاَّ إِلهَ إِلاَّ الله<br>أَنَّ : أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُولُ الله</td><td rowspan="2">عَبْدُ الله : بنده د الله</td><td>وَ</td><td>رَسُولُ</td><td>هٗ</td></tr>
<tr><td>او</td><td>استازی</td><td>د هغه</td></tr>
<tr><td colspan="7">ژباړه: زه شاهدي ورکوم چې محمد صلي الله علیه وسلم د هغه بنده او استازی دی.</td></tr>
</table>

- د "بنده" کلیمه دلته زیاته شوې ده. مخکینیو ملتونو لکه عیسایانو خپل پیغمبر (عیسی علیه السلام) د خدای زوی وباله او په دې توګه یې هغه د خدایئ درجې ته روسوو. الله او د هغه پیغمبر صلي الله علیه وسلم غواړي چې موږ له دا ډول شرک څخه په امن وساتي. په همدې خاطر زموږ څخه په خپلو دعاګانو کې د دې کلیماتو د تکرار غوښتنه کیږي.
- الله موږ پیدا کړي یو او موږ د هغه لپاره یو . هغه زموږ او د هر څه څښتن دی. موږ ټول دهغه بنده ګان یو او باید د یو رښتینې بنده په توګه ژوند وکړو.د الله تر ټولو غوره بنده پیغمبر صلي الله علیه وسلم دی. هغه زموږ لپاره یوه بیلګه او نمونه دی، چې یو رښتینی بنده باید څرنګه وي.

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| اَللّٰهُمَّ | اجْعَلْنِي | مِنَ | التَّوَّابِينَ | وَاجْعَلْنِي | مِنَ | الْمُتَطَهِّرِينَ |

| اې الله! | وګرځوه ما | له توبه کوونکو څخه | او وګرځوه ما | له پاکانو څخه. |
|---|---|---|---|---|
| | اِجْعَلْ نِي / وګرځوه ما | تَوَّاب ← تَوَّابُون، تَوَّابِين | وَ اِجْعَلْ نِي / او وګرځوه ما | مُتَطَهِّر← مُتَطَهِّرُون مُتَطَهِّرِينَ |
| *ژباړه:* اې الله! ما د توبه کوونکو څخه | | | | |

- موږ انسانان په بيا بيا د ګناهونو مرتکب کېږو. موږ ډېرى هغه کارونه کوو چې بايد و يې کړو او که ويې کړو، په مناسبه توګه يې نه کوو. له همدې کبله موږ دې ته ضرورت لرو چې بيا بيا توبه زباسو.
- اې الله! موږ په خپلو عقيدو، فکرونو، بدن، کاليو او ځايونو کې پاک او خالص وګرځوې.

<u>**ګرامر:**</u> د **كَفَرَ**، دَخَلَ او عَبَدَ لاندې ۲۱ بڼې تمرين کړئ. TPI وکاروئ.

**كَفَرَ(ن)** د دې فعل مختلفې بڼې په قرآن کريم کې ٤٦١ **ځله** راغلي دي.

| فِعْلمَاضِي | فِعْلمُضَارِع | | |
|---|---|---|---|
| **كَفَرَ** هغه کفر وکړ | يَكْفُرُ هغه کفر کوي کفر به وکړي | كَفَرَ ،يَكْفُرُ ،اُكْفُرْ | |
| *كَفَرُوا* هغوی کفر وکړ | يَكْفُرُونَ هغوی کفر کوي کفر به وکړي | أمْر | نَهْي |
| **كَفَرْتَ** تا کفر وکړ | تَكْفُرُ ته کفر کوې کفر به وکړې | أُكْفُرْ کفر وکړه! | لاَتَكْفُر کفر مه کوه! |
| **كَفَرْتُمْ** تاسو کفر وکړ | تَكْفُرُونَ تاسو کفر کوئ کفر به وکړئ | أُكْفُرُوا کفر وکړئ! | لاَتَكْفُرُوا کفر مه کوئ! |
| **كَفَرْتُ** ما کفر وکړ | أَكْفُرُ زه کفر کوم کفر به وکړم | **كَافِر:** کافر، هغه څوک چې کفر يې کړی<br>**مَكْفُور:** هغه څوک چې کفر پرې شوي (انکار ترې | |
| **كَفَرْنَا** موږ کفر وکړ | نَكْفُرُ موږ کفر کوو | | |

| | | |
|---|---|---|
| | کفر به وکړو | شوی) |
| **کَفَرَتْ** هغوی کفر وکړ | تَکْفُرُ هغه (مؤنث) کفر کوي کفر به وکړي | **کُفْر:** کفر کول، کافر کیدل، بې ایمان کیدل، انکار کول، ردول |

**دَخَلَ (ن)** د دې فعل مختلفې بڼې په قرآن کریم کې ۷۸ **ځله** راغلي دي.

| فِعْلمَاضِي | فِعْلمُضَارِع | دَخَلَ،یَدْخُلُ،اُدْخُلْ | |
|---|---|---|---|
| دَخَلَ هغه داخل/دننه شو | یَدْخُلُ هغه داخلیږي داخل به شي | | |
| دَخَلُوا هغوی داخل شول | یَدْخُلُونَ هغوی داخلیږي داخل به شي | أمْر | نَهْي |
| دَخَلْتَ ته داخل شوې | تَدْخُلُ ته داخلیږې داخل به شې | اُدْخُلْ داخل شه! | لاَتَدْخُلْ مه داخلیږه! |
| دَخَلْتُمْ تاسو داخل شوئ | تَدْخُلُونَ هغوی داخلیږي داخل به شي | اُدْخُلُوا داخل شئ! | لاَتَدْخُلُوا مه داخلیږئ! |
| دَخَلْتُ زه داخل شوم | أَدْخُلُ زه داخلیږم داخل به شم | **دَاخِل:** هغه څوک چې داخلیږي، ننوتونکی | |
| دَخَلْنَا موږ داخل شو | نَدْخُلُ موږ داخلیږو داخل به شو | **مَدْخُول:** داخل شوی، هغه څوک چې د ننه یا په داخل کې وي | |
| دَخَلَتْ هغه داخله شوه. | تَدْخُلُ هغه (مؤنث) داخلیږي داخله به شي | **دُخُوْل:**داخلیدل، ننوتل، د ننه کیدل | |

**عَبَدَ** 143 **(ن)**د دې فعل مختلفې بڼې په قرآن کريم کې **١٤٣ ځله** راغلې دي.

| فِعْلمَاضِي | | فِعْلمُضَارِع | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| عَبَدَ | هغه عبادت/بنده ګي وکړ | يَعْبُدُ | هغه عبادت کوي عبادت به وکړي | عَبَدَ،يَعْبُدُ،أُعْبُدْ | | | |
| عَبَدُوا | هغوی عبادت وکړ | يَعْبُدُونَ | هغوی عبادت کوي عبادت به وکړي | أمْر | | نَهْي | |
| عَبَدْتَّ | تا عبادت وکړ | تَعْبُدُ | ته عبادت کوې عبادت به وکړې | أُعْبُدْ | عبدات وکړه! | لاَتَعْبُدْ | عبادت مه کوه! |
| عَبَدْتُّم | تاسو عبادت وکړ | تَعْبُدُونَ | تاسو عبادت کوئ عبادت به وکړئ | أُعْبُدُوا | عبادتت وکړئ! | لاَتَعْبُدُوا | عبادت مه کوئ! |
| عَبَدْتُّ | ما عبادت وکړ | أَعْبُدُ | زه عبادت کوم عبادت به وکړم | **عَابِد:** هغه څوک چې عبادت کوي | | | |
| عَبَدْنَا | موږ عبادت وکړ | نَعْبُدُ | موږ عبادت کوو عبادت به وکړو | **مَعْبُود:**هغه څوک چې عبادت يې کيږي | | | |
| عَبَدَتْ | هغې عبادت وکړ | تَعْبُدُ | هغه (مؤنث) عبادت کوي عبادت به وکړي | **عِبَادَة:**عبادت، عبادت کول، بنده ګي | | | |




## څورلسم لوست: آذان او د اوداسه دعاګانې

١ ښېښتنه: لاندې عبارت وژباړئ.

اَللّٰهُأَكْبَرُ اَللّٰهُأَكْبَرُ ۞ اَللّٰهُأَكْبَرُ اَللّٰهُأَكْبَرُ ۞

| | |
|---|---|
| | |

أَشْهَدُ أَنْ لاَّ إِلٰـهَ إِلاَّ اللهُ

أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُولُاللهِ

حَيَّعَلَى الصَّلَوٰةِ ۞ حَيَّعَلَى الْفَلاَحِ ۞

اَللهُأَكْبَرُ اَللهُأَكْبَرُ ۞ لاَإِلٰـهَإِلاَّاللهُ

**د اوداسه د بشپړولو څخه وروسته دعا**

أَشْهَدُ أَنْ لاَّ إِلٰـهَ إِلاَّ اللهُ

وَحْدَهُ لاَشَرِيكَ لَهُ

وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ

اَللّٰهُمَّ اجْعَلْنِي مِنَالتَّوَّابِينَ وَاجْعَلْنِي مِنَالْمُتَطَهِّرِينَ

۲پوښتنه: څنګه کولای شو الله اکبر خپل ژوند کې عملي کړو؟

ځواب:

۳پوښتنه: د شهادت مانا څه شی ده؟

ځواب:

٤پوښتنه: په دنیا او آخرت کې د لمانځه ګټې څه شی دي؟

ځواب:

٥پوښتنه: د اوداسه څخه وروسته د دعا لوستلو بدله (اجر) څه شی ده؟

ځواب:

# د څوارلسم لوست اړوند د ګرامر پوښتنې.

۱پوښتنه: د لاندې فعلونو مختلفې بڼې ولیکئ.

كَفَرَ[461](ن)      **كُفر**: كفر كول، انكار كول.

| فِعْل مَاضِي | ژباړه | فِعْل مُضَارِع | ژباړه | امري بڼې **كَفَرَ**، يَكْفُرُ، اُكْفُرْ | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | |
| | | | | أمْر ژباړه | نَهْي ژباړه |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |

دَخَلَ[78](ن)      دخل:      ننوتل، داخلیدل

| فِعْل مَاضِي | ژباړه | فِعْل مُضَارِع | ژباړه | امري بڼې دَخَلَ ، يَدْخُلُ، اُدْخُلْ | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | |
| | | | | أمْر ژباړه | نَهْي ژباړه |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |
| | | | | | |

عَبَدَ[143](ن) عبد: عبادت کول، بنده ګي کول

| فِعْل مَاضِي ژباړه | فِعْل مُضَارِع ژباړه | امريې بنيِعَبَد، يَعْبُدُ، اُعْبُدْ | |
|---|---|---|---|
| | | | |
| | | أَمْر ژباړه | نَهْي ژباړه |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |

| ۲ پوښتنه: لاندې عربي لغتونه په اجزاو وويشئ او مانا يې وليکئ. | |
|---|---|
| فَاعْبُدُوْهُ | |
| فَاعْبُدْهُ | |
| وَلَاتَكْفُرُوْا | |
| وَقَدْ كَفَرْتُمْ | |
| وَمَنْ كَفَرَ | |

| ۳ پوښتنه: لاندې عبارات عربي ته وژباړئ. | |
|---|---|
| موږ عبادت کوو | |
| زه داخل شوم او ته داخل شوې | |
| ما عبادت وکړ او کفر مې و نه کړ | |
| هغه کفر وکړ او عبادت يې و نه کړ | |
| زه داخليږم | |

| | |
|---|---|
| دعا تبليغ<br>تصور<br>احساس<br>ارزونه ارا ده | د پنځلسم درس په پای ته رسولو سره،<br>تاسو به ۹۵ **نوي** لغتونه زده کړی، چې<br>۳۳۸۱۲ ځله په قرآنکريم کې راغلي دي. |

# ۱۵. ثناء، رکوع او سجده

راځئ چې د لمانځه د پيل دعا (ثناء) ولولو:

| سُبْحَانَكَ [41*] | اللّٰهُمَّ | وَبِحَمْدِكَ | | | وَتَبَارَكَ | اسْمُكَ |
|---|---|---|---|---|---|---|
| **پاکي ده تا لره** | **يا الله!** | **او سره د ستايني ستا** | | | **او مبارک دی** | **نوم ستا** |
| سُبْحَانَ الله : الله پاک دی/ پاکي ده الله لره | | وَ | بِ | حَمْدِ كَ | بلوَك: هغه برکت وکړ | اِسْم : نوم |
| سُبْحَانَكَ : ته پاک يې/ پاکي ده تا لره | | او | سره، د | ستا د ثنا يا ستاينې | تَبَارَكَ: هغه مبارک دی | |
| *ژباړه:* پاکي ده تا لره يا الله او سره د ستاينې ستا او مبارک دی نوم ستا | | | | | | |

- د سُبْحَانَكَ اصلي مانا ده: ته پاک يې. ته د هر عيب، نقص او کمی څخه پاک يې.
- د سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ مانا ده: اې الله! ته هيڅ شريک ته اړتيا نه لرې، ته کمزوری نه يې، تا له چا څخه وېره نه لرې، ته ستړی کيږې نه، ته کوم تيری کوونکی او ظالم نه يې، ته د هيچا مرستې ته اړ نه يې.
- همدارنګه سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ دا مانا هم ورکوي: هر هغه څه چې تا د ژوند په ازموينه کې ما ته راکړي دي په پوره توګه سم دي. زه ستا په وړاندې هيڅ شکايت نه لرم. که موږ دا احساس پياوړی کړو، نو موږ به تر ټولو غښتلي مثبته رويه (Positive Attitude) ولرو.
- حَمْد: د الله ثنا، ستاينه او شکر کول هم د اسلام له اساسي اصولو څخه دی. تر هغه چې تاسو تسبيح او د الله پاکي په سمه سر ته و نه رسوئ، تاسو د الله ثنا او ستاينه په سمه او ريښتيني توګه نه شئ تر سره کولای. که تاسو داسې فکر کوئ چې الله کمزوری دئ يا هغه تاسو ته په کافي اندازه نه دي درکړي، نو تاسو به څنګه د هغه حمد او ثنا په ريښتيني او سمه توګه تر سره کړئ.
- ريښتينی حَمْد د امتنان او شکر اداء کولو بنسټ جوړوي کوم چې د کامياب ژوند يو بل مهم اړخ دی.
- تَبَارَكَ اسْمُكَ: که تاسو دا خبره تکراروئ چې " ښه کار دی" کار پر مخ نه ځي. خو که تاسو کار د الله په نامه پيل کړئ، هغه به له تاسو سره مرسته وکړي او برکت به پکې واچوي.

| وَتَعَالٰى [23] | جَدُّكَ | وَلَاۤ اِلٰهَ | غَيْرُكَ |
|---|---|---|---|
| **او لوړ دی** | **شان ستا** | **او نشته بل معبود (پر حق)** | **بې له تا څخه.** |
| *ژباړه:* او لوړ دی شان ستا او نشته بل معبود (پر حق) بې له تا څخه. | | | |

- ستا شان تر ټولو لوړ دی. هرڅوک په دې نړی کې، که هر څومره پیاوړي او غښتلی وي، هر څوک چې وي، د دې نړۍ تر ټولو پیاوړی او قوي واکمن او پاچا هم ستا په وړاندې هیڅ شی دی، اې الله!
- د الله د وحدانیت تصریح او د هغه سره د شریک نفي کول ډېر مهم دي. الله به هیڅکله شرک و نه ښني. د دې په لوستلو سره د شرک خطرناک نتایج په پام کې ساتئ.

**هغه الفاظ چې په رُکُوع کې لوستل کیږي:**

| | | |
|---|---|---|
| سُبْحَانَ | رَبِّيَ | الْعَظِيم۞ [107] |
| **پاکي ده** | **زما رب لره** | **چې لوی دی.** |
| *ژباړه:* پاکي ده زما رب لره چې لوی دی. | | |

**هڅه وکړئ چې دا څلور شیان چې دلته یاد شول تصور او احساس کړئ:**

- الله سبحان دی (د سبحانک په اړه درکړل شوي توضیحات ولولئ).
- الله رب دی، هغه زموږ د ټولو او هر هغه څه چې زموږ په شاوخوا کې دي پالنه یې کوي. هغه پالونکی، ساتوونکی، او د هر هغه څه برابرونکی دی چې موږ ورته اړتیا لرو. هغه ذات دی چې د ژوند په هره شیبه کې زموږ دهر یوه د بدن ۱۰۰ بیلیونه حجرې کنټرولوي.
- دلته تاسو الله ته خطاب کوئ او وایئ: ا زما رب. که ستاسو مور واویي: "زما ډېر ښه زوی دی" یا زما ډېره ښه لور ده" دا خبره ستاسو پر مخ کې وکړي، دا به د څه شي څرګندونه وکړي؟ دا د هغې د مینې او احساساتو څرګندونه کوي! دا الفاظ په رکوع کې د تسبیح په ویلو کې په مینه ووایئ.
- هغه لوی دی. د عَظْم کلیمه په عربي کې د هډوکي په مانا ده، قدرت او قوت ښیي. عَظِیم د لوی، قوي او غښتلي په مانا دی. موږ دا کلیمه هغه وخت وایو چې رکوع کوو او د هغه لویې او قوت ته د تسلیمدو لپاره خم کیږو.

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| سَمِعَاللّٰهُ | لِمَنْ | | حَمِدَهٗ ۞ | |
| **الله واوریدل** | **د هغه چا** | | **چې د هغه ستاینه یې وکړه** | |
| | لِ | مَنْ | حَمدَ | هٗ |
| | ته،لپاره، د | د هغه، د هغه چا | ستایل، ثنا ویل | د هغه |
| *ژباړه:* الله واوریدل د هغه چا چې د هغه ستاینه یې وکړه. | | | | |

- الله له هر چا ښخه اوري. دلته دا مانا ورکوي چې الله هغه چا ته ځانګړې توجه کوي چې د هغه ستاینه کوي.
- الله دېته هیڅ ضرورت نه لري چې موږ یې ستاینه وکړو. هغه ته هیڅ ګټه نه لري. که موږ د هغه ستاینه و نه کړو هغه ته هیڅ زیان نه رسیږي. یوازې او یوازې د هغه له ستایني ښخه موږ ته ګټه رسیږي.

| رَبَّنَا | وَلَكَ | الْحَمْدُ۞ |
|---|---|---|
| **زموږ ربه!** | **او ستا لپاره دي** | **ټولې ستاینې.** |
| *ژباړه:* زموږ ربه! او ستا لپاره دي ټولې ستاینې. | | |

- حمد دوې ماناګانې لري: ستاینه او شکر.
- د هغه بهترین صفات تصور او احساس کړئ: اې الله! ته ډېر مهربان، تر ټولو قدرتمند، بهترین خالق، بهترین طراح ...یې، وروسته یې پوره اخلاص او د زړه له تله ستاینه وکړئ.
- په خپل ځان د هغه د پیرزوینو او مهربانیو احساس وکړئ او په رښتیني توکه د هغه شکر اداء کړئ.

**<u>هغه الفاظ چې په سَجْدَة کې لوستل کیږي:</u>** د سَجَدَ فعل په قرآن کريم کې په مختلفو بنو ٤٩ ځله راغلی دی.

| سُبْحَانَ | رَبِّيَ | الْأَعْلَىٰ۞ |
|---|---|---|
| **پاکي ده** | **زما رب لره** | **چې تر ټولو لوړ دی (د هغه شان).** |
| | | كَبِير (لوی) أَكْبَر (لوی تر) الْأَكْبَر (تر ټولو لوی)<br>صَغِير (کوچنی) أَصْغَر (کوچنی تر) الْأَصْغَر (تر ټولو کوچنی)<br>عَلِيّ (لوړ) أَعْلَى (لوړ تر) الْأَعْلَى (تر ټولو لوړ) |
| *ژباړه:* پاکي ده زما رب لره چې **تر ټولو لوړ دی (د هغه شان).** | | |

سجده الله ته دپوره تسلیمدلو اظهار دی. هڅه وکړئ چې څلور هغه شیان چې دلته یاد شول تصور او احساس کړئ. دا هماغه شیان دي چې په رکوع کې یاد شول بې له الْأَعْلَى (تر ټولو لوړ) ښخه. زه په ځمکه کې تر ټولو ټیټ ځای لرم او زما رب په عرش کې تر ټولو لوړ.

**<u>تسبیح ته په خپل ژوند کې دعمل جامه ور واغوندئ:</u>**

**دعا:** اې الله! له ما سره مرسته وکړې چې د ژوند هره ازموينه ومنم او ستا پر وړاندې هيڅ شکايت و نه لرم. هيڅکله بايد ونه وايم: ولې داسې راته پيښ شول؟

ارزونه: څو ځله ما د خپل رنګ، پزې، مخ بدن، کورنۍ، هوا، هيواد او داسې نوره په اړوند شکايت کړی دی.

**ارداه:** هر څه چې الله يې سرته رسوي پوره دي. هغه حالت چې موږ پکې واقع يو له يوې خوا د الله له لورې امتحان دی او له بل لورې زموږ د کميو او نقصونو له امله هم دی.

**تبليغ:** دا پيغام خلکو ته ورسوئ او له هغوی سره مرسته وکړئ چې تل د الله ستاينه وکړئ او د هغه شکر اداء کړي.

<u>**ګرامر:**</u> دلاندې فعلونو لاندې ۲۱ بڼې تمرين کړئ:

**ضَرَبَ(ض)** د دې فعل مختلفې بڼې په قرآن کريم کې **۵۸ ځله** راغلې دي.

| فِعْلمَاضِي | فِعْلمُضَارِع | | |
|---|---|---|---|
| **ضَرَبَ** هغه وهل وکړل | **يَضْرِبُ** هغه وهل کوي وهل به وکړي | ضَرَبَ،يَضْرِبُ،**اِضْرِبْ** | |
| **ضَرَبُوْا** هغوی وهل وکړل | **يَضْرِبُوْنَ** هغوی وهل کوي وهل به وکړي | أمْر | نَهْي |
| **ضَرَبْتَ** تا وهل وکړل | **تَضْرِبُ** ته وهل کوې وهل به وکړې | **اِضْرِبْ** ووهه! يا وهل وکړه! | **لَاتَضْرِبْ** مه وهه! |
| **ضَرَبْتُمْ** تاسو وهل وکړل | **تَضْرِبُوْنَ** تاسو وهل کوئ وهل به وکړئ | **اِضْرِبُوْا** ووهئ! | **لَاتَضْرِبُوْا** وهل مه کوئ! |
| **ضَرَبْتُ** ما وهل وکړل | **أَضْرِبُ** زه وهل کوم وهل به وکړم | **ضَارِب:وهوونکی**<br>**مَضْرُوب: هغه چې وهل کيږي**<br>**ضَرْب: وهل** | |
